# ستراتیژیک پلان

(۱۳۹۶-۱۳۹۹ مالي کال)

## د دوامدارې اقتصادي ودې پیاوړتیا او د مالي خدمتونو پراختیا



**د مطالبو لړلیک**


**د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام**........................................الف

**I. د افغانستان بانک رسالت، لید لوری او بنسټیز ارزښتونه**..........................۱

الف ـ د افغانستان بانک رسالت..........................................................۱

ب ـ د افغانستان بانک لید لوری.........................................................۱

ج ـ د افغانستان بانک بنسټیز او محوري ارزښتونه.......................................۱

**II. د دویم ستراتیژیک پلان لنډه پیژندنه**...................................................۳

**III. د هېواد اقتصادي شرایط**........................................................................۶

الف ـ لید لوری .........................................................................................۶

ب ـ د لوی اقتصاد کړنې..............................................................................۸

۱. اقتصادي وده ........................................................................................۸

۲. د پولي پړسوب (انفلاسیون) نرخ.........................................................۱۰

۳. د افغانۍ د مبادلې نرخ .........................................................................۱۱

۴. د پولي او بانکي سکتور کړنې.................................................................۱۲

۵. د بهرني سکتور کړنې..............................................................................۱۳

۶. د افغانستان بانک اسعاري زېرمې...........................................................۱۵

۷. د ملي سکتور کړنې.................................................................................۱۵

ج ـ د لوی اقتصاد منځمهاله لید لوری..........................................................۱۷

**IV. ننګونې او فرصتونه**.............................................................................۲۱

الف ـ بالقوه بهرنۍ ننګونې........................................................................۲۱

ب ـ کورنۍ ننګونې......................................................................................۲۳

ج ـ فرصتونه..............................................................................................۲۴

**V.** **لومړی ستراتیژیک اصل: د دوامدارې اقتصادي ودې او ټیکاو د ملاتړ په موخه د پولي سیاست د اغیزې پیاوړتیا** ........ ۲۷
الف ـ د لومړي اصل تعریف ........ ۲۷
ب ـ د لومړي اصل موخې ........ ۲۷
ج ـ د لومړي اصل اړوندې کړنې ........ ۲۷
**VI.** **دویم ستراتیژیک اصل: د مالي نظام د ټیکاو د تأمینولو په موخه د حقوقي، مقرراتي او څارنیزو بېخبنسټونو او اداني ټینګښت** ........ ۳۷
الف ـ د دویم اصل تعریف ........ ۳۷
ب ـ د دویم اصل موخې ........ ۳۷
ج ـ د دویم اصل اړوندې کړنې ........ ۳۷
**VII.** **دریم ستراتیژیک اصل: د مالي خدمتونو پراختیا** ........ ۵۳
الف ـ د دریم اصل تعریف ........ ۵۳
ب ـ د دریم اصل موخې ........ ۵۳
ج ـ د دریم اصل اړوندې کړنې ........ ۵۳
**VIII.** **څلورم ستراتیژیک اصل: د ورکړې د نظام خوندیتوب او د اغیزناکې ټینګښت او د بیه لرونکو پاڼو لپاره د یو مرکزي سیستم جوړول** ........ ۵۷
الف ـ د څلورم اصل تعریف ........ ۵۷
ب ـ د څلورم اصل موخې ........ ۵۷
ج ـ د څلورم اصل اړوندې کړنې ........ ۵۷
IX. **پنځم ستراتیژیک اصل: د اداري اغیزناکۍ زیاتوالی او ساتل او د اصلي کړنو له دوام څخه د ډاډ ترلاسه کول** ........ ۶۳
الف ـ د پنځم اصل تعریف ........ ۶۳

ب ـ د پنځم اصل موخې.......................................................٦٣
ج ـ د پنځم اصل اړوندې کړنې.......................................................٦٣
X. شپږم ستراتيژيک اصل: د فزيکي بېخبنسټونو پراختيا او د معلوماتي او ارتباطي تکنالوژۍ د سيستمونو لوړول او د امنيت ټينګښت.......................................................٦٨
الف ـ د شپږم اصل تعريف.......................................................٦٨
ب ـ د شپږم اصل موخې.......................................................٦٨
ج ـ د شپږم اصل اړوندې کړنې.......................................................٦٨
XI. اووم ستراتيژيک اصل: د اغيزناکۍ د زياتيدو او د کارکوونکو د ودې لپاره د زمينې د برابرولو په موخه د بشري منابع د مديريت د سيستم ښه والى.......................................................٧٢
الف ـ د اووم اصل تعريف.......................................................٧٢
ب ـ د اووم اصل موخې.......................................................٧٢
ج ـ د اووم اصل اړوندې کړنې.......................................................٧٢

## XII. د ملپاڼو لړلیک


لومړۍ ملپاڼه: د پولي سیاست د لوی آمریت کاري پلان.......................................۷۷

دویمه ملپاڼه: د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت کاري پلان..............................۷۷

دریمه ملپاڼه: د بازار عملیات د لوی مدیریت کاري پلان ....................................۷۸

څلورمه ملپاڼه: د خطرونو ادارې د مدیریت کاري پلان.......................................۷۸

پنځمه ملپاڼه: د ادارینو د لوی مدیریت کاري پلان ..........................................۷۹

شپږمه ملپاڼه: د بشري منابع د لوی آمریت کاري پلان.......................................۷۹

اوومه ملپاڼه: د ټولو ناظر د ادارې کاري پلان...................................................۸۰

اتمه ملپاڼه: د حقوقي مشاوریت د ادارې کاري پلان ...........................................۸۰

نهمه ملپاڼه: د معلوماتي تکنالوژۍ د لوی مدیریت کاري پلان...............................۸۱

لسمه ملپاڼه: د عامه اعتبارونو د ثبت د لوی آمریت کاري پلان..............................۸۱

یوولسمه ملپاڼه: د فنټراکا د ادارې کاري پلان...................................................۸۲


دولسمه ملپاڼه: د افغان امانتونو د بیمې د ادارې (ADIC) کاري پلان.......................۸۲

دیارلسمه ملپاڼه: د اسنادو او اړیکو د لوی آمریت کاري پلان...............................۸۳

څوارلسمه ملپاڼه: د مالي خدمتونو د پراختیا د لوی آمریت کاري پلان.....................۸۳

پنځلسمه ملپاڼه: د افغانستان بانک د لومړي ستراتیژیک پلان د لاسته راوړنو او اجرااتو ارزونه..............۸۴

## د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام



مناسبه اقتصادي وده، دوامداره پرمختیا او پـر ځـان بسـیاینـه؛ مناسبو او مساعدو زمینو لکه، د لوی اقتصاد د ټیکاو (د بیو ټیکاو، د اقتصادي بېخبنسټونو پرمختـیا، سـاتـنـه او لوړول، د مالي نظام او بانکي سکتور سلامتیا او خـونـدیـتوب) تـأمینولـو او ساتـلو تــه اړتیا لـري. د اقتصادي ودې، دوامـدارې پـرمختـیا او د اقتصادي سوکالی پر لور د هېواد د حـرکـت پـه لاره کـې د افغانستان بانک د یوې متولي اداري په توګه د افغانستان د پولـي او اسعاري سیاست د طرحه کولو، تدوین او پلي کولو ترڅنګ د هېواد د مالي او بانکي سکتور د تنظیمولو او څارنې او د هغه د سلامتیا او ټیکاو د تأمینولو په بـرخـه کې خورا ستر رول او مسئولیت پر غاړه لري.

د دې مهم رول لوبول او د دې دروند مسئولیت اداء کول؛ د مالي او بانکي سکتور د اوسني وضعیـت او په دې سکتور کې د شته تشو، کمزورتیاوو او نیمګړتیاوو په اړه دقیقې او ژورې پوهیدنې تـه اړتـیا لري. همدا ډول دا بانک د مالي، محیطي او بشري امکاناتو او پتانیسل په اړانه کې د لومـړیـتـوبـونـو د پیژندلو او ټاکلو او د مناسبو، اغیزناکو او وړ پروګرامونو د طرحې، تدوین او ترلاس لاندې نـیـولـو لـه لارې د مطلوب لید لورې په جوړولو کې ډیره ارزښتمنه برخه لري چې د سم او دقیق درک په درلودلو دا پروګرامونه او لید لورې مخې ته بیایي.

دا پلان چې د افغانستان د سولې او پرمختیا له ملي اړانې سره سم او په همغږۍ کـې جوړ شوی دی، د افغانستان بانک د ستراتیژیک لید لورې، لومړیتوبونو او کړنو ترڅنګ پــه راتلونکو څلورو کلونــو کې د دې بانک تګلاره رانغاړي.

دا پلان د راتلونکو څلورو کلونو په اوږدو کې د بیو د ټیکاو د ټینګښت او د یو ټینګ مالي سیستم د پیاوړتیا او پــراختیا او د افغانستان بــانک د مـاموریـت د تحقق په برخه کې د دې بانک د حـرکـت

لوری څرګندوي او تشریح کوي. بې له شکه دا پلان چې د دې بانک اصلي موخو ته د رسیدو لپاره د افغانستان بانک د بنسټیزې تګلارې ښکارندوی دی، نه یوازې په پولي او بانکي برخه کې بلکې د هېواد د لوی اقتصاد د سیاستونو په طرحه او اجراء کې هم خورا ډېر ارزښت لري. دا پلان د هېواد د اقتصادي او پولي لویو سیاستونو د موخو د عملي کیدو په برخه کې چې د بیو ټیکاو، اقتصادي وده او د استخدام مطلوبه کچه رانغاړي، د افغانستان بانک ژمنه منعکسوي. سربېره پر دې، د بانکي نظام سالمې او مطلوبې کړنې چې وکولای شی د هېواد په تولیدي، خدماتي او د پانګونې په برخو کې اوسنیو اړتیاوو ته ځواب ورکوونکی وي، هم د افغانستان بانک له بنسټیزو موخو څخه دي چې په دې پلان کې منعکس شوي دي.

دا پلان چې د افغانستان بانک له لومړي ستراتیژیک پلان وروسته جوړ شوی دی، د دې بانک د بېلابېلو ادارو او شعبو د پلانونو ترڅنګ اوه ستراتیژیک اصول لکه؛ (د پولي سیاست د اغیزناکې لوړول، د حقوقي، مقرراتي، څارنیزې اډانې سمون او پیاوړتیا، مالي خدمتونو ته د لاسرسۍ پراختیا، د ورکړې د نظام او د خطرونو د مدیریت د ګټورتیا زیاتوالی، د محاسباتي میکانیزمونو لوړول، بودجه جوړونه او داخلي پلټنه او د معلوماتي تکنالوژۍ د بېخبنسټونو او سیستمونو لوړول او د امنیت ټینګښت د بشری منابع د مدیریت د سیستم ښه والی) رانغاړي. د هر اصل لاندې موخې او د هرې موخې لاندې کړنې د هغه د نوعیت او منځپانګې په پام کې نیولو سره تنظیم او ډله بندي شوي دي.

د افغانستان بانک د ټولو اقداماتو بنسټ باید د بنسټیزو ارزښتونو یوه ټولګه وي چې دا بنسټیز ارزښتونه د خلکو د ګټې د خوندیتوب لپاره ژمنتیا، مشتریانو ته د ورخدمتونو وړاندې کول، اخلاق او رښتینوالي، په چارو کې روڼتیا، د ګټورې رهبرۍ پیاوړتیا او د ګډ کار د کلتور دودول، د عدالت او برابرۍ د اصل رعایتول او د محرمیت ساتل رانغاړي. د ستراتیژیک پلان په ترتیبولو کې دا بنسټیز ارزښتونه د دې لپاره په پام کې نیول شوي څو د افغانستان بانک وکولای شي د هغه په رڼا کې خپل اقدامات ترتیب او خپلې موخې ترلاسه کړي. د دې بانک ټول کارکوونکي اړ دي څو په خپلو کړنو او کاري اجرااتو کې پورته یاد شوي بنسټیز اصول په پام کې ونیسي.

دا پلان به د کلني کاري پلانونو د تطبیق په اړانه کې پلي شي او د هر ډیپارټمنټ د کلني کاري پلان تخصیص شوې منابع به د دې ستراتیژیک پلان د لومړیتوبونو په پام کې نیولو سره ځانګړې شي. له بلې خوا، د دې پلان د پرمختګ کچه د کمي شاخصونو د څېړنې له لارې ټاکل کیږي او په درې میاشتني، شپږ میاشتني او کلني توګه به سنجش او تر څېړنې او ارزونې لاندې ونیول شي.

د دې پلان په ترتیبولو کې د افغانستان بانک د بېلابېلو کچو مسئولینو او کارکوونکو برخه اخیستې ده. له فرصت څخه په ګټې اخیستنې سره باید له ټولو هغو کارکوونکو څخه چې د دې مهم سند په طرحه، تدوین او جوړولو کې یې برخه اخیستې، مننه وکړم. بې له شکه چې د دې پلان چمتو کول د افغانستان بانک د کارکوونکو په ځانګړې توګه د پولي سیاست د لوی آمریت او د اسنادو او اړیکو لوی آمریت د یو شمېر تجربه لرونکو کارکوونکو له نه ستړي کیدونکو هلو ځلو پرته ناشونی ؤ. د افغانستان بانک د دې مهم سند په جوړولو او ترتیبولو کې د دوی له زیار او هڅو څخه مننه کوي.

خلیل صدیق

د افغانستان بانك لوی رئیس

## I. د افغانستان بانک رسالت، لید لوری او بنسټیز ارزښتونه

د افغانستان بانک؛ د افغانستان، مرکزي بانک دی. دا بانک د هېواد د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د شاهي فرمان پر بنسټ په ۱۳۱۸ هجري لمریز کال کې تاسیس شو چې د ۱۳۸۲/۱۱/۸ کال د تصویب شوي اساسي قانون په ۱۲ ماده کې د هېواد د مرکزي بانک په توګه نومول شوی دی.

### الف ـ د افغانستان بانک ماموریت

د افغانستان بانک له قانون (۱۳۸۲/۱۱/۳۰) سره سم، د پولي ثبات تأمینول ( د بیو د عمومي کچې ټیکاو او د مبادلې نرخ د زیاتو نوسانونو مهارول) د یو ټینګ، عصري او سالم مالي سیستم جوړول، د سیالیت تأمینول او د اقتصادي ودې د اسانتیا، د دوامداري پرمختیا او د سوکالۍ د تأمینولو د ملاتړ په موخه د ورکړې د یو خوندي او اغیزناکه ملي سیستم جوړول او پرمختیا د افغانستان بانک ماموریت ګڼل کیږي.

### ب ـ د افغانستان بانک لید لوری

د افغانستان بانک لید لوری، د دې پلان د بشپړولو په موده کې د هغه مالي اداري له لید لوري سره برابر، وړ او جوړ دی چې نړیواله آزمایل شوي طریقې او کړنلارې د بیو ټیکاو او د سالم مالي سیستم پیاوړتیا لپاره کاروي.

### ج ـ د افغانستان بانک بنسټیز او محوري ارزښتونه

بنسټیز ارزښتونه د افغانستان بانک د اجرااتو بنسټ جوړوي. دا ارزښتونه د افغانستان بانک د پېژندلو او د حرکت او بهیر لاره منعکسوي. د افغانستان بانک ټول کارکوونکی اړ دی چې د خپلو هرې دندې په ترسره کولو کې د بانک بنسټیز او محوري ارزښتونه په پام کې ونیسي.

د افغانستان بانک بنسټیز ارزښتونه په لاندې ډول دي:

**۱. د عامه خلکو د ګټو لپاره د خدمت ژمنه**

د افغانستان بانک د عامه اړتیاوو پوره کولو ته ژمن دی.

**۲. د اړوندو مراجعو او شریکانو د ګټو په پام کې نیول**

د افغانستان بانک اړ دی څو خپلو شریکانو لکه؛ خلکو، ملي شورا او حکومت ته ( چې د افغانستان بانک یې د پولي استازي په توګه کار کوي) تر ټولو ښه خدمتونه وړاندې کړي.

**۳. اخلاق او ریښتینوالی**

د افغانستان بانک او د هغه کارکوونکي په خپلو ټولو کړنو کې د مسلکي اخلاقو او ریښتینوالۍ رعایتولو ته ژمن دي.

**۴. روڼتیا**

د افغانستان بانک د روڼتیا او حساب ورکوونې تأمینولو ته ژمن دی او د خلکو لخوا د خپلو

ټولو کړنو ځارنې ته ښه راغلاست وايي.

**۵. بېلګه ایزه رهبري**

د افغانستان بانک ژمن دی چې په اداري او انفرادي کچه د غوره کړنو په ترسره کولو سره خپل مقام د بېلګې په توګه تثبیت کړي.

**۶. ډله ایز کار**

د افغانستان بانک ژمن دی څو د دې اداري په بېلا بېلو برخو کې د ډله ایزه کار فرهنګ دود کړي.

**۷. مساوات او عدالت**

د افغانستان بانک له خپلو مشتریانو، کارکوونکو او نورو شریکانو سره د منصفانه چلند د رعایتولو اصل ته چې له هر ډول تبعیض، تعصب او غیر مسلکي ملاحظاتو خالي وي، ژمن دی. دا چلند د مناسب کاري چاپیریال رامنځته کول او د جنسیت (جندر) په اړه حساسیت هم رانغاړي.

**۸ محرمیت**

د افغانستان بانک د خپلو ټولو مشتریانو، کارکوونکو او له نورو شریکانو سره په ټولو چارو (اړیکو او معاملو ) کې د محرمیت ساتلو ته ژمن دی.

## II. د دويم ستراتيژيک پلان لنډه پيژندنه

دا سند د افغانستان بانک څلور کلن ۱۳۹۶ـ۱۳۹۹ (۲۰۱۷ـ ۲۰۲۰) ستراتيژيک پلان رانغاړي چې د افغانستان بانک د کړنو لوری ټاکي.

دا پلان د لومړي ستراتيژيک پلان په دوام او د دې اداري د نوي ستراتيژيک پلان د لومړيتوبونو د ټاکلو په موخه جوړ شوی دی. له دې ستراتيژيک پلان څخه به په راتلونکي څلورو کلونو کې د لوري د پيژندلو او د کړنو د ښه والي ترڅنګ د سرچينو د اغيزناکه کارونې په موخه کار اخيستل کيږي. په دې پلان کې ارزښتونه، ليد لوری، ماموريت او اړوندې کړنې د بيا لپاره تر څيړنې او ارزونې لاندې نيول کيږي.

د بيو د ټيکاو ساتل او د هېواد د مالي نظام د ټيکاو تأمينول د افغانستان بانک اصلي ماموريت ګڼل کيږي. دا ماموريت د افغانستان بانک د اصلي ارزښتونو په رڼا کې چې د خلکو د ګټو خونديتوب، ښه چلند او ريښتينوالي، د اړوندو مراجعو او شريکانو د ګټو په پام کې نيول، روڼتيا، بيلګه ايزه رهبري، ډله ايز کار، عدالت او برابري او محرميت ته ژمنتيا رانغاړي، ترسره کيږي.

په هېواد کې د يو واکمني پولي اداري په توګه د افغانستان بانک ليد لوری، د هغه مالي اداري ليد لوری دی چې نړيواله ازمايل شوې طريقې او کړنلارې د بيو ټيکاو او د سالم مالي سيستم د پياوړتيا لپاره کاروي او د پراخه اقتصادي ودې او د خصوصي سکتور پراختيا لپاره زمينه برابروي.

د افغانستان بانک د ستراتيژيک پلان اډانه په لاندې اوو ستراتيژيکو اصولو ولاړه ده:

**لومړی ستراتيژيک اصل:** د اقتصادي ودې او ټيکاو د ملاتړ په موخه د پولي سياست د اغيزې پياوړتيا؛

**دويم ستراتيژيک اصل:** د مالي نظام د ټيکاو د تأمينولو او د هېواد په بانکي سيستم باندې د خلکو د اعتماد د زياتيدو په موخه د حقوقي، مقرراتي او څارنيزو بېخبنستونو او اډانې ټينګښت؛

**دريم ستراتيژيک اصل:** د مالي خدمتونو پراختيا؛

**څلورم ستراتيژيک اصل:** د ورکړې د نظام د خونديتوب او اغيزناکې ټينګښت او د ورکړې په سيستم کې د احتمالي خطرونو د مخنيوی او کنټرول او د بيه لرونکو پاڼو لپاره د مرکزي سيستم جوړول؛

**پنځم ستراتيژيک اصل:** د اداري اغيزناکې زياتول او ساتل او د اصلي کړنو او د اداري او عملياتي ميکانيزمونو د لوړولو له دوام څخه ډاډ ترلاسه کول؛

**شپږم ستراتیژیک اصل:** د فزیکي بېخبنسټونو پراختیا او د معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژۍ د بېخبنسټونو او سیسټمونو لوړول او د امنیت ټینګښت؛ او

**اووم ستراتیژیک اصل:** د اغیزناکۍ د زیاتیدو او د کارکوونکو د ودې لپاره د زمینې د برابرولو په موخه د بشري منابع د مدیریت د سیسټم ښه والی؛

د لومړي اصل پر بنسټ، د افغانستان بانک د هېواد د اقتصادي ودې او ټیکاو په ملاتړ د پولي سیاست د اغیزناکۍ د ښه والي او لوړولو په موخه د پولي او اسعاري سیاست اډانه او د خپلو ابزارونو متنوع والي تر کتنې او څېړنې لاندې نیسي او په همدې ترتیب، له مستقیمو او غیر مستقیمو ابزارو لکه؛ د ازاد بازار عملیات، الزامي زېرمو او د پور د اسانتیا او داسې نورو ابزارو څخه د مطالعو، تحلیلونو او مخکتونکو اقتصادي موډلونو په کارولو سره ګټه اخلي او همدا ډول د خپلو تحلیلونو او مطالعو کیفیت لوړوي.

د دویم اصل پر بنسټ، د افغانستان بانک د مالي نظام د ثبات د تأمینولو او د هېواد په بانکي نظام باندې د خلکو د باور د زیاتولو په موخه بېخبنسټونه او حقوقي، مقرراتي او څارنیزې اډانې پیاوړې کوي. په دې برخه کې د شته ننګونو د رفع کولو په موخه، د افغانستان بانک هغه موخې ځانګړې کوي چې د هغه پر ترڅ کې شته قوانین او مقررې د افغانستان د بانکدارۍ او مالي سیسټم له مناسبو طریقو سره سم ښه والي ومومي، د خطر پر بنسټ څارنیز سیسټم (د خطر پر بنسټ ارزونه) د څارنیز سیسټم برخه شي چې دا کار په بانکي سیسټم باندې د خلکو د باور د زیاتیدو لامل کیږي.

د دریم اصل پربنسټ، د افغانستان بانک پریکړه کړې ده چې د محصولاتو او مالي خدمتونو په متنوع والي او همدا ډول له مالي خدمتونو څخه محرومې ډلې لکه؛ کورنۍ او کوچني او منځني شرکتونو په پام کې نیولو سره نوي بازارونه جوړ؛ مالي خدمتونو ته د خلکو لاسرسي اسانه او د عصري بانکي خدمتونو ډولونه پراخه کړي. سربېره پردې، تر همدې اصل لاندې د افغانستان بانک خلکو او ټولو کارونکو ته د دوی د پوهاوي د کچې د زیاتولو په موخه د مالي او بانکي روزنیزو پروګرامونو د وړاندې کولو په برخه کې د مالي خدمتونو په اړه تمرکز کوي.

د څلورم اصل پر بنسټ، د افغانستان بانک د ورکړې د نظام د خوندیتوب او اغیزناکۍ د ټینګښت او د ورکړې په سیسټم کې د احتمالي خطرونو د مخنیوی او کنټرول په موخه د بیه لرونکو پاڼو لپاره مرکزي سیسټم جوړوي.

د پنځم اصل پر بنسټ، د افغانستان بانک د

اداري اغیزناکی د زیاتولو او ساتلو او د اصلي کړنو له دوام څخه د ډاډ د ترلاسه کولو په موخه مالي او عملیاتي سیستم او داخلي تفتیش پیاوړي کوي او د افغانستان بانک د پانګه اچونو مدیریت لا ښه کوي.

د شپږم اصل پربنسټ، د افغانستان بانک د مناسب کاري چاپیریال د رامنځته کولو او د معلوماتي او ارتباطي تکنالوژی یا ICT د سیستمونو د لا اغیزناکی او خوندیتوب په موخه فزیکي بېخبنسټونه او معلوماتي تکنالوژي پیاوړي کوي.

د اووم اصل پربنسټ، د افغانستان بانک د اغیزناکی د زیاتولو او د کارکوونکو د ودې لپاره د زمینې د برابرولو په موخه د شته پالیسیو او لوایحو د طرحې او تعدیلولو، کارکوونکو ته د رزونیزو فرصتونو د برابرولو او تشویقي پروګرامونو د جوړولو له لارې د بشري منابع د مدیریت سیستم پیاوړی کوي.

په ستراتیژیک پلان کې ځانګړي شوي اصول د افغانستان بانک د بنسټیز ماموریت په رڼا کې د بیو د ټیکاو ساتل او د مالي نظام د ټیکاو د تأمینولو پر بنسټ له یو بل سره همغږي دي. په دې پلان کې د مالي نظام د ټیکاو د ساتلو او مالي خدمتونو ته د لاسرسی د پراختیا طرحه چې د هېواد د اقتصادي ودې مخکني شرطونه ګڼل کیږي، یاده شوې ده.

پورته سند د بېلابېلو څپرکو په درلودلو سره د اوو ستراتیژیکو اصولو د اړوندو موخو او کړنو توضیحات رانغاړي او یو څپرکی یې هم د افغانستان بانک اصلي ارزښتونه، لید لوری، ماموریت او ستراتیژیکې موخې وړاندې کوي.

د افغانستان بانک د حساب ورکونې او راپور ورکونې د یو روڼ او فعاله سیستم د تأمینولو په موخه چې وکولای شي د خلکو قناعت ترلاسه کړي، د یو معتبر ملي سند په توګه د دې سند په عملي کولو مکلف دی.

## III. د هېواد اقتصادي شرایط

### الف ـ لید لوری

انتقالي حکومت په داسې حال کې خپل کار پیل کړو چې د افغانستان اقتصاد د څو لسیزو جګړو له امله د رکود په حال کې ؤ. د هېواد ډېرى بېخبنسټیز او اقتصادي بنسټونه په زیاته اندازه خراب او یا په بشپړه توګه له منځه تللي ؤ، د ډېرو صنعتي مرکزونو او فابریکو فعالیتونه ځنډول شوي او ډېرى مواصلاتي او ترانزیټي لویې لارې معیاري نه وې. د لازمه بنسټونو نه شتون لامل شو څو د بېلابېلو سکتورونو اقتصادي کړنې په بشپړه توګه وځنډېږي او یا يې کچه د پام وړ راټیټه شي. د کرنې سکتور د کمو تولیداتو پرته د صنعت او خدمتونو سکتورنه تقریباً په کورني ناخالصه تولیداتو کې هیڅ ونډه نه درلوده. د بیکارۍ کچه خپل لوړ حد ته رسیدلې وه او په هېواد کې د بې وزلۍ کچه د پام وړ زیاتوالی موندلی ؤ.

په ۲۰۰۲ کال کې د بُن د کنفرانس او د موقتي اداري له جوړویدو وروسته د اقتصادي پراختیا او ځان بسیاینې په موخه د هېواد د اړینو بېخبنسټونو بیارغول او جوړول په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې د پرمختیایي پروګرامونو د لیست په سر کې واقع شول. له هغه ځایه چې پرمختیایي موخو ته د رسیدو لپاره یو پیاوړي او ګټور مالي او بانکي سیستم شتون ته اړتیا وه، نو په هېواد کې د یو خپلواک مرکزي بانک په توګه د افغانستان بانک او د پیاوړي مالي سیستم جوړول د افغانستان د اسلامي جمهوری دولت له لومړیتوبونو څخه ګڼل کیږي. د خپلواک مرکزي بانک په توګه د افغانستان بانک له جوړیدو وروسته چې عمده موخه یې د کورنیو بیو د ټیکاو ساتل او د یو پیاوړي مالي سیستم رامنځته کول جوړوي، د پولي واحد د ریفورم تطبیقول د مهمو اړتیاوو له ډلې څخه ګڼل کیده.

د افغانی د پولي واحد سمون چې په ۱۳۸۱ کال کې په بریالیتوب سره ترسره شو، د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له مهمو لاسته راوړنو څخه ګڼل کیږي چې لامل شو څو په هېواد کې د پیسو د خپرويد سرچینه مرکزي شي او په اقتصاد کې د پیسو د عرضې کچه د هېواد د اقتصادي اړتیاوو او ضرورتونو سره سم د افغانستان بانک لخوا تعیین او کنټرول شي او په همدې ترتیب په هېواد کې شته پولي پړسوب چې په ۱۳۸۱ کال کې ۶۰۰ سلنې ته رسیده، مهار شي. له همدې امله په ۱۳۸۱ کال کې د ملي پیسو بریالی سمون کولای شو په ملي کچه د یوې مهمې موخې ترلاسه کول وګڼو.

د افغانستان بانک له ۱۳۸۱ کال څخه تر ۱۳۸۹ کاله پورې په ګردښت کې پیسې

(in Circulation Currency) د نقدینه ګۍ د سنجش د شاخص په توګه ټاکلې وې چې د هېواد د اقتصادي کړنو او همدا ډول د هېواد په بانکي سکتور کې د پام وړ پراختیا په پام کې نیولو سره له ۱۳۸۹ کال راپدېخوا د پولي زېرمو کچه (Reserve Money) د نقدینه ګۍ د سنجش د شاخص په توګه ترلاس لاندې نیولې او د هغه کچه د هېواد د اقتصادي ودې د کچې په پام کې نیولو سره ټاکي. همدا ډول له هغه ځایه چې هېواد د مالي نظام پرمختیا او له نړیواله پرمختللي مالي نظامونو سره د هغه همغږۍ ته شدیده اړتیا لري، د افغانستان بانک په پراخه او نه ستړې کېدونکو هلو ځلو سره وتوانید څو د هېواد مالي نظام له نړیوالو معیارونو سره همغږی کړي او د یو پیاوړي مالي نظام د جوړولو او پرمختیا لپاره بنسټیز بېخبنسټونه رامنځته کړي. د یادونې وړ ده چې په ۱۳۸۲ کال کې د انتقالي اداري په پیل کې یوازې دوو دولتي بانکونو او دوو خصوصي بانکونو هېوادوالو ته خدمتونه وړاندې کول. له ۱۳۸۲ کال وروسته د کلونو په اوږدو کې د دې بانکونو شمېر د پام وړ زیات شو او تر ۱۳۹۲ کاله پورې ۱۶ بانکونو ته ورسیده. همدا ډول د خلکو او شرکتونو د امانت ایښودونکو شمېر هم په ۱۳۸۷ کال کې ۸۴۹،۷۰۵ ته رسیده چې دا شمېره په ۱۳۹۲ مالي کال کې ۲،۶۹۵،۱۳۹ امانت ایښودونکو ته زیاته شوې ده.

د ډېبټ کارت او کریډېټ کارت د کاروني خدمتونه هم په ۱۳۸۹ کال کې د هېواد د سوداګریزو بانکونو لخوا خپلو مشتریانو ته وړاندې شو او شاوخوا ۳۷،۹۵۰ تنه د ډېبټ کارت له خدمتونو او ۸۵۳ تنه د کریډېټ کارت له خدمتونو ګټه پورته کوله. په ۱۳۹۲ کال کې د ډبېټ کارت د مشتریانو شمېر زیاتوالی مونده او ۱۲۷،۴۷۱ تنو ته ورسیده. همدا ډول د افغانستان بانک د عاجل، اسانه او ساده پولي خدمتونو د اسانتیاوو د برابرولو په موخه ټولو کاروونکو دواړه مشتریانو او شرکتونو لپاره په ۱۳۹۱ کال کې د الکترونیکي پیسو اداره جوړه کړه چې دوو شرکتونو ام–حواله د اتصالاتو مخابراتي شرکت او ام ـ پیسه د روشن مخابراتي شرکت له دې اداري څخه د الکترونیکي پیسو د خدمتونو د سیستم د فعالیت جواز ترلاسه کړ.

د دې لاسته راوړنو سربېره، د افغانستان بانک په ښه ډول د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو په موخه په ۱۳۸۷ کال کې خپل لومړی پنځه کلن ستراتیژیک پلان ترتیب کړ چې بنسټیزې موخې یې د پولي سیاست ښه تطبیق، د یو پیاوړي او ګټور مالي سیستم جوړول او د ظرفیتونو لوړول رانغاړي. د هېواد له ټولو ننګونو، ستونزو او ناوړه شرایطو سره، د افغانستان بانک د لومړي

ستراتيژيک پلان په پلي کولو کې تر ډېره بريده بريالی دی. له همدې کبله د افغانستان بانک د راتلونکو څلورو کلونو لپاره ( ۱۳۹۶ – ۱۳۹۹ ) د دويم ستراتيژيک پلان د ترتيبولو بهير تر لاس لاندې نيولی چې له مخکني پلان څخه د ترلاسه شويو تجربو په پام کې نيولو سره، تمه کيږي چې پلان شوې موخې او کړنې په دې ستراتيژيک پلان کې په ښه او اغيزناکه توګه تطبيق او عملي شي.


## ب ـ د لوی اقتصاد کړنې

### ۱. اقتصادي وده

د افغانستان اقتصاد له يو اوږد مهاله سياسي - اقتصادي انزوا وروسته او په داسې شرايطو کې چې ټول اقتصادي بېخبنسټونه او تأسيسات يې خراب او ويجاړ شوي ؤ، په ۱۳۸۱ کال کې د يو بشپړ نوي او متفاوته اقتصاد په توګه راڅرګند شو. افغانستان ته د نړيوالې ټولنې پاملرنه لامل شوه څو دې هېواد ته مرستې زياتې شي او د دې هېواد نوی پر پښو ودريدلی اقتصاد ورو ورو د غوړيدا او ودې پر لور بوځي. خو سره له دې هم په دې هېواد کې د کافي ظرفيت د نه شتون له امله يو سالم او اغيزناکه اقتصادي نظام چې وکولای شي پر ځان بسيا وي، جوړ شوی نه دی. له همدې امله د افغانستان اقتصاد د تيرو پنځلسو کلونو په اوږد کې توانيدلی نه دی چې په يو ځان بسيا او پياوړي اقتصاد باندې چې وکولای شي کورنی اړتياوې له منځه يوسي، تبديل شي.

د افغانستان اقتصادي ودې له ۱۳۸۸ کال څخه تر ۱۳۹۱ کاله پورې لوړيدونکی بهير درلودلی دی. خو له دې کال وروسته د هېواد اقتصادي وده د بېلابېلو لاملونو لکه؛ پرله پسې وچکالی، نامناسبه سياسي او امنيتي وضعيت چې د پانګه اچونې د کموالي او له هېواد څخه د پانګې د تيښتې لامل شوی، ټيټيدونکی بهير درلودلی دی. د هېواد د اقتصادي ودې اوسط له ۱۳۸۸ کال څخه تر ۱۳۹۴ کاله پورې شاوخوا ۶.۶ سلنې ته رسيده چې تر ټولو لوړ اوسط يې په ۱۳۸۸ کال کې ۱۷.۲۲ سلنه ثبت شوی دی، خو دا شمېره په ۱۳۹۴ مالي کال کې د نشه يي توکو په ګډون منفي ۲.۴ سلنې ته راکمه شوې ده. د مرکزي احصائيې د شمېرو پر بنسټ، د کورني ناخالصه توليداتو(GDP) وده د نشه يي توکو په پام کې له نيولو پرته په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۰.۹ سلنې ته رسيده چې دا شمېره په تير کال کې ۲.۱ سلنه محاسبه شوې ده.

۱ ګراف: د کورني ناخالصه توليداتو د ودې سلنه





سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک

* د نشه يي توکو د توليداتو په پام کې له نيولو پرته

پــه کورني نــاخالصه تــوليداتو (GDP) کې د مهمو اقتصادي سکتورونو د ونډې له مخې پـه ۱۳۹۴ مالي کال کې تر ټولو زياتـه ونـډه د خدمتونو سکتور ۵۲.۳ سلنه درلودلې ده. وروسته د صنعت او کرنې سکتورونو په کورني ناخالصه توليداتو کې په ډېر کم توپير په ترتيب سره ۲۲.۱۳ سلنه او ۲۲.۱۲ سلنه ونډې درلودلې دي.


**۲ ګراف: د بېلابېلو کلونو په اوږدو کې په کورني ناخالصه توليداتو کې د اقتصادي سکتورونو ونډه**




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک

په ۱۳۹۴ مالي کال کې د کورني ناخالصه توليداتو وده په ټوليزه توګه راکمه شوې ده. د احصائيې د مرکزي اداري لخوا خپرې شوې شمېرې ښکاره کوي چې د افغانستان اقتصاد په دې موده کې منفي ۲.۴ سلنه وده کړې ده. د صنعت له سکتور پرته نورې اقتصادي برخې د تير کال په پرتله کمزوره کړنې ښکاره کوي. د کرنې سکتور په ۱۳۹۴ مالي کال کې منفي ۱۶.۹ سلنه وده په ګوته کوي، حال دا چې دا شمېره په تير کال (۱۳۹۳) کې ۳.۷ سلنه ثبت شوې ده. همدا ډول د خدمتونو د سکتور وده د ۱۳۹۳ کال له ۲.۲ سلنې څخه د ارزونې لاندې کال کې ۱.۳ سلنې ته کمه شوې ده. له بلې خوا د صنعت د سکتور وده د خوراکي او ودانيزو توکو د توليداتو د برخو د ودې له کبله زياته شوې او له ۲.۴ سلنې څخه ۴.۵ سلنې ته رسيدلې ده.

**۳ ګراف: په کورني ناخالصه توليداتو کې د مهمو سکتورونو د ونډې د ودې سلنه**




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک

په هېواد کې د بيکارۍ نرخ د وروستيو کلونو په اوږدو کې د زياتيدو په حال کې دی او په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۴۰ سلنې ته رسيږي. حال دا چې په تير کال کې د بيکارۍ نرخ شاوخوا ۲۵ سلنه ؤ. د هېواد په ډېرى برخو کې د امنيت نه شتون نه يوازې د پانګه اچونې مخه نيولې، بلکې د پانګې د تيښتې لپاره يې زمينه هم برابره کړې ده. د دې ترڅنګ له ۱۳۹۳ کال څخه

وروسته د نړیوالو مرستو د پام وړ کموالي د پرمختیایي پروژو د تطبیق او عملي کولو په برخه کې د دولت کړنې محدوده کړي دي او د بوختیا کچه یې اغیزمنه کړې ده. همدا ډول هغه مؤسسې، انجو ګانې (NGO) او داسې نورې اداري چې مخکې به یې د هېواد د کاري ځواک یوه عمده برخې لپاره د کار زمینه برابروله، بندې شوې دي او د بیکارۍ نرخ یې له مخکې زیات اغیزمن کړی دی.

**۲. د پولي انفلاسیون نرخ**


د افغانستان بانک د هېواد د پولي سیاست د یوازیني اجراء کوونکي په توګه د مستهلکینو د زیانمنیدو د مخنیوۍ او د پانګه اچونو د هڅونې په موخه د کورنیو بیو د ټیکاو ساتلو مسئولیت په غاړه لري. د افغانستان بانک تل هڅه کړې ده څو د پولي پړسوب نرخ د دقیقو طریقو او محاسبو په کارولو سره په مطلوبه کچه کې وساتي چې له نیکه مرغه د څو وروستیو کلونو په اوږدو کې په دې برخه کې بریالی دی.

د پولي پړسوب نرخ په افغانستان کې له ۱۳۸۳ کال څخه تر ۱۳۹۴ کاله پورې د نوسان په حال کې ؤ، خو په ټولیزه توګه یې ټیټېدونکی بهیر ښکاره کاوه. د پړسوب د نرخ اوسط د همدې کلونو په اوږدو کې شاوخوا ۷.۲ سلنې ته رسیږي چې تر ټولو لوړ یې په ۱۳۸۷ کال کې ۲۳.۸ سلنې او تر ټولو ټیټ یې چې دیفلاسیوني حالت یې خپل کړی ؤ په ۱۳۸۸ کال کې منفي ۱۳.۷ سلنې ته رسیده. د لګښت کوونکو د بیې شاخص د ۱۳۹۴ مالي کال له نیمايي څخه راپدېخوا د بیو په عمومي کچه کې لوړېدونکی بهیر ښکاره کوي. که څه هم د پولي پړسوب نرخ له دریو میاشتو (چنګاښ، زمرې او وږي) راهیسې د ټیټېدو په حال کې دی، خو اوس هم د روان کال له دویمې ربعې څخه په لوړه کچه کې واقع دی. د احصائیې له مرکزي اداري څخه وروستۍ ترلاسه شوې شمېرې ښکاره کوي چې د پولي پړسوب نرخ د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې په پای کې ( د کلنی محاسبې پر بنسټ) ۶.۸۶ سلنې ته رسیږي چې د روان کال د دویمې ربعې د ۵.۹۶ سلنې په پرتله لوړوالی ښکاره کوي، خو دا زیاتوالی د ۱۳۹۴ مالي کال د دریمې ربعې په پرتله چې د پړسوب نرخ په کې منفي۱.۹ سلنه محاسبه شوی ؤ، د پام وړ دی. په همدې موده کې د پولي پړسوب نرخ د زیاتوالي لاملونه په نړیواله بازارونو کې د توکو د بیو لوړیدل، له ایران او پاکستان څخه د کډوالو راستنیدل او د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پولي پر سر ستونزې ګڼل کیږي.

د شته وروستیو شمېرو پر بنسټ، د روان کال

(۱۳۹۵کال) د تلې میاشت کې د عمومي پړسوب کچه ۶.۷ سلنې سره برابره ده. د خوراکي توکو او ناخوراکي توکو پړسوب په همدې موده کې په ترتیب سره ۸.۱ سلنه او ۵.۱ سلنه ثبت شوي دي.

**۴ ګراف: د لګښت کوونکو د بیې شاخص (د سلنې له مخې بدلونونه)**





سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک

که څه هم د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ ټیټوالی موندلی دی چې دا په خپل ذات کې په هېواد کې د بیو د عمومي کچې د زیاتیدو لامل کیدای شي، خو د افغانستان بانک د پولي سیاستونو په کارولو سره توانیدلی دی چې د پړسوب نرخ په یو رقمي حد کې وساتي. سربېره پر دې، په نړیواله کچه د خوراکي توکو او نفتي موادو د بیو ټیټوالی هم په افغانستان کې د پولي پړسوب د نرخ په کموالی کې اغیزناکه دی. افغانستان هغه هېواد دی چې د اړتیا وړ توکو ډېری برخه له نورو هېوادونو په ځانګړې توګه له ایران، پاکستان، ترکیه او چین څخه واردوي. له همدې امله، د دې هېوادونو د پولي پړسوب په نرخ کې ډېر کم بدلون کولای شي د هېواد د پولي پړسوب په نرخ باندې د پام وړ اغیز وکړي.

### ۳. د افغانۍ د مبادلې نرخ

له نیکه مرغه د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د کړوالي له کمیدو سره سم د افغانستان بانک تدبیرونو د مبادلې په نرخ کې ټیکاو او ټینګښت بیا تأمین کړی دی، څرنګه چې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت د ۱۳۹۵ مالي کال د پیل په پرتله د همدې کال د لیندۍ په اتمه نېټه ۲.۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. لاندې ګراف په تیرو دولسو میاشتو کې د مبادلې د نرخ بهیر ښکاره کوي. دا په داسې حال کې ده چې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت په ۱۳۹۴ مالي کال کې شاوخوا ۱۷ سلنه ټیټوالی درلوده.

**۵ ګراف: د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ**




سرچینه: د پولي سیاست آمریت/ د ا فغانستان بانک

د افغانستان بانک د پرسوب د ريښو د پيژندلو او د تشديد کوونکو عواملو له څيړلو سره يو ځای هغه تر دوامداره مراقبت لاندې نيولی او د شرايطو په پام کې نيولو سره د بيو د عمومي کچې د خورا ډېر زياتوالي د مهارولو او د هغه د ويجاړونکو پايلو د مخنيوی په موخه به مناسب تدبيرونه تر لاس لاندې ونيسي.

**۴. د پولي او بانکي سکتور کړنې**

په افغانستان کې بانکي سکتور نسبتاً ځوان دی او د هغه شته جوړښت له ۲۰۰۱ کال راپديخوا د ګڼ شمېر پاليسيو د ترتيبولو او تعديلولو پايله ده. اوس مهال د افغانستان مالي سکتور د مالي مؤسسو بېلابېل ډولونه لکه؛ ۱۴ سوداګريز بانکونه، د کوچنيو پورونو ۱ تخصصي بانک، د بيمې ۴ شرکتونه، د کوچنيو پورونو ۹ مؤسسې او د الکترونيکي پيسو ۳ مؤسسې رانغاړي.

سره له دې چې د هېواد مالي سکتور د خدمتونو په نفوذ او تنوع کې د پام وړ پرمختګ شاهد دی او د وروستی لسيزې په اوږدو کې يې په چټکه توګه وده کړې ده، خو اوس هم د هېواد مالي نظام په ځانګړې توګه بانکي نظام له سترو ستونزو سره مخ دی چې په عمده توګه غير مؤثره قانوني اډانه، د کمزورې اداري طريقه، ناکافي ستراتيژۍ او پاليسۍ، د داخلي کنټرول کمزوره چاپيريال، د کار پوه او وړ بشري منابعو کموالی، د پانګونې د خوندي فرصتونو نه شتون، کمزوره بېخبنسټونه او داسې نور هغه موارد دي چې يو بل پسې يې مناسبه اجراات او د هغوي پر پراختيا اغيزه اچولې ده.


هغه ننګونې چې پورته يادې شوي، د دې لامل شوي څو د مالي چارو د څارنې د کاري اجرااتو لړليک تر تهولو دروند کړي او دا ډيپارټمنټ د دې وړ وګرځوي څو مقرراتي عمومي اډانه او شته څارنيزه پروسه پياوړې کړي.

د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې د پياوړتيا او پورته ننګونو ته د رسيدو لپاره د هغه د لاسبري کيدو په موخه د ستراتيژيک پلان له لارې څلور کلنې موخې ټاکي چې ترځنګ يې د بانکوالۍ د ښو طريقو او د افغانستان له مالي سيستم سره سم شته قوانين او مقررې ښه والی وومومي او پياوړې شي، د خطر پر بنسټ څارنيز سيستم (د خطر پر بنسټ ارزونه) د دې آمريت په څارنيز سيستم کې شامل شي، د څارونکو ظرفيت او مسلکي پوهه بايد تر يو قناعت لرونکي حده پورې لوړوالی او ښه والی وومومي او يو داسې تشکيلاتي جوړښت ولري چې له شته سرچينو څخه د ګټورې کارونې لامل شي.


اوس مهال (۲۰۱۶ اګست) د هېواد د بانکي نظام ټولېزه شتمنۍ شاوخوا ۲۷۵.۱۹ ميلياره افغانۍ (۴.۰۹ ميلياره امريکايي ډالره) ته رسيږي چې د

کورني ناخالصه تولیداتو له ۱۹ سلنې سره برابره ده. د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړیو دریو ربعو کې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو وده ۲.۷ سلنه ثبت شوې ده. په همدې موده کې د خصوصي او دولتي بانکونو وده په ترتیب سره ۹.۱۲ سلنې او منفي ۷.۹۸ سلنې ته رسیږي چې د دولتي سوداګریزو بانکونو په پرتله د خصوصي بانکونو کړنې ډېرې ښې ښکاره کوي. خصوصي بانکونه د بانکي نظام په ټولیزه شتمنۍ کې د ۶۵.۵۱ سلنې ونډې په درلودلو سره د دې سکتور تر ټولو مهمه برخه جوړوي.

**۶ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه شتمنۍ، پورواینې او د پانګې بهیر**





**۷ ګراف: په بانکي نظام کې د شتمنیو جزئیات**





سرچینه: د مالي چارو د څارنې آمریت/ د افغانستان بانک

**۸ ګراف: د بانکي سیستم ټولیزه پورونه او امانتونه** (په میلیون امریکایي ډالر)




سرچینه: د مالي چارو د څارنې آمریت/ د افغانستان بانک

**۹ ګراف: د بانکي نظام ګټه او زیان**





سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

## ۵. د بهرني سکتور کړنې

جاري حساب چې د هېواد د بهرني سکتور ( د ادواینو د بیلانس) یو تر ټولو مهمه برخه ګڼل کیږي له څو کلونو راهیسې په کسر کې دی او د جاري حساب دا کسر د بهرنیو جریانونو له لارې تمویل شوی دی.

۱۰ ګراف: د جاري حساب بیلانس (په میلیون امریکايي ډالر)




سرچینه: د افغانستان بانک


د افغانستان د سوداګرۍ د بیلانس کسر چې تیرو کلونو په اوږدو کې هم تر سترګو شوی ؤ د ۱۳۹۳ او ۱۳۹۴ مالي کلونو په اوږدو کې هم لیدل کیده. د سوداګرۍ د بیلانس کسر د ۱۳۹۳ زیږدیز کال په اوږدو کې له ۱۳۹۴ زیږدیز کال څخه کم دی. د ۱۳۹۳ زیږدیز کال د لومړۍ ربعې په پای کې د هېواد د سوداګرۍ د بیلانس کسر ۱،۴۱۱.۱۷ میلیونـه ډالرو ؤ چې د ۱۳۹۳ زیږدیز کال د دویمې ربعې په پای کې ۱،۷۷۴.۷۴ میلیونه ډالرو ته ورسیده خو د ۱۳۹۳ زیږدیز کال په دریمه ربعه کې د سوداګرۍ د بیلانس کسر په نسبي توګه کم شوی چې په دې ربعه کې د سوداګرۍ د بیلانس کسر ۱،۵۱۲.۲ میلیونه ډالرو ته رسیده.

د توکو او خدمتونو د واردولو ټولیز ارزښت د تیر کال د ورته دورې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې شاوخوا ۲۱.۶ سلنه کموالی موندلی دی. شمېرې ښکاره کوي چې په همدې دوره کې د ټولیزه وارداتو ارزښت ۱،۶۹۷.۹۶ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي، حال دا چې دا شمېره د تیر کال په دویمه ربعه کې ۲،۱۳۹.۷۹ میلیونه ډالره محاسبه شوې ده.

په همدې ترتیب، د ټولیزه صادراتو ارزښت هم په همدې دوره کې راټیټ شوی دی. د وروستیو شمېرو په پام کې نیولو سره د هېواد صادرات د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې له ۳۱۲.۳۵ میلیونه امریکايي ډالرو څخه د ارزونې لاندې دوره کې ۲۴۶.۹۵ میلیونه ډالرو ته کم شوی چې د ۲۱.۹ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

سربېره پر دې، د صادراتو وده د وروستیو کلونو په اوږدو کې هیله من کوونکې او د غالیو، ممیزو، تازه میوو او د بڼوالۍ د محصولاتو د صادراتو زیاتوالی زړه ورکوونکی دی.

۱۱ ګراف: د بهرنۍ سوداګرۍ وضعیت ( په میلیون ډالر)




سرچینه: د افغانستان بانک

## ۶. د افغانستان بانک اسعاري زېرمې

د افغانستان بانک په اسعاري رژيم کې تر ټولو مهمه موخه د نورو اسعارو په ځانګړې توګه د نړيواله معتبرو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې د زياتو نوسانونو له مهار او مخنيوي څخه عبارت دی. دا موخه په ورته وخت کې د بهرنيو شوکونو په جذبولو او د هېواد د صادراتي او توليدي سکتورونو د سيالۍ منلو د ځواک او وړتيا په تدريجي مرستې سره کولای شي د کورنيو بيو د سنجش متغيرونو او شاخصونو ته د مبادلې د نرخ د اغېزو ليږدول محدود کړي.

د افغانستان بانک ثانوي موخه چې په ورته وخت کې ډېره مهمه هم ده، د اوسني اسعاري رژيم ټاکنه او دوامداره ساتنه او جوړښت[۱] او په بهرني سکتور کې د نه تمې وړ شوکونو پر وړاندې د حفاظتي خنډونو پياوړتيا ده. اوس مهال، د هېواد اسعاري زېرمې د افغانستان په بهرني سکتور کې تر ټولو مهم حفاظتي خنډ ګڼل کيږي. همدا ډول دا زېرمې هم له رواني پلوه او هم په عمل کې د افغانۍ لپاره د ټيکاو د لنګر په توګه ګڼل کيږي.

د افغانستان خالصه اسعاري زېرمې چې بهرنۍ معتبره اسعار، سره زر او د برداشت ځانګړي حق (SDR) رانغاړي په روان مالي کال کې د پام وړ زياتوالی موندلی دی. د يادونې وړ ده چې د اسعاري زېرمو لپاره د پيسو له نړيوال صندوق سره هوکړه شوی هدف په روان کال کې ۵۰ ميليونه امريکايي ډالره دی. د افغانستان بانک د خالصه اسعاري زېرمو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال د لیندۍ په اوومه نېټه ۶،۷۹۴.۵۷ ميليونه امريکايي ډالره ثبت شوې ده. دا شمېره کولای شي د هېواد د وارداتو لپاره له اتو مياشتو زياته بسنه وکړي چې د اسعاري زېرمو د کفايت د سنجش له ټولو نړيوالو معيارونو[۲] څخه زيات دی. لاندې ګراف د خالصه اسعاري زېرمو د کچې بهير ښکاره کوي.

۱۲ ګراف: د افغانستان نړيواله زېرمې ( په ميليون ډالر)




سرچینه: د افغانستان بانک

## ۷. د مالي سکتور کړنې

د ۱۳۹۵ مالي کال لپاره د افغانستان د دولت ټوليزه بودجه چې عادي او پرمختيايي بودجه رانغاړي، ۴۴۷.۶ ميلیارده افغانی ده چې له دې ډلې د عادي بودجې ونډه ۲۷۹ ميلياړده او د

---

(۱) Buffers


(۲) Reserve adequacy metrics

پرمختیايي بودجې ونډه ۱۶۸.۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. د مالي کال له پیل څخه د لږم د میاشتې تر پای پورې کورني عواید شاوخوا ۱۳۹.۷ میلیارده افغانۍ او نړیواله مرستې کابو ۱۸۷ میلیارده افغانۍ ثبت شوي دي چې د دولت بودجه یې روان مالي کال لپاره په ترتیب سره ۳۱ سلنه او ۴۲ سلنه تمویل کړې ده.

د افغانستان د دولت ټولیزه لګښتونه د ۱۳۹۵ مالي کال له پیل څخه د لږم د میاشتې تر پای پورې شاوخوا ۳۰۱.۳۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. پرمختیايي لګښتونه په همدې موده کې ۷۳.۱ میلیارده افغانۍ او د دولت عادي لګښتونه ۲۲۸.۲ میلیارده افغانۍ کیږي چې په ترتیب سره د ټولیزه لګښتونو ۲۴ سلنه او ۷۵.۸ سلنه جوړوي.


**د افغانستان په اقتصاد کې د بهرنیو مرستو د پام وړ ونډه له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې د پراخه ملاتړ ښکارندوي کوي.** د افغانستان په اقتصاد کې د بهرنیو مرستو ونډه په تیرو څو کلونو کې د ملي ناخالصه تولیداتو (څلور کلن اوسط) ۴۷ سلنه رانغاړي. د دې رقم نیمايي له مرکزي بودجې او پاتې نیمايي د حکومت له بودجوي سیستمه بهر سرچینو څخه د افغانستان اقتصاد ته رادننه شوي دي.

**۱۳ ګراف: د دولت ټولیزه عواید ( په میلیون افغانۍ)**





سرچینه: د مالیې وزارت

**۱۴ ګراف: د دولت ټولیزه لګښتونه (په میلیون افغانۍ)**




سرچینه: د مالیې وزارت

**۱۵ ګراف: د بودجې په تمویل کې نړیوالې مرستې (په میلیون افغانۍ)**




سرچینه: د مالیې وزارت

### ج_ د لوی اقتصاد منځ مهاله لید لوری

د افغانستان اقتصاد د ۲۰۰۲_ ۲۰۱۲ کلونو ترمنځ په اوسط ډول شاوخوا د ۹ سلنه اقتصادي ودې له ثبتیدو وروسته د ۲۰۱۲ کال د پای راپدېخوا له اقتصادي رکود سره مخ شو. څرنګه چې اقتصادي ودې له ۲۰۱۲ کال وروسته د پام وړ ټیټوالی درلوده، په ۲۰۱۵ کال کې له ۱ سلنې څخه هم راټیټ شو. د اقتصادي برخو په تفکیک د کرنې د سکتور وده په ۱۳۹۳ کال کې له ۳.۷ سلنې څخه په ۱۳۹۴ کال کې منفي ۱۶.۹ سلنې او د خدمتونو د سکتور وده له ۲.۲ سلنې څخه ۱.۳ سلنې ته کموالی موندلی دی، حال دا چې د صنایع سکتور له ۲.۴ سلنې څخه ۴.۵ سلنې ته د بدلونو په درلودلو سره تر ټولو ښې کړنې ښکاره کوي. له ۲۰۱۲ کال وروسته کلونو په اوږدو کې د اقتصادي ودې د ټیټیدونکي بهیر لامل په هېواد کې ورځ تر بلې نا امني او سیاسي بې ثباتي په ګوته شوی دی. د امنیتي او سیاسي نا مناسبو شرایطو سربېره چې د پانګه اچوونکو باور یې زیانمن کړ او په هېواد کې یې د اقتصادي کړنو د فعالیت کچه راکمه کړه، د نړیواله مرستو نسبتاً د پام وړ ټیټوالی ( له ۲۰۱۲ کال وروسته کلونو کې افغانستان ته د نړیواله ټولیزه کلنۍ مرستو کچه یې شاوخوا ۳_۴ میلیارده ډالره کمه کړې ده) هم په افغانستان کې د اقتصادي رکود عمده لاملونه ګڼل کیږي.

په وروستیو کلونو کې د اقتصادي ودې له پام وړ ټیټوالي سره سره په سیاسي ډګر کې نوي بدلونونه، د هېواد په بېخبنسټیزو او پرمختیایي پروژو کې د پام وړ پرمختګونه او افغانستان ته د مرستو د دوام لپاره نړیواله غونډه (اجماع) د راتلونکي کلونو په اوږدو کې د افغانستان اقتصاد لپاره د ښو ورځو زېری دی. په افغانستان کې د امنیتي ټیکاو او اقتصادي ودې ترمنځ د نه پرېکیدونکي اړیکې په پام کې نیولو سره تمه کیږي څو په هېواد کې د سولې د پروسې په بریالیتوب سره په افغانستان کې د راتلونکي کلونو په اوږدو کې د پانګونې کچه او اقتصادي کړنې د پام وړ زیاتوالی ومومي. د بېخبنسټیزو پروژو لکه؛ ټرانزیټي لارې او د انرژۍ تولید او همدا ډول د کرنې او صنعت په سکتور کې د نوي پرمختیایي پروژو پیلېدل هم له ډېرو مهمو عواملو څخه دي چې د هېواد د اقتصادي وضعیت منځمهاله لید لوری یې له مخکې څخه روښانه کړی دی. له نېکه مرغه د ملي یووالي حکومت د هېواد د بېخبنسټونو پرمختیا ته خاصه پاملرنه درلودلې ده چې داخلي او بهرنۍ ټرانزیټي لارې او همدا ډول د انرژۍ د تولید او لېږد پروژې رانغاړي چې د هېواد په اقتصادي وده کې به مثبتې اغیزې ولري.

د نوي شمېرو پر بنسټ چې د احصائیې له مرکزي اداري څخه ترلاسه شوي دي، د صنایع د سکتور وده د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې د تیر کال د دویمې ربعې په پرتله ۲.۴۵ سلنه زیاتوالی درلودلی دی او تمه کیږي چې دا شمېره د روان کال په دویمه نیمایي کې زیاتوالی ومومي.

د دې سکتور د ودې عمده لاملونه د کانونو اړوند کړنې، د خوراکي او څښاکي توکو د تولید صنایع او کیمیاوي صنایع (د کیمیاوي سرو تولید) ګڼل کیږي. په همدې موده کې ډېری د اوبو بریښنا د تولید پروژې یا ګټې اخیستنې ته سپارل شوي ( د سلما بند) یا یې کار پیل شوی او یا یې د جوړیدو تړون لاسلیک شوی دی. همدا ډول په تولیدي برخو کې د ځینو دولتي تولیدي شرکتونو د کار پیلول او په خصوصي سکتور کې د نوي تولیدي کمپنیو ثبتول هغه موارد دي چې د هېواد د اقتصادي ودې د ښه والي په برخه کې یې هیلې زیاتې کړي دي. د خدمتونو سکتور په دې دوره کې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړی ربعې په پرتله شاوخوا ۱.۵۲ سلنه او د ۱۳۹۴ کال د دویمې ربعې په پرتله ۲.۵ سلنه وده کړې ده. د ټرانسپورټي کړنو په برخه کې د افغانستان د دولت لاسته راوړنې د یو کال په اوږدو کې د پام وړ دي. له پاکستان څخه د ټرانزیټي لارې د بدیل په توګه د چابهار له بندر څخه د ګټې اخیستنې پر سر هوکړه، د افغانستان او چین ترمنځ د اوسپنې د پټلی ګټې اخیستنې ته سپارل او له ایران سره د اوسپنې د پټلی پرانیستل د دې لاسته راوړنو ښې بېلګې دي چې تمه کیږي په راتلونکو کلونو کې د هېواد د اقتصادي وضعیت په ښه والي کې د پام وړ رول ولوبوي. همدا ډول د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې د کرنې سکتور تولیدات د تیر یو کال په پرتله ۵۷ سلنه زیاتوالی درلودلی دی. د ۱۳۹۵ مالي کال له پیل څخه تر اوسه پورې د دولت له خوا د تمویلوونکو ادارو په همکارۍ سره د کرنې په برخه کې مهم پروګرامونه ترلاس لاندې نیول شوي دي. په دې سکتور کې ستري پروژې یا د ترسره کیدو په پړاو کې او یا هم د عملي کیدو په حال کې دي چې د کرنیزو کړنو په وده کې مهم رول لوبوي. په ورته وخت کې، د ټرانسپورټي لارو پراختیا هم د کرنیزو کړنو په ښه والي کې مهم رول ترسره کړی دی. د بېلګې په توګه د چابهار بندر پرانیستل یو له هغو مواردو څخه دی چې بهرنیو بازارونو ته د کرنیزو توکو د صادرولو په برخه کې د ډېرو اسانتیاوو د رامنځته کیدو لامل شوی دی. د بروکسل په کنفرانس کې نړیوالې ټولنې د افغانستان د دولت په دوامداره ملاتړ باندې د

ټېنګار او په غير نظامي برخو کې د بلاعوضو مرستو د ورکړې د ژمنې تر څنګ ژمن شول څو د افغانستان له دولت سره به د پرمختيايي پروژو د مالي تأمينولو او تلپاتې پرمختيا ته د رسيدو په موخه هر کال له ۳.۵ ميلیارده ډالرو زياتې مرستې کوي. د پرمختيايي لاسته راوړنو او په هېواد کې د سوکالۍ په ساتلو کې د مرستو د دې کچې تأمينول ډېر حياتي ارزښت لري چې له نيکه مرغه د ملي يووالي دولت وتوانيدو چې خپل نړيوال شريکان افغانستان سره د مرستو دوام ته ژمن کړي.

سربېره پر دې مواردو، د سوداګرۍ په نړيوال سازمان کې د افغانستان شموليت او له ګاونډيو هېوادونو او سوداګريزو شريکانو سره د سوداګريز هوکړه ليک لاسليکول او په دې وروستيو کې په سيمه ايزه اقتصادي کړنو کې د افغانستان هر اړخيزه شتون د پانګونې لپاره د بهرنيو سوداګرو ترمنځ د باور فضاء او په افغانستان کې د خصوصي سکتور فعاليتونه زيات کړي دي. سربېره پر دې، د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې، د عوايدو د راټولولو او د خصوصي سکتور په برخو کې د افغانستان د دولت لخوا ترلاس لاندې نيول شوي اصلاحات کولای شي په اوږد مهاله توګه د هېواد په اقتصاد کې د ډاډمنتيا د کچې په لوړولو کې مرسته وکړي.

د هېواد په بېلابېلو اقتصادي سکتورونو کې د يادو پرمختګونو په پام کې نيولو سره تمه کيږي چې اقتصادي وده په راتلونکو کلونو کې زياته شي او په کال کې شاوخوا ۳ – ۴ سلنې ته ورسيږي. البته د اقتصادي ودې د دې کچې ترلاسه کول په امنيتي وضعيت کې ښه والي، سياسي ثبات ته لاسرسي، د اصلاحاتو پرمختګ او له اداري فساد سره بريالۍ مبارزې او د مالي مرستو په تأمينولو کې د نړيواله شريکانو ژمنې پورې تړاو لري.

**۱ جدول: د لوی اقتصاد شاخصونه**

| کلونه | ۱۳۸۷ | ۱۳۸۸ | ۱۳۸۹ | ۱۳۹۰ | ۱۳۹۱ | ۱۳۹۲ | ۱۳۹۳ | ۱۳۹۴ | ۱۳۹۵ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **الف: کورني ناخالصه توليدات** | | | | | | | | | |
| کورني ناخالصه توليدات (په ميليون افغانۍ) | ۵۴۱،۱۱۳ | ۶۳۲،۷۱۶ | ۷۴۶،۸۵۹ | ۸۹۶،۱۶۲ | ۱،۰۸۶،۱۹۸ | ۱،۱۹۶،۷۲۷.۶ | ۱،۲۰۹،۲۶۷ | ۱،۲۳۹،۳۸۲ | |
| د کورني ناخالصه توليداتو د ودې سلنه | ۲.۳ | ۱۷.۲ | ۳.۲ | ۸.۷ | ۱۰.۹ | ۶.۵ | ۲.۱ | ۰.۹ | |
| د سړي سر کورني ناخالصه توليدات | ۴۲۶ | ۵۰۴ | ۶۲۹ | ۷۰۹ | ۷۸۰ | ۷۷۲ | ۷۴۷ | ۶۷۷ | |
| **ب: بيې** | | | | | | | | | |
| د لګښت کوونکو د بيو شاخص (کلني بدلونونه) | ۲۳.۸۲ | −۱۳.۷۳ | ۹.۸ | ۹.۷۴ | ۵.۹ | ۷.۳ | ۱.۴۱ | ۰.۰۸ | ۴.۵۵ |
| د لګښت کوونکو د بيې شاخص (د کلني بدلونونو اوسط) | ۱۵.۴۱ | ۳۰.۲۰ | −۱۳.۷۵ | ۶.۴۶ | ۱۰.۷۴ | ۷.۴۰ | ۴.۶۷ | −۱.۵۵ | |
| **ج: د امريکايي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ)** | | | | | | | | | |
| د پورته لمريزو کلونو په اوږدو کې افغانۍ / امريکايي ډالر | ۵۰.۸۵ | ۴۹.۱۶ | ۴۵.۷ | ۴۷.۷ | ۵۱.۳۳ | ۵۵.۲۸ | ۵۷.۲۳ | ۶۱.۱۴ | ۶۷.۸۷ |

سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک

## IV. ننګونې او فرصتونه

### الف- بالقوه بهرنۍ ننګونې

**۱. امنیتي ستونزې او سیاسي بې ثباتي**

امنیتي خطرونه او سیاسي ستونزې هغه مهمې ننګونې دي چې په ستراتیژیک پلان کې د درج شویو موخو د تحقق مخه یې نیولې ده. په هېواد کې د امنیت نه شتون، نه یوازې د هېوادوالو ځان او مال له خطرې سره مخ کوي، بلکې د خلکو او پانګه اچونکو د باور د کمیدو لامل هم کیږي چې په دې کار سره اقتصادي کړنې کمیږي او د پانګې د تیښتې، د پانګونې د کموالي، د بیکارۍ د کچې د لوړیدو او د داسې نورو اقتصادي او ټولنیزو ستونزو لامل کیږي. امنیتي او سیاسي ستونزې د قانون حاکمیت کموي او د قانوني او حقوقي سرغړونو د زیاتیدو لامل کیږي چې په پایله کې یې حکومت هم د قانون په پلي کولو او د اداري او مالي فساد پر وړاندې مبارزه کې پاتې راځي او د سیاسي بې ثباتۍ لامل کیږي. د امنیت نه شتون په اقتصادي کړنو او پانګونو باندې ناوړه اغیزې اچوي او له هېواد څخه د پانګې او بشري ځواک د تیښتې د زیاتیدو لامل کیږي چې په خپل وار د افغانۍ ارزښت زیانمن او د بیو ټیکاو چې د افغانستان بانک اصلي ماموریت ګڼل کیږي، له ننګونو سره مخ او د دې لامل کیږي چې بانک په دې ستراتیژیک پلان کې د درج شویو موخو او کړنو په سم، کره او په خپل وخت پلي کولو کې په بشپړه توګه بریالیتوب ترلاسه نه کړي.

**۲. په نړۍ کې د خوراکي توکو او نفتو د بیو نوسانونه**

دا چې افغانستان یو وارداتي هېواد دی او د داخلي اړتیاوو عمده برخه یې د کافي منابعو او کورنیو تولیداتو د نه شتون له امله له بهره تأمین کیږي، په مستقیم او غیر مستقیم ډول په نړیواله بیو کې هر ډول نوسان په کورنیو بیو باندې اغیز اچوي او د هغه په کنټرول او ساتنه کې ننګونې رامنځ ته کوي.

په دې برخه کې کولای شو د خوراکي توکو او د تیلو د بیو چې تړلیزه وزن یې د لګښتي ټوکرۍ له نیمایي زیاته برخه جوړوي، نوم واخلو. د دې توکو نړیواله بیې، په ځانګړې توګه د تیلو بیې په دې وروستیو کلونو کې ډېر نوسانونه درلوده چې د اقتصادي کړنو کچه او همدا ډول د کورنیو بیو ټیکاو یې په مستقیمه توګه تر اغیز لاندې راوستی دی. په نړیوالو بازارونو کې د وارداتي توکو د بیو شدیده نوسانونه چې د کورنیو بیو د زیاتیدو لامل کیږي، کولای شي د بیو د ټیکاو ساتل او د افغانستان بانک د پولي سیاست اغیزناکي له ننګونې سره مخ کړي.

**۳. د بروکسل په کنفرانس کې د افغانستان د ژمنو نه اجراء کيدل**

په افغانستان کې د پرمختيايي لاسته راوړنو د ساتلو لپاره د نړيوالې ټولنې مالي مرستې ډېرې حياتي دي. په دې وروستيو کې د بروکسل په کنفرانس کې چې په کې د ۷۰ هېوادونو او د شل نړيواله سازمانونو او ادارو استازو ګډون درلوده، نړيوالې ټولنې ژمنه وکړه څو د راتلونکو څلورو کلونو په اوږدو کې به له دې هېواد سره ۱۵ ميلیارده ډالره مرسته کوي. د افغانستان دولت لخوا د شويو ژمنو د سم او په وخت نه تطبيق په صورت کې ښايي دا مرستې کمې يا پرې شي. د نړيواله مرستو کميدل د هېواد اقتصاد لپاره عمده ننګونه ګڼل کيږي. د نړيواله مرستو کميدل به د دولت د بودجې په کسر کې د شديده زياتيدو لامل شي چې دا کار د هېواد د اقتصادي وضعيت تر اغيز لاندې راوستلو سربېره د افغانستان بانک د کړنو او سياستونو لپاره مهمه ننګونه ګڼل کيږي. د نړيواله مرستو د کميدو په صورت کې به هېواد ته د اسعارو د دننه کيدو کچه تر ډېره بريده کمه شي او له هغه ځايه چې د نقدينه ګۍ د کنټرول او د پولي ټيکاو د ساتلو په موخه د اسعارو ليلام د افغانستان بانک د پولي سياست تر ټولو مهم ابزار دی، د مرکزي بانک د سياستونو پلي کول به له سختو ننګونو سره مخ کړي.

**۴. طبيعي آفتونه**

کرنيز محصولات د افغانستان د صادراتي توکو د پام وړ برخه جوړوي. د دې سکتور د محصولاتو او توليداتو کچه تر ډېرې بريده په طبيعي عواملو پورې تړاو لري او د طبيعي آفتونو پر وړاندې ډېر زيانمن کيږي. طبيعي آفتونه لکه؛ زلزله، سيلابونه، اور لګيدنې، وچکالي او داسې نور د مهمو طبيعي آفتونو له ډلې څخه دي چې واقع کيدل يې ډېرې اقتصادي او ټولنيزې ستونزې له ځانه سره لري. د داسې پيښو په رامنځ ته کيدو سره کرنيزې ځمکې تخريب او د کرنيزو او حيواني محصولاتو کچه راکميږي. د کرنيزو محصولاتو د کموالي له امله به د سوداګرۍ د بيلانس کسر زيات او د افغانۍ لپاره به تقاضا کمه شي چې د افغانۍ په ارزښت باندې به دوه برابره فشار راولي.

**۵. اداري او مالي فساد، بيروکراسي او د دولتي ادارو ترمنځ د لازمې همغږۍ نه شتون**

اداري او مالي فساد د افغانستان د اقتصادي او ټولنيزې پرمختيا په لاره کې په يوې بنسټيزې ستونزې بدل شوی دی. له بېلابېلو هېوادونو څخه ترلاسه شويو تجربې ښکاره کوي چې فساد يوه پيچلې، پټه او د ډېرو ډولونو درلودونکې پديده ده چې د يوې ساري ناروغۍ په بڼه خپره شوې

ده. د فساد له امله د دولت پالیسی د ډېرو د ګټو پر خلاف کارول شوي، ملي منابع ضایع شوي او د دولت د کړنو اغیزناکي راکمه شوې ده او له دې لارې یې د دولتي او غیر دولتي ادارو پر وړاندې د خلکو باور راکم کړی دی. فساد د پانګه اچوونکو باور هم راکم او د خصوصي سکتور د اقتصادي کړنو لپاره یې کار سخت کړی دی. د اداري او مالي فساد او له حد څخه د زیاتې بیروکراسۍ شتون او د لازمه معلوماتو د شریکولو په برخه کې د دولت په بېلابېلو برخو کې د لازمې همغږۍ نه شتون د افغانستان بانک د ستراتیژیک پلان په تطبیق کې یو له عمده ننګونو څخه ګڼل کیږي.

## ب- داخلي ننګونې

### ۱- د شعبو ترمنځ همغږي

د ځینو کړنو په ترسره کولو کې د افغانستان بانک د شعبو ترمنځ د کافي لازمې همغږۍ نه شتون کولای شي موخو ته د رسیدو او په دې پلان کې د درج شویو کړنو په لاره کې یوه عمده ننګونه وي. په دې برخه کې اجرائیوي برخو ته د لازمه خدمتونو په برابرولو کې د حمایوي شعبو د کافي همکارۍ نه شتون یو له هغه ستونزو څخه ده چې کولای شو نوم یې واخلو. دا چې کړنې په ځانګړې توګه د شعبو ګډې کړنې په دقیقه او په خپل وخت عملي شي باید د شعبو ترمنځ د همکارۍ او همغږۍ کچه د شته خنډونو د له منځه وړلو له لارې لوړه شي. سربېره پر دې، د هرې شعبې د کړنو په تطبیق کې د پرمختګ د کچې دقیقه او هر اړخیزه څارنه هم کولای شي د اغیزناکۍ په لوړولو او د دې پلان په پلي کولو کې ګټوره واقع شي.

### ۲- مالي منابع او د اړتیا وړ تجهیزات

د افغانستان بانک یو شمېر کړنې په ځانګړې توګه د سروېګانو په برخه کې مالي منابعو ته اړتیا لري. د بېلګې په توګه د بهرنیو پانګه اچونو سروې او د کورنیو سروې چې د ادواینو د بیلانس او د نړیواله پانګې اچونې د موقف د تدوین په موخه له مهمو سروېګانو څخه ګڼل کیږي، مالي منابعو ته ډېره اړتیا لري. د دې سروېګانو د نه اجراء کیدو په صورت کې به بې له شکه د ادواینو له بیلانس او د نړیواله پانګه اچونې له موقف څخه دقیقې شمېرې ترلاسه نه شي چې په پایله کې شونې ده د پولي سیاست د ناسمې طرحې لامل شي. له بلې خوا، لازم دفتري تجهیزات او امکانات په ځانګړې توګه د اقتصاد سنجونې پرمختللي پوستکالي چې د اقتصادي موډلونو ترتیبولو او د شاخصونو د دقیقې وړاندوینې لپاره وکارول شی، لږ دي چې د دې بانک د موخو د څېړنې په برخه کې عمده

ننګونه ګڼل کیږي. په دې برخه کې، د پورته امکاناتو د تدارک ترڅنګ باید په ملي او نړیواله کچه د روزنیزو پروګرامونو د جوړیدو له لارې د کارکوونکو کاري او علمي ظرفیت لوړ شي.

## ج- فرصتونه

### ۱. مناسب موقعیت

افغانستان له جغرافیایي پلوه د سوداګریزو، ترانزیټي او مواصلاتي کړنو د پراختیا لپاره تر ټولو ښه موقعیت لري. د نړۍ له مهمو هېوادونو لکه؛ چین، هند او روسیې سره د دې هېواد جغرافیایي نږدېوالی مونږ ته دا فرصت راکوي څو زمونږ هېواد د دې هېوادونو د توکو د لیږد له لارې ډېره ګټه ترلاسه او هغه د سوداګریزو او مواصلاتي کړنو په پراختیا او د هېواد د اقتصادي وضعیت په ښه والي کې وکاروي. همدا ډول افغانستان د منځنۍ آسیا، سویلي آسیا او منځني ختیځ د هېوادونو ترمنځ د څلور لارې په توګه کولای شي د مرکزي آسیا له هېوادونو لکه؛ ازبکستان، ترکمنستان او قزاقستان څخه د منځني ختیځ هېوادونو په ځانګړې توګه د سویلي آسیا هېوادونو لکه؛ هند او پاکستان ته د انرژۍ په لیږد کې ډېر ارزښتناکه رول ولوبوي. د ټاپي، کاسا زر او د چابهار بندر پروژې د دې کړنو مهمې بېلګې ګڼل کیږي چې په پراختیا او پیاوړتیا سره یې نه یوازې د سوداګرۍ او ټرانسپورټ وضعیت ښه والی مومي، بلکې زرګونو افغانانو لپاره د کار زمینه برابروي چې دا ټول د هېواد د اقتصادي وضعیت د ښه والي لپاره اغیزناکه او ګټور واقع کیږي.

### ۲. کانونه او طبیعي منابع

افغانستان له کانونو او بېلا بېلو طبیعي منابعو ډک هېواد دی. د عینکو د مسو کان په افغانستان کې تر ټولو لوی د مسو کان او په نړۍ کې دویم د مسو کان دی چې د کانونو د وزارت د راپور پربنسټ د دې کان ټولیزه زېرمې شاوخوا ۱۲ میلیونه ټنو ته رسیږي. د هېواد نور کانونه لکه؛ د حاجي ګګ د اوسپنې کان، د جوزجان پطرول او غاز د افغانستان د ارزښتناکه او تر ټولو مهمو کانونو له ډلې څخه ګڼل کیږي. د دې کانونو کیندل او د هغه اغیزناکه او ګټوره کارونه د هېواد د اقتصادي پراختیا لپاره یو طلایي فرصت ګڼل کیږي. د هېواد په کانونو کې پانګونه نه یوازې د صادراتو او د بهرنیو اسعارو د دننه کیدو د پیاوړتیا لامل کیږي، بلکې له لارې یې د اشتغال کچه پورته ځي او د خلکو ژوند ښه والی پیدا کوي. د هېواد د اوبو سرچینې هم د سیمې په کچه ساری نه لري. خو له بده مرغه افغانستان اوس مهال یوازې ۳۰ سلنه د اوبو سرچینې کاروي او پاتې اوبه یې له ګټې

اخيستنې پرته ګاونډيو هېوادونو ته بهيږي. په همدې ترتيب، د سلما د بند پروژه چې په وروستيو کې د هند په مالي مرسته جوړه او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه، د انرژۍ او اوبو د وزارت د راپور له مخې د شاوخوا ۴۲ ميګا واټه برېښنا د توليد ترڅنګ به کابو ۷۵ زره هکتاره ځمکه هم له دې بند څخه اوبه کيږي چې د کرنې د سکتور او د هېواد د کرنيزو محصولاتو په پراختيا کې مهم رول لوبوي.

### ۳. انساني منابع

افغانستان د انساني منابع له پلوه ډېر بډايه دی. څېړې شوې شمېرې ښکاره کوي چې د هېواد شاوخوا نيم نفوس ځوانان دي. تجربې ښکاره کړې ده، هغه هېوادونه چې بشري ځواک يې ځوانان جوړوي، د اقتصادي پراختيا چټکوالی يې هم لوړ وي. له نېکه مرغه د وروستيو څو کلونو په اوږدو کې د هېواد ډېرى ځوانان چې د بېلابېلو مهارتونو درلودونکي ؤ او د هېواد د کاري ځواک تر ټولو ستره برخه يې جوړوله په هېواد کې د نامناسبه امنيتي شرايطو او کاري فرصتونو د نه شتون له امله بهر ته کډوال شوي دي. له دې ټولو مهاجرتونو سره سره، اوس هم په هېواد کې نه يوازې د کار د غوښتونکو شمېر لوړ دی، بلکې د مزد کچه هم د ګاونډيو هېوادونو په پرتله ډېره ارزانه ده. دا ستر قشر کولای شی د هېواد اقتصادي خرخ تر ټولو ممکنې ارزانه بيې سره په حرکت راولي او د اقتصادي کړنو د پراختيا او ټولنې د سوکالۍ لامل شي. دا د افغانستان دولت لپاره يو ښه فرصت دی څو له دې ځواک څخه د اقتصادي کړنو په پراختيا او د هېواد د اقتصادي وضعيت په ښه والی کې کار واخلي.

### ۴. په عامه مالي اداره کې د سمونونو په برخه کې د دولت کړنې

د ملي عوايدو د راټولولو سيستم چې په عامه مالي اداره (Public Finance Management) کې يو بنسټيز اصل دی، په دې وروستيو کې د افغانستان د دولت لخوا ښه شوی دی، همدا ډول د تيرو دوو کلونو په اوږدو کې د هېواد ملي عوايد د پام وړ زياتوالی درلودلی دی. په ۱۳۹۴ مالي کال کې د ماليې وزارت د راپورونو پر بنسټ، د ماليې وزارت وتوانيده چې د پيسو د نړيوال صندوق لخوا له ټاکل شوي هدف څخه ۸ ميلياره افغانۍ زياتې راټولې کړي او د ۱۲۲ ميلياره افغانۍ ريکارډ په ثبتولو سره يې ملي عوايد د تير کال په پرتله ۲۲ سلنه زيات کړي دي. د ۱۳۹۵ مالي کال په پای ته رسيدو سره، د ملي عوايدو په راټولولو کې يو نوی ريکارډ ثبت شوی دی. د ماليې وزارت په دې مالي کال کې د حکومت د ټولو عايداتي ادارو په ګډې

همکارۍ سره توانيدلی دی چې ۱۶۵ ميلياره افغانۍ(شاوخوا ۲.۵ ميلیارده ډالره) عوايد راټول کړي چې دا شمېره د پيسو د نړيوال صندوق لخوا له ټاکل شوي هدف څخه ۳۳ ميلياره افغانۍ او د تير کال د عوايدو په پرتله ۴۳ ميليارده افغانۍ زياتوالی ښکاره کوي. د ملي عوايدو په زياتيدو سره، له يوې خوا د ملي بودجې د کسر د کميدو ترڅنګ په بهرنيو مرستو اتکاء کميږي او له بلې خوا دولت لاسبری کوي څو د زياتو مالي سرچينو په کارونې سره چې په لاس کې يې لري د پرمختيايي پروژو په تمويل او پراختيا باندې اقدام وکړي چې دا کار د اشتغال د کچې او د اقتصادي کړنو د زياتيدو، د کورنيو توليداتو د کچې د لوړيدو او حتی د هېواد د صادراتو د زياتيدو لامل کيږي. له بلې خوا، د ملي عوايدو په ډېريدو سره او په اوږد مهاله توګه د دې بهير دوام، په مالي نظام کې د مالي ټيکاو لامل کيږي. د دې ټولو سربېره، د دولت دا اغيزناکه اقدام په حقيقت کې په مالي نظام کې د سمونونو په راوستلو او د اداري فساد د پراختيا په مخنيوۍ کې هم ګټور واقع کيږي.

## V. لومړی ستراتیژیک اصل: د دوامداري اقتصادي ودې او ټیکاو د ملاتړ په موخه د پولي سیاست د اغیزې پیاوړتیا

### الف - د لومړي اصل تعریف

د اقتصادي ودې او ټیکاو د ملاتړ په برخه کې د پولي سیاست د اغیزناکۍ د لوړولو موخه عبارت ده له: د یو لړ اقداماتو او تدبیرونو اتخاذول چې له لارې یې د لوی اقتصاد پر ابزارونو او متحولینو لکه د اقتصاد حقیقي وده، انفلاسیون او دندو باندې د افغانستان بانک د پولي تدبیرونو او اقداماتو اغېزې لا زیاتې شي او په اقتصادي تعدیلاتو کې د دوو عمده سیاستونو په توګه د مالي سیاست ترڅنګ د پولي سیاست موقعیت تثبیت شي.

### ب ـ د لومړي اصل موخې

لاندې ځانګړې موخې د لومړي ستراتیژیک له اصل سره تړاو لري:

۱. د پولي سیاست د اغیزناکۍ پیاوړتیا؛
۲. له اقتصاد څخه د ډالرو د لرې کولو (Dedollarization) د بهیر ګړندي کول؛
۳. د اقتصادي معلوماتو، مطالعو او شننو د تر ټولو معتبره مرجع په توګه د افغانستان بانک د موقعیت تثبیول؛
۴. په ملي او نړیواله کچه د اړیکو پیاوړتیا؛

### ج. د لومړي اصل اړوندې کړنې

هره پورته موخه یو یا څو کړنې رانغاړي. د دې کړنو موخه هغه کړنې او اجراات دي چې له لارې یې د ستراتیژیک اصل اړوندو موخو ته لاسرسی اسانه کیږي. دا کړنې لاندې موارد رانغاړي:

**۱. د پولي سیاست د اغیزناکۍ پیاوړتیا**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

| د فعالیت عنوان | د اجراآتو اندازه | د پیل نېټه | د پای نېټه | مسؤل ډیپارټمنټ/ډیپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|
| د پولي سیاست د اډانې ارزونه | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | د پولي سیاست آمریت او د بازار عملیات آمریت |
| په عالي شورا کې د پولي سیاست د اختصاصي کمېټې (فرعي کمیټې) جوړول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | د پولي سیاست آمریت او د حقوقي مشاوریت دفتر |
| د پولي سیاست د ابزارونو د متنوع کولو لپاره د بیه لرونکو پاڼو د ثانوي بازار دودول او د هغه د شونتیا سنجول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | د بازار عملیات آمریت، د پولي سیاست آمریت او د مالي چارو د څارنې آمریت |
| د افغانستان بانک پر سیاستونو باندې د خلکو د باور د زیاتولو په موخه د پالیسیو د اعتبار پیاوړې کول | | ۲۰۱۷ | دوامداره | د اسناد او اړیکو آمریت او د پولي سیاست آمریت |

- د پولي سیاست د اړاني ارزونه: د افغانستان بانک کې اوسمهال د پولي سیاست طرحه د پولي مقداري شاخصونو (Monetary Aggregate Targeting) په بنسټ کولو سره ترسره کیږي. د همدې لپاره د پولي سیاست اړانه (Monetary Policy Framework) د نړیوال منل شویو طریقو په کارولو سره تر هر اړخیزې ارزونې او کتنې لاندې نیول کیږي څو د موخې د ترلاسه کونې طریقې ته د دې طریقې د اوښتون لپاره شونې لارې ځانګړې او له مخې یې پولي سیاست طرحه او تطبیق شي.
- په عالي شورا کې د پولي سیاست د اختصاصي کمیټې (فرعي کمیټې) جوړول: په عالي شورا کې د پولي سیاست د اختصاصي کمیټې جوړول یو له هغو اقداماتو څخه ګڼل کیږي چې کولای شي د پولي سیاست اغېزناکې زیاته کړي. دا کمیټه کولای شي چې د ملي اقتصاد د کړنې او د هېواد او نړۍ د اقتصادي بدلونونو په پام کې نیولو سره د پولي سیاست د طرحې جوړولو بنسټیزه تګلاره تر کتنې لاندې ونیسي او د مالي سکتور او ملي اقتصاد پر پراختیا باندې د پولي سیاست اغېزې په کره توګه وارزوي.
- د پولي سیاست د ابزارونو د تنوع لپاره د بیه لرونکو پاڼو د ثانوي بازار دودول او د هغه د شونتیا سنجول: د پولي سیاست طرحه او تطبیق یوازې د بیه لرونکو پاڼو لپاره د ثانوي بازار (Secondary Market) د شتون په صورت کې اغیزناکه کیدای شي. دا ځکه چې یوازې د شته ابزارونو کارول نه یوازې بسنه نه کوي، بلکې په اوږد مهاله توګه د بیو د کچې د ټیکاو په موخه د ملي پیسو د راټولولو لپاره د هېواد د اسعاري زیرمو دوامداره کارونه د هېواد په ګټه نه ده. له همدې امله مسئولې شعبې د دې فعالیت لاندې د پولي سیاست د بیلابیلو ابزارونو د تنوع او کارونې امکانات تر څېړنې لاندې نیسي. همدا ډول، پر پولي سیاست باندې د اسلامي بانکدارۍ د رایجو ابزارونو د کارونې اغېزې تر کتنې لاندې نیسي او د دې ابزارونو د دودولو په برخه کې هڅې کوي.
- د افغانستان بانک پر سیاستونو د خلکو د باور د زیاتولو په موخه د پالیسو د اعتبار پیاوړې کول: د افغانستان بانک په هېواد کې یو له معتبره پولي او مالي ادارو څخه ګڼل کېږي. د دې اداري هر ډول سیاست جوړونه د وګړو او کورنیو پر ژوند په مستقیمه او یا غیر مستقیمه توګه اغیز کوي. د افغانستان بانک د سیاستونو د ارزښت په پام کې نیولو سره د خلکو د باور

د زیاتولو په موخه د دې اداري د پالیسی د اعتبار (Policy Credibility) پیاوړتیا هم خورا ارزښت لري. له همدې کبله، تر دې فعالیت لاندې مسئولې شعبې اړ دي څو د عامه پوهاوی د پروګرامونو د جوړولو په ګډون د بیلابیلو طریقو په کارولو سره د دې بانک د سیاستونو او پالیسیو په اړه د خلکو رضایت ترلاسه کړي. د اسنادو او اړیکو لوی آمریت د افغانستان بانک د یوازیني نشراتي او ارتباطي اداري په توګه تل او په خپل وخت د افغانستان بانک عمومي سیاستونه او د هیواد د بانکي نظام کړنې د بیلابیلو نشراتي او ارتباطي ابزارونو او وسایلو له لارې د ذینفعو شریکانو په واک کې ورکړي او د پولي سیاست د لوی آمریت د کړنو په ځانګړې توګه د Policy ) Credibility ) د خپرولو او د بانک د سیاستونو او پالیسیو په اړه د شریکانو د متقاعد کولو په برخه کې به خپلې هڅې جاري ساتي. دا کار د سیمینارونو، ورکشاپونو او خبري کنفرانسونو د جوړولو، اکاډمیکې (علمي) ټولنې ته د پرزنټیشنونو د وړاندې کولو، د بانک د مجلې، ویب پاڼو او د فیسبوک، ټویټر او ګوګل پلس په شان ټولنیزو شبکو له لارې د خبرتیاوو د خپرولو، د مجلو او کلني راپورونو د خپرولو او د بلبورډونو په لګولو سره د عامه پوهاوی د پروګرامونو د جوړولو له لارې ترسره کیږي.

### ۲. له اقتصاد څخه د ډالرو د لرې کولو (Dedollarization) د بهیر ګړندي کول

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

| د فعالیت عنوان | د اجرا ا تو اندازه | د پیل نېټه | د پای نېټه | مسؤل ډیپارټمنټ/ډیپارټمنتونه |
|---|---|---|---|---|
| د چارو د همغږۍ او د ډالرو د لرې کولو په برخه کې د عمومي سمبالښت په موخه د ملي کمیټې همغږي | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۷ | د پولي سیاست آمریت او د اسنادو او اړیکو آمریت |
| د ملي پیسو د کارونې د دودولو لپاره د پراخې طرحې جوړول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | د پولي سیاست آمریت |
| د ملي پیسې د لا کارونې په موخه د خلکو هڅول او د دودولو لپاره یې هڅو زیاتول | | ۲۰۱۷ | دوامداره | د اسنادو او اړیکو آمریت او د پولي سیاست آمریت |
| د هیواد په بانکي او مالي سیستم کې د ډالرو د لرې کولو په برخه کې (Market-based Measures) د غیر اجباري او هڅوونکي اقداماتو ترلاس لاندې نیول | | ۲۰۱۸ | ۲۰۱۸ | د پولي سیاست آمریت، د مالي چارو د څارنې آمریت او د مالي خدمتونو د پراختیا آمریت |

- د ډالرو د لرې کولو په برخه کې د چارو د همغږۍ او د عمومي سمبالښت په موخه د ملي کمیټې همغږي: د افغانۍ د دودولو ملي کمیټه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د کابینې د تصویب له مخې د سکتوري ادارو او وزارتونو څخه جوړه شوې او د افغانۍ د دودولو د کړنلارې پر ترتیبولو باندې کار کوي. د پولي سیاست لوی آمریت د افغانستان بانک لخوا په دې کمیټه کې د ګډون او د کړنو د همغږۍ مسئولیت پرغاړه لري.
- د ملي پیسو د کاروني د دودولو لپاره د جامع طرحې جوړول: په معاملو او راکړو ورکړو کې د افغانۍ کارول د افغانستان بانک له بنسټیزو دندو څخه ګڼل کیږي. دا کار نه یوازې د پولي سیاست اغیزناکې زیاتوي او د بیو ټیکاو پیاوړی کوي، بلکې کولای شي چې د اقتصاد د ډالري کېدو څخه هم مخنیوی وکړي. له همدې کبله د افغانستان بانک د پولي سیاست آمریت د امنیتي او سکتوري ادارو او د قانون د پلي کوونکي ادارو په همکارۍ د ملي پیسې د کاروني د دودولو لپاره یوه پراخه طرحه جوړه او د تطبیق په موخه یې له اړوندو ادارو سره شریکوي.
- د ملي پیسې د لا کاروني په موخه د خلکو هڅول او د دودولو لپاره یې د هڅو زیاتول: د اسنادو او اړیکو آمریت په خپل وار تل هڅه کړې ده څو د بیلابیلو ابزارونو له لارې د خلکو د ذهنونو په روښانه کولو کار وکړي چې بې له شکه د خلکو په ذهنیت جوړولو کې یې ګټوره رول لوبولی دی. له هغه ځایه چې د خلکو د ذهنونو د روښانه کولو پروسه یوه اوږده پروسه ده او ډېرې حوصلې ته اړتیا لري، نو پکاره ده چې دا پروسه د مخکې په شان دوام پیدا کړي او د وخت په تېرېدو سره نوي او تازه تبلیغاتي ابزارونه په لګښت لرونکو او نه لګښت لرونکو برخو کې وکاروي. د اسنادو او اړیکو آمریت په پام کې لري چې دا موضوع په مرکز او ولایتونو کې د غږیزو او انځوریزو رسنیو له لارې د افغانۍ د دودولو د کلیپونو د خپرولو، د بلبوردونو د لګولو، د انځوریزو رسالو، بروشورونو، د افغانۍ د دودولو د پوسترونو، د افغانۍ د دودولو له شعارونو او خبرتیاوو سره د بانک د جنترۍ، د افغانۍ د دودیدو په اړه د پیغام درلودونکي پلاستیکي کڅوړو د جوړولو، د ښوونځیو د بکسونو، کتابچو، قلمونو او داسې نورو ابزارونو د جوړولو له لارې د خلکو ذهنونه

روښانه کړي او د راکړې ورکړې پر مهال يې د افغانی کاروني ته اړ او په يو ډول نه يو ډول يې د افغانی د دوديدو په پروسه کې شامل کړي. د يادولو وړ ده چې دې آمريت د لګښت لرونکو پروګرامونو ترڅنګ يو شمېر لګښت نه لرونکي پروګرامونه هم په پام کې نيولي دي چې له دې ډلې کولای شو د بانک له مجلې، د افغانستان بانک د ويب پاڼې، د افغانستان بانک د ټولنيزو شبکو لکه: فيسبوک، ټويټر او ګوګل پلس، په ښوونځيو کې د پرزنټيشنونو د وړاندې کولو، د سوداګرو او د کسبګرو له ټولنې او عالمانو سره د مخامخ خبرو له لارې څو دا موضوع په جوماتونو او نورو مذهبي ځايونو کې د تبليغ له لارې د خلکو ذهنونو ته ورسوي او خلک دې ته اړ کړي څو دا کار د خپلې ملي دندې په توګه ترسره کړي، يادونه وکړو. د يادونې وړ ده چې دا پروګرامونه د بودجې په تخصيصولو سره د هر مالي کال په څلورو ربعو کې په لاره اچول کيږي.

- د هېواد په بانکي او مالي سيستم کې د ډالرو د لرې کولو په موخه د غير اجباري او هڅوونکو تدبيرونو او اقداماتو(Market-based Measures) تر لاس لاندې نيول: اجباري تدبيرونه او اقدامات چې ډېری د دولت لخوا په معاملو کې د افغانۍ د لا کاروني او د بهرنيو اسعارو د مخنيوی په موخه نيول کيږي، ګټورې اقتصادي اغېزې نه لري. له همدې کبله دا اقدامات په غير اجباري توګه نيول کيږي. دا کار لامل کيږي چې په افغانی باندې د خلکو باور زيات شي او له هغه څخه په خپلو معاملو او د پولي شتمنيو په ساتلو کې ګټه واخلي.

**۳. د اقتصادي معلوماتو، څېړنو او تحليلونو د تر ټولو معتبره مرجع په توګه د افغانستان بانک د موقعيت تثبيتول:**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کيږي:

| د فعاليت عنوان | د اجراا تو اندازه | د پيل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډيپارټمنټ/ډيپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|
| د لوی اقتصاد د متحولينو لکه د پولي انفلاسيون نرخ، کورني ناخالصه توليدات او داسې نورو لپاره د وړاندې وينې د موډلونو جوړول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۲۰ | د پولي سياست آمريت |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د پولي او مالي احصائیو د کیفیت ښه کول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۲۰ | د پولي سیاست آمریت |
| د ادواینو بیلانس د تدوینولو په برخه کې له BPM5 سیستم څخه BPM6 سیستم ته په بشپړ توګه لوړول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۲۰ | د پولي سیاست آمریت |
| د نړیوالې پانګونې د وضعیت د احصائیې سیستم په بشپړه توګه له IIPM5 سیستم څخه IIPM6 سیستم ته لوړول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۷ | د پولي سیاست آمریت |
| د شننو، څېړنو او احصائیو د لا ښه والي لپاره د سکتوري سروې ګانو ترسره کول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۲۰ | د پولي سیاست آمریت |
| د څېړنو ور متمرکزو پالیسیو د اتخاذولو لپاره د علمي او نویو څېړنو ترسره کول | | ۲۰۱۷ | دوامداره | د پولي سیاست آمریت |
| د اقتصادي متحولینو یا د macroeconomic variables ډیټابیس جوړول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | د پولي سیاست آمریت، د معلوماتي تکنالوژی آمریت او د مالي سکتور د پیاوړتیا پروژه |
| په آنلاین او چاپي ډول د څېړنیزو څېرونو نشرول | | ۲۰۱۸ | ۲۰۲۰ | د پولي سیاست آمریت او د اسنادو او اړیکو آمریت |
| د څېړنو او وړاندې وینو د کیفیت ښه والي په موخه د پولي سیاست آمریت کارکوونکو لپاره د عملي اقتصاد سنجونې په برخه کې (Applied Econometrics) د روزنیزو پروګرامونو جوړول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۲۰ | د پولي سیاست آمریت |

- د لوی اقتصاد د متحولينو لکه د پولي انفلاسيون نرخ، کورني ناخالصه توليداتو او داسې نورو لپاره د وړاندې ويني د موډلونو پراختيا: د اقتصاد د مهمو متحولينو کره وړاندوينه د اقتصاد له بنسټيزو فکتورونو څخه ګټه کيږي او د اقتصادي سياستونو په تېره بيا د پولي سياست په طرحه کې ډېر ارزښت لري. د دقيقو موډلونو کارول يوازينۍ طريقه ده چې کولای شو په مرسته يې اقتصادي لوی بدلونونه پيش بيني کړو. له همدې کبله د دقيقو شمېرو په مرسته د اقتصادي متحولينو د وړاندې ويني لپاره د اقتصادي موډلونو جوړول ډېر اړين دي چې د پولي سياست د لوی آمريت لخوا طرحه او ترسره کيږي.
- د پولي او مالي احصائيو د کيفيت ښه والی: تر دې فعاليت لاندې د سکتور د سروېګانو شته طريقه تر ارزونې لاندې نيول کيږي او له نړيوالو معيارونو سره عيارېږي. په ورته وخت کې د غوره شننو او د احصائيو (شمېرو) د کيفيت د ښه والي په موخه د ارقامو د طريقو تدوينول، جدول بندي او راپور ورکونه تر ارزونې لاندې نيول کيږي.
- د ادوينو بيلانس د تدوين په برخه کې په بشپړه توګه له BPM5 سيستم څخه BPM6 سيستم ته لوړول: د ادواينو بيلانس د ملي اقتصاد يو له هغه حسابونو څخه ګڼل کيږي چې په يوه ټاکلي دوره کې له بهرنيو هېوادونو سره د هېواد ټولې اقتصادي مبادلې ښکاره کوي. د افغانستان بانک د پولي سياست آمريت د هېواد د ادواينو د بيلانس د راټولولو، ترتيبولو او شننې مسئوليت پرغاړه لري. د هېواد د ادواينو د بيلانس ارقام د پيسو د نړيوال صندوق له لارښوونو سره سم طرحه او ترتيبيږي. دا لارښوونې د يادې اداري لخوا د نړيوالو شرايطو او غوښتنو په پام کې نيولو سره عملي کيږي او د دې اداري غړو هېوادونو ته د تطبيق لپاره استول کيږي. له هغه ځايه چې افغانستان د پيسو د نړيوال صندوق غړی هېواد دی، د دې اداري د نويو لارښوونو سره سم د ادواينو د بيلانس د اړوندو احصائيو معياري کول اړين او حتمي دی. د همدې لپاره له پخواني لارښوود (Balance of Payments Manual 5th) څخه نوي لارښوود (Balance of Payments Manual 6th) ته د ادواينو د بيلانس د ارقامو د وړاندې کولو بهير لوړ او عيار شوی دی.
- د نړيوالې پانګونې د وضعيت د احصائيې سيستم په بشپړه توګه له IIPM5 سيستم څخه

IIPM6 سيستم ته لوړول: د پولي سياست آمريت د هېواد د نړيوالو پانګونو د معاملو د احصائيوي شمېرو د راټولولو، ترتيبولو او شننو مسئوليت پرغاړه لري، د احصائيوي ارقامو دا شتون د هېواد د پانګې د راتلو او وتلو بهير منعکسوي او د اقتصادي پاليسيو په طرحه او شننه کې مرسته کوي. د هېواد د نړيوالې پانګونې د موقف ارقام د پيسو د نړيوال صندوق(IMF) له لارښوونو سره سم طرحه او ترتيبيږي. دا لارښوونې د نړۍ د شرايطو او غوښتنو په پام کې نيولو سره د همدې ادارې لخوا نوي کېږي او د تطبيق لپاره غړو هېوادونو ته استول کيږي. له هغه ځايه چې افغانستان د دې ادارې غړی هېواد دی، د دې ادارې له نويو لارښوونو سره سم د نړيواله پانګونو د موقف اړونده احصائيو معياري کول يو اړين شرط ګڼل کيږي. له همدې کبله، د اداينو د بيلانس د ارقامو طرحه او ترتيب د پخواني لارښوود يعني (International Investment Position Manual 5th) څخه نوي لارښوود (International Investment Position Manual 6th) ته لوړيږي. د دې لپاره چې د هېواد د نړيواله پانګونو د موقف د احصائيو د راټولولو ميتود له پنځم لارښود څخه شپږم لارښود ته لوړ شي، بايد ځيني لومړني پړاوونه لکه د همغږۍ لپاره منابعو ته مراجعه کول او د اړتيا په وخت کې د سروې ګانو په لاره اچول او د دې ترڅنګ د پيسو د نړيوال صندوق د سپارښتنو تطبيقول او د ستونزو هوارول، ترسره شي.

- د تحليلونو، څېړنو او احصائيو د لا پياوړتيا په موخه د سکتوري سروې ګانو ترسره کول: د هېواد د اقتصادي ارقامو د کيفيت او پوښښ د لوړولو په موخه د افغانستان بانک ژمن دی چې ځيني اړوندې شمېرې د نورو اړوندو ادارو سره په همغږۍ کې سروې او اټکل کړي چې له دې ډلې کولای شو د کاري عوايدو د اټکلولو او د مستقيمې بهرنۍ پانګونې (Foreign Direct Investment) په موخه له کورنۍ سروې ( Household Survey) څخه نوم واخلو. دا چې دا ډول سروې ګانې ډېر لګښت او وخت نيسي، د نورو اړوندو ادارو همکاري د هغه له بنسټيزو شرايطو څخه شمېرل کيږي. دا ډول سروې ګانې نه يوازې د ځينو مهمو اقتصادي ارقامو په راټولولو کې مرسته کوي، بلکې د هېواد د اقتصادي شرايطو او وضعيت په اړه د لا ښه او کره تحليلونو او څېړنو لپاره لاره هواروي.

- د څېړنو د متمرکزو پالیسیو د اتخاذولو په موخه د علمي او نویو څېړنو ترسره کول: اوس مهال په اقتصادي پدیدو کې د شته پیچلتیاوو او د اقتصادي متحولینو ترمنځ د اړیکو له امله د هر ډول اقتصادي سیاست د اتخاذولو دمخه د هغه په اغېزو او عواقبو باندې غور خورا ارزښت لري. په نړۍ کې ډېری مرکزي بانکونو په خپل پولي او اقتصادي سیاست جوړونه کې د څېړونو په ارزښت پوهیدلي دي. او د خپلو څېړنیزو برخو د پیاوړتیا لپاره ډېرې هڅې کوي. څېړنو؛ سیاست جوړوونکو ته موخو ته د رسېدو لپاره سمې لارې توصیه کړې او د بنسټیزو ستونزو په حلولو کې یې ورسره مرسته کړې ده. د افغانستان بانک د پولي سیاست د اغېزناکۍ د پیاوړتیا په موخه د پولي سیاست آمریت هڅه کوي څو د اقتصادي څېړنو په پیاوړتیا سره د بانک له مدیریت سره د مناسبو سیاستونو په اتخاذولو او ترسره کولو کې مرسته وکړي.
- د اقتصادي متحولینو (Macroeconomic Variables) د ډېټابیس جوړول: د هېواد د شته اقتصادي شرایطو په اړه د سمې او کره شنني او د مناسبو او اغېزناکه سیاستونو د طرحې او اتخاذولو لپاره احصائیې او ارقام ډېر مهم رول لوبوي. د اقتصادي متحولینو هر اړخیزه او کره ارقام او احصائیې د افغانستان بانک ته اجازه ورکوي څو د هېواد د اقتصادي وضعیت په اړه د بشپړې او سمې پوهې سره خپل پولي او خارنیز سیاستونه تدوین کړي او د بالقوه خطرونو سره د مبارزې لپاره له شرایطو سره سم متناسبه سیاستونه اتخاذ کړي. د اقتصادي متحولینو په اړه د سمو او دقیقو ارقامو او احصائیو نه شتون سیاست جوړوونکي د غیر متمرکزه او بې موخې پالیسیو په اتخاذولو اړ باسي.
- په آنلاین او چاپي ډول د څېړنیزو خپرونو نشرول: د افغانستان بانک د هېواد د مرکزي بانک په توګه هڅه کوي چې د اقتصادي وضعیت او د هېواد د پولي سیاستونو د اړوندو موضوعاتو په اړه د څېړنیزو مطالبو په خپرولو سره د هېوادوالو اقتصادي پوهه زیاته کړي. په ورته وخت کې دا څېړنیزې خپرونې د بانک او د بهرنیو علمي او څېړنیزو مرکزونو ترمنځ د ګډورو خبرو اترو په موخه لازمه فضا او اډانه رامنځ ته کوي چې دا کار د بانک د سیاستونو او کړنو اغېزناکي زیاتوي.
- د څېړنو او وړاندې وینو د کیفیت د ښه والي په موخه د پولي سیاست آمریت د

کارکوونکو لپاره د اقتصاد سنجولو (Applied Econometrics) د روزنیزو پروګرامونو برابرول: اقتصاد سنجونه (Econometrics) د اقتصاد پوهانو او څېړونکو په واک کې داسې ابزار ورکوي چې په مرسته يې وکړای شي اقتصادي پديدې تر کتنې لاندې ونيسي او د اقتصادي متحولونو ترمنځ د شته اړيکو په کارونې سره پر نورو متحولونو او لوی اقتصاد باندې د هغې د بدلون اغېزې وڅېړي او په اړه يې وړاندوينه وکړي. د اقتصادي څېړوونکو لپاره د دې وړتيا درلودل يو اړين شرط ګڼل کيږي. په همدې موخه د پولي سياست آمريت په پام کې لري څو په درېو پړاوونو کې د اقتصاد سنجونې روزنيز پروګرامونه جوړ کړي. په لومړي پړاو کې به ټولو کارکوونکو ته د احصائيې د علم او د اقتصاد سنجونې اړونده لومړنيو موضوعاتو په اړه روزنه ورکول کيږي. په دوهم او درېم پړاوونو کې به دا وړتياوې په منځنيو او پرمختللو کچو کې دوام پيدا کوي. د دا ډول روزنيزو پروګرامونو جوړول د پولي سياست آمريت کارکوونکي د دې جوګه کوي څو د ارقامو په اړه د سمې او کره پوهې او شننې وړتيا ولري او له دې لارې د افغانستان بانک د پولي سياست له اغيزناکې سره مرسته وکړي.

### ۴. په ملي او نړيواله کچه د اړيکو پياوړتيا

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کيږي:

| د فعاليت عنوان | د اجراآتو اندازه | د پيل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډيپارټمنټ/ډيپارټمنتونه |
|---|---|---|---|---|
| د معلوماتو د شريکولو او د پاليسيو په طرحه کې د همغږۍ په موخه د ملي او نړيوالو ادارو او مؤسسو سره د اړيکو ټينګول او اغيزناکه کول | | ۲۰۱۷ | دوامداره | د پولي سياست آمريت او د اسنادو او اړيکو آمريت |

- د معلوماتو د شريکولو او د پاليسيو په طرحه کې د همغږۍ په موخه د ملي او نړيوالو ادارو او مؤسسو سره د اړيکو ټينګول او اغيزناکه کول: د پولي سياست لوی آمريت د معلوماتو د شريکولو او د پاليسيو په طرحه کولو کې د همغږۍ په موخه له داخلي دولتي او غير دولتي ادارو او نړيوالو مؤسسو لکه؛ د پيسو نړيوال صندوق، نړيوال بانک، د سارک سازمان او داسې نورو سره خپلې اړيکې ټينګې کړي او د دې اړيکو په ساده کولو او اغېزناکه کولو کې هڅه کوي.

## VI. دويم ستراتيژيک اصل: د مالي نظام د ټيکاو د تأمينولو په موخه د حقوقي، مقرراتي او څارنيزو بېخبنسټونو او اډانې ټينګښت

### الف – د دويم اصل تعريف

د مالي نظام د ټيکاو د تأمينولو په موخه د حقوقي، مقرراتي او څارنيزو بېخبنسټونو او اډانې څخه موخه عبارت دی له: د افغانستان بانک د مالي نظام د ټينګښت او ټيکاو او د هېواد په بانکي سيستم باندې د خلکو د باور د زياتولو په موخه، بېخبنسټونه او حقوقي، مقرراتي او څارنيزې اډانې پياوړې کوي. په دې برخه کې د شته نګونو د رفع کولو په موخه د افغانستان بانک هغه موخې ځانګړې کوي چې د هغه په ترڅ کې شته قوانين او مقررې د افغانستان د بانکدارۍ او مالي سيستم له مناسبو تګلارو (طريقو) سره سم ښه والی ومومي او د خطر پر بنسټ څارنيز سيستم (د خطر پر بنسټ ارزونه) د څارنيز سيستم برخه شي چې دا په بانکي سيستم باندې د خلکو د اعتماد د زياتېدو لامل کيږي.

### ب – د دويم اصل موخې

لاندني ځانګړې موخې له دويم ستراتيژيک اصل سره تړاو لري:

۱. د افغانستان پر اداري او کړنې د واکمنې حقوقي اډانې اصلاح او پياوړتيا؛

۲. له ملي شرايطو او نړيواله معياروونو سره د بانکدارۍ د قوانينو او مقررو عيارول؛

۳. د حقوقي بېخبنسټونو پراختيا او د عامه اعتبارونو د ثبت د سيستم او د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت سيستم د کارونې پراختيا؛

۴. د بانکونو د راپور ورکولو د ډول د معياري کول او د څارنيز ظرفيت زياتول؛

۵. د خطر د موضوع پر بنسټ د څارنيزې طريقې کارول؛

۶. په هېواد کې د بانکي کړنو معياري کول؛

۷. د پيسو د وينځلو او د ترهګرۍ د تمويل په وړاندې د مبارزې د قانوني اډانې پياوړې کول؛

۸. د مالي استخباراتو د اداري د معلوماتي تکنالوژۍ د سيستم معياري کول؛

۹. په هېواد کې د پيسو وينځلو او د ترهګرۍ د تمويل د خطرونو ارزول؛

۱۰. د پيسو د وينځلو او د ترهګرۍ د تمويل پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د قانون پلي کوونکو ادارو او عامه خلکو د پوهاوۍ د کچې لوړول؛

۱۱. د بانکي کړکيچونو د رامنځ ته کېدو پر مهال د مالي سيستم د ټيکاو ساتل؛

### ج– د دويم اصل اړوندې کړنې

هره پورتنۍ موخه يو يا څو کړنې رانغاړي. د دې کړنې موخه هغه کړنې او اجراات دي چې له لارې يې د ستراتيژيک اصل اړوندو موخو ته لاسرسۍ اسانه کيږي. دا کړنې لاندې موارد رانغاړي.

**۱. د افغانستان بانک پر اداري او کړني د واکمني حقوقي اړاني اصلاح او پیاوړتیا**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

| مسئول ډیپارټمنټ/ډیپارټمنټونه | د پای نېټه | د پيل نېټه | د اجراآتو اندازه | د فعالیت عنوان |
|---|---|---|---|---|
| د حقوقي مشاوريت دفتر | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۷ | | د افغانستان بانک د قانون تعديلول |

- د افغانستان بانک د قانون تعديلول: د افغانستان بانک پر اداري او کړنو باندې د واکمنې حقوقي اړاني د اصلاح او پیاوړتیا لپاره د افغانستان بانک د قانون تعديلولو ته اړتيا لري.

**۲. له ملي شرايطو او نړیوالو معیارونو سره د بانکدارۍ د قوانينو او مقررو عیارول**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

| مسئول ډیپارټمنټ/ډیپارټمنټونه | د پای نېټه | د پيل نېټه | د اجراآتو اندازه | د فعالیت عنوان |
|---|---|---|---|---|
| د مالي چارو د څارنې آمريت، د حقوقي مشاوريت دفتر، د مالي ټینګښت د پروژې دفتر | ۲۰۱۸ | ۲۰۱۷ | | د بانکدارۍ د نوي قانون او د نړیواله پیژندل شویو معیارونو سره سم د دوديزې بانکدارۍ او د اسلامي بانکدارۍ د نافذه مقررو تعديلول |
| د مالي چارو د څارنې آمريت، د حقوقي مشاوريت دفتر، د مالي ټینګښت د | ۲۰۱۸ | ۲۰۱۷ | | له څارنيزو اړتیاوو سره سم د نويو مقررو جوړول او تصويبول |
| د حقوقي مشاوريت دفتر او د بانکي عمليات آمريت | ۲۰۱۹ | ۲۰۱۷ | | د معاملې وړ سندونو د قانون بیا کتنه (Negotiation Instruments Law) |

- د بانکدارۍ د نوي قانون او له نړیواله پیژندل شویو معیارونو سره سم د رایجې بانکدارۍ او د اسلامي بانکدارۍ د نافذه مقررو تعديلول: د بانکدارۍ په قانون کې د وارد شويو تعديلاتو پر بنسټ اړتيا ليدل کيږي څو بانکي مقررې هم تعديلې شي. دا مقررې د اړوندو اشخاصو مقرره، د ښې اداري مقرره، د پيسو د وينځلو او د ترهګرۍ د تمويل پر

وړاندي د مبارزې مقرره، د جواز ورکولو مقرره، د ونډې د بدلون مقرره، د سیالیت مقرره، د پانګې د کفایت مقرره، د تنفیذي اقداماتو مقرره، د پولي خدمتونو د وړاندي کوونکو مقرره، د الکترونیکي پیسو د ادارو مقرره او د ورکړې د سیستمونو مقرره رانغاړي.

- له څارنیزو اړتیاوو سره سم د نویو مقررو جوړول او تصویبول: دا چې بانکي کړنې د پراختیا په حال کې دي، اړینه ده څو د هغوي د کړنو بیلابیلې برخې منظمې شي. د بانکونو او د نورو جواز لرونکو ادارو د مسئولیت د روښانه کولو لپاره د مالي چارو د څارنې آمریت په پام کې لري څو نوي مقررې جوړې او تصویب کړي. دا مقررې په لاندې ډول دي: د بانکونو د پراختیا مقرره، د داخلي کنټرول او تفتیش مقرره، له قوانینو سره د مطابقت مقرره، د خطرونو د مدیریت مقرره، د اعتباري خطرونو د مدیریت مقرره، د ثابتو شتمنیو مقرره، د عملیاتي خطرونو د مدیریت مقرره، د استرس د ازمایښت مقرره، د هیوادونو او د لیږدونو د خطرونو مقرره، د بازار د خطرونو د مدیریت مقرره، د ټکتاني د نرخ مقرره، د پولي ځخه بهر د څارنې مقرره، د اختصاصي بانکونو مقرره، د مالي بازارونو مقرره، د دلالی مقرره، د بهرني تفتیش مقرره، د مشتریانو د ساتنې مقرره، د اسلامي معاملو مقرره او داسې نور.
- د معاملې وړ سندونو د قانون (Negotiable Instruments Law) بیاکتنه: د معاملې وړ سندونو د قانون اصلاح، د حقوقي اداني پیاوړتیا او د نیمګړتیاوو د بشپړولو لپاره باید لاندې کړنې ترسره شي: په بشپړه توګه د قانون د متن کتل، د هغه د ناڅرګندو ټکو (ابهاماتو) پېژندل او د اصلاحاتو وړاندې کول، له توضیحاتو سره یو ځای د قانون په متن کې د اړینو تعدیلاتو ترتیبول او د تصویب او توشیح په موخه د هغه طی مراحل.

## ۳. د حقوقي ښېښنسټونو پراختیا او د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم او د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت سیستم د کاروني پراختیا

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

| د فعالیت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پیل نېټه | د پای نېټه | مسئول دیپارټمنټ/دیپارټمنتونه |
|---|---|---|---|---|
| د غیر منقولو اموالو د رهن د قانون تعدیلول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | د عامه اعتبارونو د ثبت د اداري دفتر او د حقوقي مشاوریت دفتر |
| د غیر منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت د سیستم جوړول | | ۲۰۱۸ | ۲۰۱۹ | د عامه اعتبارونو د ثبت د اداري دفتر او د حقوقي مشاوریت دفتر |
| د اعتباري راپورونو د ویش په موخه د مشتریانو د خدمتونو د الکترونیکي سیستم جوړول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۷ | د عامه اعتبارونو د ثبت د اداري دفتر او د حقوقي مشاوریت دفتر |
| د مالي مؤسسو لپاره د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستمونو د دودولو په موخه د عامه پوهاوی د پروګرامونو د دوېم او درېم پړاو جوړول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | د عامه اعتبارونو د ثبت د اداري دفتر او د مالی تینګښت پروژه |

- د غیر منقولو اموالو د رهن د قانون تعدیلول:
  - د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت په سیستم کې د غیر منقولو اموالو د ثبت د واک ورکولو په موخه د IFC نړیوالي مالي مؤسسې لخوا د غیر منقولو اموالو د رهن د قانون تعدیلاتو د مسودې ترتیبول چې د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت او د حقوقي مشاوریت د دفتر لخوا مرور او د توشیح لپاره لیږل کیږي.

- د غیر منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت د سیستم جوړول:
  - د غیر منقولو اموالو د رهن قانون د تعدیلاتو له تنفیذ وروسته د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت به د تمویل کوونکو مؤسسو په همکاری د غیر منقولو اموالو د ثبت د سیستم جوړښت په موخه یوه هره اړخیزه مطالعه تر لاس لاندې نیسي؛
- د اعتباري راپورونو د وېش په موخه د مشتریانو د خدمتونو د الکترونیکي سیستم جوړول؛
- د مالي مؤسسو لپاره د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستمونو د دودولو لپاره د عامه پوهاوی د پروګرامونو د دوېم او درېم پړاو جوړول: د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت د تېر کال په اوږدو کې د عامه پوهاوی لومړی پړاو د ورکشاپونو په جوړولو سره په بریالیتوب سره پای ته رسولی دی چې په هغه کې په ټولیزه توګه شاوخوا ۷۰۰ تنو د دولتي، غیر دولتي ادارو کارکوونکو او نورو لیوالـه افرادو ګډون کړی ؤ. د روزنیزو ورکشاپونو د اغېزناکی په پام کې نیولو سره د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت پریکړه کړې څو په دوېم او درېم پړاو کې لا زیات پروګرامونه تر لاس لاندې ونیسي.

**۴. د بانکونو د راپور ورکولو د طریقې معیاري کول او د څارنیز ظرفیت لوړول**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

| د فعالیت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پیل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډیپارتمنټ/ډیپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|
| د بانکونو د اتومات راپور ورکونې او د اړوندو لارښوودنو د چمتو کولو د پروسې د ګړندیتوب په موخه د Offsite Authomation سیستم طرح او تطبیقول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۲۰ | د مالي چارو د څارنې آمریت، د حقوقي مشاوریت دفتر او د مالي سکتور د ټیګښت د پروژې دفتر |
| د روزنیزو او اختصاصي پروګرامونو جوړول په تېره بیا د کارکوونکو لپاره د تصدیق لیکونو/ مسلکي کورسونه برابرول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۲۰ | د مالي چارو د څارنې آمریت او د بشري منابع آمریت |

- د بانکونو د اتومات راپور ورکونې او د اړوندو لارښوودنو د چمتو کولو د پروسې د ګرندیتوب په موخه د Offsite Authomation سیستم طرح او تطبیقول: د بانکونو د مالي راپورونو د تنظیم، چټکتیا او کره والي او د دې بانکونو د څارنې د ښه والي لپاره اړینه ده چې د راپور ورکولو اتومات سیستم نصب او فعاله شي. د دې سیستم په مرسته به هره ورځ د بانکونو راپورونه نیغ په نیغه د مالي چارو د څارنې له آمریت سره شریک شي. دا سیستم د څو مالي شاخصونو د سنجش د وړتیا ترڅنګ د راپورونو د ساتلو او ثبتولو توان هم لري. له همدې کبله په پام کې ده څو د دې سیستم سختکالي او پوستکالي چې د اعتماد وړ او خوندي وي، جوړ شي او په دې برخه کې لازمه امکانات او روزنې او همدا ډول د مالي چارو د څارنې بېلابېلو برخو لپاره معلوماتي بانکونه برابر شي. دا معلوماتي بانکونه د جواز ورکونې، د ساحې دننه څارنې، ځانګړې څارنې او د غیر بانکي ادارو د څارنې په برخو کې جوړ شوي او لازمه وړتیاوې به ولري.
- د روزنیزو او اختصاصي پروګرامونو جوړول په تېره بیا د کارکوونکو لپاره د تصدیق لیکونو/ مسلکي کورسونه برابرول: د مالي چارو د څارنې آمریت د کارکوونکو د پوهاوي د کچې د لوړولو لپاره اړینه ده چې د هېواد دننه او بهر روزنیز پروګرامونه جوړ او د کارکوونکو وړتیاوې د څارنیز او د مالي نظام د وضعیت په برخو کې له بدلونونو سره سم عیاري شي. له همدې کبله په پام کې ده څو په اړتیا وړ برخو کې معیاري روزنیز پروګرامونه چې معتبره تصدیق لیکونه ولري، په لاره واچول شي. دا پروګرامونه په لاندې ډول دي: د خطر پر بنسټ څارنه، د کیمل سیستم، د بازل معیارونه، ټولیزه څارنه، مالي محاسبه، مالي شننې، د خطرونو مدیریت، د پولې هاخوا څارنه، د استرس ازمایښت، د ساحې دننه څارنه، د کمزوره بانکونو څارنه، د معلوماتي تکنالوژۍ د سیستمونو څارنه، د ورکړې د سیستمونو څارنه، د الکترونیکي پیسو د ادارو څارنه، د مالي درغلیو پېژندل، راپور لیکنه او داسې نور.

### ۵. د خطر پر بنسټ د څارنې د طريقې کارونه

| د فعاليت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پيل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډيپارټمنټ/ډيپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|
| د خطر پر بنسټ د څارنې (Riskbased Supervision) طرحه او تطبيقول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۹ | د مالـي چـارو د څارنې آمريت او د مالـي ټينګښت د پروژې دفتر |
| د خطر پر بنسټ د څارنې لـه طريقې او په دې برخه کـې د کارکوونکو د رزونې سره سم د څارنيزو لارښوودنو تعديلول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۹ | د مالـي چـارو د څارنې آمريت او د مالـي ټينګښت د پروژې دفتر |

• د خطر پر بنسټ د څـارنې( Risk-based Supervision) طرحه او تطبيقول: د بانکي څارنو د اغېزناکی د زياتولو لپاره اړينـه ده څو د څارنې طريقه د تېرو اجرااتو د څېړنې او له بانکي معيارونو سره سم د بانکي کړنـو د خطر پر بنسټ څارنې ته بدلون ومومي او مخکتونکي ځانګړنې ولري. د دې طريقې د پلي کولو لپاره اړينه ګڼل کيږي چې په څـو پړاوونو لکه؛ د مقرراتي اډانـې جـوړول، د پاليسيو او کړنلارو ترتيبول، د کافي څارنيـزو امکاناتو برابرول، د لازمـه روزنـو ورانـدې کول، په بانکي سکتـور کـې د څـارنيـزې همغږۍ زياتول او د خطرونـو د مـديريـت پياوړتيا په برخه کې اقدامات ترسره شي. پـه پام کې ده څو د نړيوال بانک پروژه د دې طريقې(تکلارې) د پلي کولـو لـپـاره اړيـن ګامونه اوچت کړي.

• د خطر پر بنسټ د څارنې د طريقې او پـه دې برخه کې د کارکوونکو له روزنې سره سـم د څارنيزو لارښوودنو تعديلول: دا چې د خطر پـر بنسټ څارنه، يوه نوې څارنيزه طريقـه ده، نـو اړينه ده چې د دې طريقې د معـيـارونـو او هېواد د بانکي وضعيت په پام کې نيـولـو سـره څارنيزې لارښوودنې تعديلې شي. سربېره پـر دې اړينه ده څو د دې طريقې (تکلارې) د پلي کيدلو په موخه څاروونکو ته د هېواد دننـه او بهر لازمه روزنيز پروګرامونه جوړ شي. په پـام کې ده څو د نړيوال بانک د پروژې پـه پـلـي کيدو سره په دې برخه کې هم اجراات ترسره شي.

**۶. په هېواد کې د بانکي کړنو معياري کول**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کېږي:

| د فعالیت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پیل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډیپارټمنټ/ډیپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|
| د پولي هاخوا او مدغمې خارنې د پیاوړتیا په موخه د داخلي پالیسی ترتیبول او له بهرنیو خارنیزو ادارو سره د هوکړه لیک لاسلیک کول | | ۲۰۱۸ | ۲۰۲۰ | د مالي چارو د خارنې آمریت، د حقوقي مشاوريت دفتر او د مالي ټینګښت د پروژې دفتر |

- د داخلي پالیسی ترتیبول او د پولي هاخوا او مدغمې خارنې د پیاوړتیا په موخه د بهرنیو خارنیزو ادارو سره د هوکړه لیک لاسلیک کول: دا چې په نورو هېوادونو کې د افغانستان د بانکونو د فعالیت د پراختیا امکان شتون لري، نو پکاره ده چې د بانکونو د پولي هاخوا او یو ځای (مدغم) خارنو د تنظیم لپاره لازمه تدبیرونه ونیول شي. له همدې کبله په پام کې ده چې د پولي هاخوا او یو ځای خارنې مقرره جوړه او تصویب شي او له مخې یې اړینې پالیسی او کړنلارې هم جوړې شي. د دې ترڅنګ په پام کې ده چې له اړتیا سره سم بهرنیو خارنیزو ادارو سره هوکړه لیکونه لاسلیک شي څو په راتلونکي کې د پولي هاخوا او یو ځای (مدغم) خارنې له ستونزو سره مخ نه شي.

**۷. د پیسو د وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې د قانوني اړخ پیاوړتیا**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کېږي:

| د فعالیت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پیل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډیپارټمنټ/ډیپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|
| د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوی د قانون تعدیلول | | ۲۰۱۸ | ۲۰۱۸ | د فنترااکا دفتر، د حقوقي مشاوريت دفتر او د مالي چارو د خارنې آمریت |
| د ترهګرۍ تمویل پر وړاندې د مبارزې د قانون تعدیلول | | ۲۰۱۸ | ۲۰۱۸ | د فنترااکا دفتر، د حقوقي مشاوريت دفتر او د مالي چارو د خارنې آمریت |
| د مالي استخباراتو اداري لپاره د معیاري پالیسیو او کړنلارو طرحه کول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۷ | د فنترااکا دفتر، د حقوقي مشاوريت دفتر او د مالي چارو د خارنې آمریت |

- د پیسو د وینځلو او له جرمونو ځخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوی د قانون تعدیلول: د یاد قانون د تعدیلیدو طرحه د ۲۰۱۷ زیږدیز کال په نیمایي کې وړاندې شوې او د ۲۰۱۸ زیږدیز کال په نیمایي کې به بشپړه شي. د پیسو د وینځلو او له جرمونو ځخه د ترلاسه شویو عوایدو پر وړاندې د مبارزې د قانون د تعدیلولو موخه د مالي اقداماتو د نړیوالې ډلې د سپارښتنو او د پیسو د وینځلو او له جرمونو ځخه د ترلاسه شویو عوایدو پر وړاندې د اغیزناکه مبارزې په برخه کې د اړوندو ادارو له اړتیاوو سره سم د یاد قانون نوي کول دي.
- د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې د قانون تعدیلول: د یاد قانون د تعدیلیدو طرحه د ۲۰۱۷ زیږدیز کال په نیمایي کې وړاندې کیږي او د ۲۰۱۸ زیږدیز کال په نیمایي کې بشپړیږي. د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې د قانون د تعدیلولو موخه د مالي اقداماتو د نړیوالې ډلې د سپارښتنو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د اغیزناکه مبارزې په برخه کې د اړوندو ادارو له اړتیاوو سره سم د یاد قانون نوی کول ګڼل کیږي.
- د مالي استخباراتو د اداري لپاره د معیاري

پالیسیو او کړنلارو طرحه کول: د نړیواله معاصرو معیارونو په ځانګړې توګه د مالي اقداماتو د نړیوالې ډلې د سپارښتنو سره سم د افغانستان د معاملو او مالي راپورونو د څیړنې مرکز د کړنو د همغږۍ په موخه لازمه پالیسۍ او کړنلارې طرحه او د حقوقي نظرونو له ترلاسه کولو وروسته د ریاست د مقام لخوا منظوریږي. د افغانستان د معاملو او مالي راپورونو د څیړنې د مرکز لخوا لازمې پالیسۍ، کړنلارې او لارښوودنې طرحه او د نړیوالو همکارانو د مشورو او حقوقي نظرونو له ترلاسه کولو وروسته نهایي کیږي.

**۸ د مالي استخباراتو د اداري د معلوماتي تکنالوژۍ د سیستم معیاري کول**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

| د فعالیت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پیل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډیپارټمنټ/ډیپارټمنتونه |
|---|---|---|---|---|
| د نوي الکترونیکي سیستم تطبیقول GoAML | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | د فنتراکا دفتر، د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت او د مالي ټیګښت پروژه |
| د فنتراکا لپاره له پیښو څخه د خلاصون د سایټ ( Disaster Recovery Site) جوړول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | د فنتراکا دفتر، د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت او د مالي ټیګښت پروژه |

- د نوي الکترونیکي سیستم تطبیقول (goAML): د افغانستان د معاملو او د مالي راپورونو د څېړنې مرکز لپاره د معلوماتي تکنالوژۍ نوی سیستم یوه مهمه اړتیا ګڼل کیږي او جوړيدل یې د دې اداري د عملیاتو د چټکتیا، روڼتیا او لا ښه کیفیت په موخه اړین ګڼل کیږي.
- د فنتراکا لپاره له پیښو څخه د ژغورولو د سایټ (Disaster Recovery Site) جوړول:

په فنتراکا کې د نوي سیستم له تطبیقولو وروسته اړینه ده څو د معلوماتو د بیا موندنې سایټ د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت او د مالي ټینګښت د پروژې په همکارۍ د مخابراتو په وزارت کې جوړ شي. د یاد مرکز د جوړولو موخه د معلوماتو خوندیتوب ګڼل کیږي چې د عملیاتي خطرونو په تېره بیا د طبیعي پیښو د راکمولو په برخه کې به اغیزناکه وي.

**۹. په هیواد کې د پیسو د وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل د خطرونو ارزول**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

| د فعالیت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پیل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډیپارټمنټ/ډیپارټمنتونه |
|---|---|---|---|---|
| د پیسو د وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د خطرونو په اړه د ملي ارزونې ترسره کول (National Risk Assessment) | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | د فنتراکا دفتر او د مالي ټینګښت د پروژې دفتر |

- د پیسو د وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د خطرونو په اړه د ملي ارزونې ترسره کول(National Risk Assessment): فنتراکا به د نړیوال بانک او UNODC په همکارۍ د هېواد په کچه د پیسو د وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د خطرونو ارزونه کوي. د یادو خطرونو د ارزونې په موخه د افغانستان د معاملو او مالي راپورونو د څېړنې مرکز د نړیوال بانک او UNODC په تخنیکي همکارۍ سره د دولتي او نا دولتي ادارو په شمول کاري ډلې جوړې کړي او د یو کال په اوږدو کې به خپله ارزونه بشپړه کړي. مخکې له دې چې پروسه عملاً پیل شي، د اړوندو ادارو کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو جوړول او په دې پروسه کې د ادارو د فعاله ونډه اخیستنې په موخه د هېواد لوړ پوړو چارواکو ته د خطرونو د ارزونې د طرحې وړاندې کول حتمي دي.

## ۱۰. د پیسو د وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د قانون د پلي کوونکو ادارو او عامه خلکو د پوهاوي د کچې لوړول

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کېږي:

| د فعالیت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پیل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډیپارټمنټ/ډیپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|
| د عامه پوهاوي د پروګرام ترتیبول او تطبیقول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۹ | د فنتراکا دفتر او د مالي ټینګښت د پروژې دفتر |
| د (AML/CFT – Typologies and Indicators) راپورونو خپرول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | د فنتراکا دفتر |

- د عامه پوهاوي د پروګرام ترتیبول او تطبیقول: د پیسو د وینځلو او ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د خلکو پوهاوی او ظرفیت جوړونه یو مهم کار ګڼل کېږي. د اړوندو ادارو د ظرفیت لوړولو او د عامه پوهاوي په موخه اړینه ده څو په مرکز او د اړوندو ولایتونو په شپږ واړه زونونو کې د یو کال لپاره د پوهاوي کمپاین پلي شي. د عامه پوهاوي طرحه د فنتراکا لخوا ترتیب او د راتلونکو طي مراحلو په موخه به د مالي نظام د ټینګښت پروژې او یا نړیوالو همکارانو سره شریکه شي.
- د(AML/CFT–Typologies and Indicators)

راپـــورونـــو خپرول: فنتراکـــا بـــه د شته معلوماتو پر بنسټ د خطرونو شاخصونه پېژني او د هر کال په پای کې به یې خپروي څو د معاملو، محصولاتو او د پیسو د لـېږد لارو (چینلونو) د خرنګوالي خطرونه مشخص او د هېواد له مالي مؤسسو سره یې شریک کړي.

**۱۱. د بانکي کړکیچونو د رامنځ ته کېدو پر مهال د مالي سیستم د ټیکاو ساتل**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کېږي:

| د فعالیت عنوان | د اجراآتو اندازه | د پیل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډیپارټمنټ/ډیپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|
| د افغان امانتونو د بیمې د اداري موخو ته د رسیدو لپاره د مقررو، لارښوودنو او نورو اداري او عملیاتي | | ۲۰۱۸ | ۲۰۲۰ | د افغان امانتونو د بیمې اداره |
| د بیا ورکړې د سیستم تـأسیس (Prompt Reimbursement System) | | ۲۰۱۸ | ۲۰۲۰ | د افغان امانتونو د بیمې اداره |
| د (Single Customer View) سیستم جوړول او تطبیقول | | ۲۰۱۸ | ۲۰۲۰ | د افغان امانتونو د بیمې اداره |
| د نړیواله امانتونو د بیمې د ټولنې (IADI)غړیتوب لپاره د دې اداري عملي اقدام | | ۲۰۱۹ | ۲۰۲۰ | د افغان امانتونو د بیمې اداره |
| د اسلامي بانکدارۍ برخې لپاره د جلا مالي سرچینې جوړول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | د افغان امانتونو د بیمې اداره، د مالي چارو د څارنې آمریت |

- دا چې د افغان امانتونو د بیمې د اداري قانون او د دې اداري حقوقي حیثیت اوس مهال د افغانستان بانک په قانون کې مدغم شوی دی. کله چې د افغانستان بانک د قانون تعدیل شوې نسخه د واکمنو ادارو لخوا تصویب او نهایي شي؛ هغه وخت د افغان امانتونو د بیمې د اداري قانون د خپل قانون په رڼا کې کولای شي د مقررو، لارښوودنو، کړنلارو او نورو اړوندو مواردو په تصویب باندې خپلو موخو ته د رسیدو لپاره اقدام

وکړي.

- د بیا ورکړې د سیستم (Prompt Reimbursement System) د پروسې تاسیسول: د افغانستان بانک د خلکو د امانتونو د ملاتړ، په هېواد کې د بانکي سکتور د ټیکاو ساتلو او په بانکي نظام باندې د خلکو د اعتماد د زیاتولو په موخه تصمیم ونیو چې د افغانستان بانک په اډانه کې د افغان امانتونو د بیمې د ادارې په نوم یوه اداره جوړه کړي چې دا اداره وکولای شي ټول سوداګریز بانکونه د امانت ایښودونکو د احتمالي یرغل د خطر پر وړاندې خوندي وساتي، ځکه چې د دې حالت (د امانت ایښودونکو د احتمالي یرغل د خطر) د رامنځ ته کېدو په صورت کې په هېواد کې د مالي منځګړیتوب پروسه فلجیږي، د ادایني سیستم ګډوډوي او د هغه ناوړه اغېزې د هېواد لوی اقتصاد زیانمنه کوي. دا چې د افغان امانتونو د بیمې اداره خپلې ځانګړې موخې او دندې لري، نو اړ ده څو د دې موخو د ترلاسه کولو لپاره مخه نیوونکي اقدامات او پلانونه تر لاس لاندې ونیسي څو د پام وړ موخې په بنسټیزه توګه ګام په ګام مروجې کړي. د افغان امانتونو د بیمې اداري د نړۍ د بیمې د بېلابېلو سرچینو په اړه د پربمانه څېړنو او کتنو په درلودلو سره تل هڅه کړې ده څو له نړیواله عملي تجربو څخه تر ټولو زیاته ګټه واخلي او د هغه پر بنسټ د نړۍ د پرمختللو هېوادونو د امانتونو د بیمې د ادارو معمولې وړتیاوې همدا ډول د افغان امانتونو د بیمې په اداره کې تطبیق کړي. د مالي ټیکاو او پر بانکي سکتور باندې د خلکو د اعتماد د زیاتولو په موخه د عملي نوښتونو په لړ کې همدا رنګه دا اداره په پام کې لري څو له نړیوالو معیارونو سره سم د چټکې، بیړنۍ او اغېزناکه بیا ورکړې سیستم جوړ کړي. د افغان امانتونو د بیمې اداري د عمومي موخو د تحقق لپاره یو له مهمو او بنسټیزو مسئولیتونو څخه د یو بانک د دیوالي کېدو پر مهال د امانت ایښودونکو د ادایني په موخه د بیا ورکړې د چټکه او اغیزناکه سیستم درلودل دي. د یوه چټکه، فوري او اغېزناکه بیا ورکړې د سیستم ارزښت په لاندې څو ټکو کې وړاندې کیږي:
  - د مالي سکتور په ټیکاو کې د خلکو د اعتماد ساتل؛ که چیرته د امانت ایښودونکو پیسې په چټکه او تاکلي وخت اداء شي، نو ډېری امانت ایښودونکي له بانک څخه خپلې پیسې

نه وباسي؛

- په مالي سکتور کې د احتمالي اغیزو مخنیوی؛ پر بانکي سکتور باندې اعتماد، په نورو بانکونو باندې د دیوالي شوي بانک منفي اغېزې راکموې؛
- د امانت ایښودونکو لپاره د اختلال کموالی؛ که چیرته امانت ایښودونکو ته په ټاکلي وخت پیسې اداء شي نو امانت ایښودونکي به د خپلو مالي مکلفیتونو په ترسره کولو برلاسي وي چې دا کار نه یوازې پر بانکي سیستم باندې منفي اغېزه نه کوي، بلکې د نورو اقتصادي اړخونو د مستقیمه اختلالونو او زیانونو څخه مخنیوی هم کوي؛ او
- د خلکو د اعتماد ساتل په ځانګړې توګه د امانتونو د بیمې اداري باندې؛ په یو دیوالي شوي بانک کې د امانت ایښودونکو د پیسو په بیا ورکړه کې ځنډ د امانتونو د بیمې پر اداري باندې د خلکو اعتماد له منځه وړي چې دا کار په خپل وار پر بانکي سکتور باندې

خپلې ناوړې اغېزې پرېږدي.

- د (Single Customer View) سیستم جوړول او تطبیقول: د افغان امانتونو د بیمې اداره(ADIC) خپلو موخو ته د رسیدو لپاره د خلکو د امانتونو د ساتنې د تضمین او په یو دیوالي شوي بانک کې د دوي د امانتونو د بیا ورکړې مسئولیت پرغاړه لري، له همدې امله دا اداره (ADIC) اړ ده څو په ټولو سوداګریزو بانکونو کې د اسانتیاوو د رامنځ ته کولو په موخه د انفرادي مشتریانو د حسابونو (Single Customer View) د وضعیت په اړه هر اړخیزه معلومات راټول کړي او په همدې موخه لازمه ګڼل کیږي څو یو منظم معلوماتي سیستم د وصل شبکې (IT) لخوا جوړ شي. د دا ډول سیستم جوړول؛ د امانت ایښودونکو د پیسو پر ټاکلي وخت بیا ورکړې د پروسې په لاره کې د شته خنډونو د لرې کولو، د ځنډ د مخنیوي او د روڼتیا د زیاتیدو لامل کیږي. واک لرونکي اداري باید د امانت ایښودونکو د سندونو د ساتلو لپاره معیاري لارښوونې صادرې کړي څو بانکونه د یوې منظمې معلوماتي اډانې له مخې د امانت ایښودونکو په اړه کره معلومات په اجباري توګه د امانتونو د بیمې اداري ته واستوي چې دا کار

به د (Single Customer View) سیستم په عملي تطبیق سره شوني وي او د شخص (په یو بانک کې د هر امانت ایښودونکي حساب) د پېژندګلوۍ (هویت) په اړه د معلوماتو نشتون په ټاکلي وخت د بیا ورکړې په پروسه کې یوه لویه ننګونه رامنځ ته کوي. په همدې بنسټ اړتیا ده څو د هویت د پیژندلو په موخه هر یو امانت ایښودونکي ته یو سیستماتیک آی ډي کارت چې په یو بانک کې د یو امانت ایښودونکي په اړه د ټولو کره ځانګړتیاوو او معلوماتو درلودونکی وي، په یو سیستم کې په منظمه توګه ترتیب شي. د یادولو وړ ده چې د (Single Customer View) سیستم جوړول او تطبیقول د بیا ورکړې د پروسې یوه برخه ده او کله چې د بیا ورکړې د پروسې سیستم عملي شي؛ اړتیا ده چې د دې اداري د کاري اسانتیا او روڼتیا لپاره د (Single Customer View) سیستم هم جوړ شي.

- د نړیوالو امانتونو د بیمې په ټولنه (IADI) کې د غړیتوب لپاره د دې اداري عملي اقدام: د امانتونو د بیمې په برخه کې د نړیواله همکاریو په شریکولو سره د مالي سیستم په ټیکاو کې د ونډې اخیستلو، په نړۍ کې د امانتونو د بیمې د شته سیستمونو د ودې او ښه

والي لپاره د لارښوونو د وړاندې کولو او په نړۍ کې د بیمې د ادارو او نورو اړوندو ادارو ترمنځ د نړیوالو اړیکو د پیاوړتیا په موخه د امانتونو د بیمه کوونکو نړیواله ټولنه (IADI) جوړه شوې ده. د دې ټولنې (IADI) له جوړېدو موخه د امانتونو د بیمې د ادارو درلودونکي هېوادونو د مرستې او لارښونې په موخه د لازمې زمینې جوړول دي او همدا ډول د امانتونو د بیمې د ادارو د تاسیس په موخه یې دې ادارو ته لازمې اسانتیاوې او همغږۍ برابرې کړې او دې ټولنې د امانتونو د بیمې په برخه کې د بېلابېلو هېوادونو د تجربو د لېږدولو لپاره ښه تخنیکي چاپېریال برابر کړی دی. د امانتونو د بیمې نړیوالې ټولنې (IADI) د غونډو، سیمینارونو، کنفرانسونو، روزنیزو دورو د جوړولو ترڅنګ د تجربو د لېږد لپاره لازمې زمینې برابروي. په دې ټولنه کې د امانتونو د بیمې د ادارو د کړنو د لا ښه کولو په برخه کې ډېرې خبرې ترسره شوي او دا ټولنه همدا ډول په نړۍ کې د امانتونو د بیمې د سیستمونو د تطبیق په برخه کې مهم اصول ټاکي. د امانتونو د بیمه کوونکو په نړیواله ټولنه کې اوس مهال ۸۳ اصلي غړي، ۱۵ همکار غړي، ۱۴ عادي شریکان او یو شمیر

ځاروونکي شتون لري چې هر يو يې ځانګړي شرطونه لري. د يادولو وړ ده چې په دې ټولنه کې د افغان امانتونو د بيمې د ادارې غړيتوب به د افغانستان بانک د نوي قانون له تصويب وروسته ترلاسه کيږي.

- د اسلامي بانکدارۍ برخې لپاره د بيلې مالي سرچينې جوړول: د نړيوالو معيارونو پر بنسټ، په اسلامي هېوادونو لکه؛ ماليزيا، سوډان، اردن، اندونيزيا او داسې نورو کې د امانتونو د بيمې د ادارو د دوديزې بانکدارۍ او اسلامي بانکدارۍ د سکتور برخې هر يو بيل حسابونه لري او د هرې برخې حسابي دوران د امانت اېښودونکو د بيلابيلو حسابونو، د دې برخې د مالي سرچينې د پانګونې د راپور ورکونې او طريقې په تفکيک سره په جلا ډول تنظيميږي. ځکه چې اوسمهال د افغانستان سوداګريز بانکونه چې د افغانستان بانک ورته د فعاليت جواز ورکړی وي، د دوديزې بانکدارۍ د سکتور د شتون او فعاليت ترڅنګ ځيني بانکونه د اسلامي بانکدارۍ د برخې خدمتونه هم وړاندې کوي، له همدې کبله د ADIC اداره د امانتونو د بيمې د نړيوالو معيارونو د دودولو په موخه غواړي چې د اسلامي بانکدارۍ له برخې څخه د حق البيمې د وضع کولو د ځرنګوالی، د دې برخې د حسابي دوران، د اسلامي شريعت پر بنسټ د دې برخې د مالي سرچينې د راپور ورکونې او پانګونې د طريقې په موخه؛ د امانتونو د بيمې د نړيوالو ادارو د معيارونو له مخې د اسلامي بانکدارۍ برخې لپاره د دې اداري موخو ته د رسيدو په موخه جلا مالي سرچينه جوړه کړي.

## VII. درېم ستراتيژيک اصل: د مالي خدمتونو پراختيا

### الف – د درېم اصل تعريف

د مالي خدمتونو له پراختيا څخه موخه دا ده چې: د هېواد د ټولو وګړو لپاره د مالي خدمتونو د وړاندې کولو پراختيا دومره ډېره شي چې هر شخص وکړای شي له دې مالي خدمتونو څخه برخمن شي. د افغانستان بانک پرېکړه کړې ده چې محرومو ډلو لکه؛ کورنی او د دې ترڅنګ کوچني او منځني شرکتونو ته نوي بازارونه جوړ او مالي خدمتونه او محصولات متنوع کړي او له دې لارې مالي خدمتونو ته د خلکو لاسرسی اسانه او د عصري بانکي خدمتونو ډولونه لا پراخه کړي. سربېره پر دې، د افغانستان بانک تر همدې اصل لاندې خلکو او ټولو کاروونکو ته د دوی د پوهاوی د کچې د لوړولو په موخه د بانکي او مالي روزنيزو پروګرامونو د وړاندې کولو په برخه کې د مالي خدمتونو په اړه تمرکز کوي.

### ب- د درېم اصل موخې

۱. د مالي خدمتونو د پراختيا جامع او ملي ستراتيژۍ ته لاسرسي؛ او

۲. د مالي خدمتونو په اړه د خلکو د پوهاوی او علمي کچې لوړول او د مالي خدمتونو د کاروني د کلتور دودول

### ج- د درېم اصل اړوندي کړني

هره پورتنی موخه یو يا څو کړني رانغاړي. له دې کړني څخه موخه هغه کړني او اجراات دي چې په مرسته يې د ستراتيژيک اصل اړوندو موخو ته لاسرسی اسانه کېږي. دا کړني لاندې موارد رانغاړي.

**۱. د مالي خدمتونو د پراختيا جامع او ملي ستراتيژۍ ته لاسرسی**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کېږي:

| د فعاليت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پيل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډيپارټمنټ/ډيپارټمنتونه |
|---|---|---|---|---|
| د مالي خدمتونو د پراختيا په لاره کې د شته خنډونو او ننګونو د پېژندلو لپاره د هرې اړخيزې څېړنې ترسره کول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۷ | د مالي خدمتونو د پراختيا مديريت او د مالي چارو د څارنې آمريت |
| د مالي خدمتونو د پراختيا د داخلي (د افغانستان بانک) او ملي (اړوند ادارو) د کميټو جوړول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۷ | د مالي خدمتونو د پراختيا آمريت |
| د مالي خدمتونو د پراختيا د ملي ستراتيژۍ د مسودې جوړول او د اړوندو ادارو لخوا د تصويب په موخه د هغه طی مراحل | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | د مالي خدمتونو د پراختيا آمريت |

- د مالي خدمتونو د پراختیا په لاره کې د شته خنډونو او ننګونو د پېژندلو لپاره د هرې اړخیزې څېړنې ترسره کول: یاده څېړنه به هېواد کې د مالي خدمتونو د پراختیا پر وړاندې د ننګونو او د هغه د شاته پاتې کېدو د عواملو د پېژندلو په اړه ترسره کیږي چې په ترڅ کې یې د مالي خدمتونو د پراختیا په لاره کې شته خنډونه تشخیص او د دې خنډونو د لرې کولو په موخه به اړین ګامونه پورته شي. دا فعالیت د پام وړ ارقامو په راټولولو سره پیل او بشپړیدل به یې شپاږ میاشتې وخت ونیسي. د دې فعالیت تطبیقول د افغانستان بانک لاسبری کوي څو په هېواد کې د مالي خدمتونو د پراختیا په تړاو خپل لیدلوری او تعریف وړاندې کړي چې د هغه له مخې به د مالي خدمتونو د پراختیا د ملي تګلارې د ترتیبولو لپاره لومړني او بنسټیز پړاوونه په لاره واچول شي.
- د مالي خدمتونو د پراختیا د داخلي (د افغانستان بانک) او ملي (اړونده ادارو) کمیټو جوړول: د مشورو او د دې ترڅنګ د افغانستان د مالي خدمتونو د پراختیا د ملي تګلارې د جوړولو د څرنګوالي په اړه د هوکړې لپاره د داخلي او ملي کمیټو جوړول یوه بنسټیزه اړتیا ګڼل کیږي چې د مالي خدمتونو د پراختیا په ملي تګلاره کې به د اړوندو ادارو د موخو د ټاکلو، تعریف او د کاري ساحې د ټاکلو په اړه پریکړه وشي. د دې فعالیت تطبیقول به د افغانستان بانک ته اجازه ورکړي څو د مالي خدمتونو د پراختیا د ملي تګلارې په ترتیبولو کې عملي ګام اوچت کړي.
- د مالي خدمتونو د پراختیا د ملي ستراتیژۍ د مسودې جوړول او د اړوندو ادارو لخوا د تصویب په موخه د هغه طی مراحل: دا فعالیت د مالي خدمتونو د پراختیا د ملي تګلارې د مسودې پر جوړولو باندې تمرکز کوي. د مالي خدمتونو د پراختیا د پام وړ موخو د ترلاسه کولو لپاره یوې جامع تګلارې ته اړتیا ده چې د تطبیق وړتیا ولري. د دې فعالیت تطبیق به ۱۰ یا ۱۲ میاشتې وخت ونیسي چې په هېواد کې د مالي خدمتونو د پراختیا په اړه د مطالعو او د نه پراختیا موندونکو عواملو له پېژندنې وروسته به ترسره کیږي. د هېواد د مالي خدمتونو د پراختیا د ملي تګلارې د مسودې جوړول به له افغانستان سره مرسته وکړي څو د هغه په تطبیق سره خپلې ټاکل شوې او د پام وړ موخې ترلاسه کړي.

**۲. د مالي خدمتونو په اړه د خلکو د پوهاوۍ او علمي کچې لوړول او د مالي خدمتونو د کارونې د کلتور دودول د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کېږي:**

| د فعاليت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پيل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډيپارټمنټ/ډيپارټمنتونه |
|---|---|---|---|---|
| د روزنيزو پروګرامونو، د عامه پوهاوۍ د پروګرامونو جوړول او پلي کول او د مالي خدمتونو د کارونې د کلتور دودول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۲۰ | د مالي خدمتونو د پراختيا آمريت |
| د افغانستان بانک کې د مالي سکتور د مشتريانو د ملاتړ د مرکز جوړول | | ۲۰۱۸ | ۲۰۱۸ | د مالي خدمتونو د پراختيا آمريت |

- د روزنيزو پروګرامونو، د عامه پوهاوۍ د پروګرامونو جوړول او پلي کول او د مالي خدمتونو د کارونې د کلتور دودول: دا فعاليت چې د مالي خدمتونو په اړه د خلکو د پوهاوۍ د کچې د لوړولو او په هېواد کې د بانکي کلتور د دودولو په موخه په لاره اچول کېږي، په ښوونځيو، پوهنتونونو، دولتي ادارو او د خصوصي سکتور په مؤسسو کې د روزنيزو پروګرامونو جوړول رانغاړي. سربېره پر دې، د هېواد په تعليمي او تحصيلي نصاب کې د يو ځانګړي مضمون ځای پرځای کول او يا د ښوونځيو زده کوونکو او د پوهنتونونو د زده کړيالانو لپاره د اقتصاد په مضمون کې د يو څپرکي زياتول هم د دې فعاليت يوه برخه ده. د دې فعاليت لومړني پړاوونه به په ۲۰۱۷ زيږديز کال کې پيل او تر ۲۰۲۰ زيږديز کاله پورې به دوام ومومي. د دې فعاليت ترسره کول به د عامه پوهاوۍ د لوړولو په برخه کې مرسته وکړي څو په هېواد کې د مالي خدمتونو د پراختيا ټاکل شوې او د پام وړ موخې ترلاسه کړي.
- په د افغانستان بانک کې د مالي سکتور د مشتريانو د ملاتړ د مرکز جوړول: دا فعاليت د افغانستان بانک لخوا د مالي خدمتونو د مشتريانو او مستهلکينو د ملاتړ د پروګرام يوه برخه ده چې د مشتريانو د حقونو ملاتړ، له بانکونو سره د مشتريانو د ستونزو حلول، د بانکونو لخوا د مشتريانو د اړتيا وړ خدمتونو او محصولاتو د برابرولو او وړاندې کولو په برخه کې مرسته او داسې نور رانغاړي. د دې فعاليت د ترسره کولو موخه د هېواد د مالي نظام د مشتريانو د حقونو ملاتړ دی. دا فعاليت به د تګلارې له جوړېدو وروسته او

په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې د هغه له تطبیق سره سم، د هېواد د مالی نظام د مشتریانو د حقونو په ملاتړ او د مالي خدمتونو په کارونې سره پراختیا وموميې چې له لارې به يې د مالي خدمتونو د پراختيا د پام وړ موخو بهير پياوړی شي.

## VIII. څلورم ستراتيژيك اصل: د ورکړې د نظام د خونديتوب او اغېزناکې د تينګښت او د بيه لرونکو پاڼو لپاره د يو مرکزي سيستم جوړول

### الف – د څلورم اصل تعريف

د ورکړې د نظام د خونديتوب او اغېزناکې د تينګښت او د بيه لرونکو پاڼو لپاره د مرکزي سيستم له جوړولو څخه موخه عبارت دی له: د افغانستان بانک د ورکړې د نظام د خونديتوب او اغېزناکی د تينګښت او د ورکړې په سيستم کې د شوني خطرونو د مخنيوی او کنترول په موخه د بيه لرونکو پاڼو لپاره مرکزي سيستم جوړوي.

### ب – د څلورم اصل موخې

۱– د ادراینو د اغېزناك او ګټور ملي سيستم لوړول

### ج ـ د څلورم اصل اړوندې کړنې

هره پورتنۍ موخه یو یا څو کړنې رانغاړي. له دې کړنې څخه موخه هغه کړنې او اجراات دي چې په مرسته يې د ستراتيژيک اصل اړوندو موخو ته لاسرسی اسانه کيږي. دا کړنې لاندې موارد رانغاړي:

### ۱. د ادراینو د اغېزناکه او ګټوره ملي سيستم لوړول

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کيږي:

| د فعاليت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پيل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډيپارټمنټ/ډيپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان بانک د قانون له ۸۷ او ۸۸ مادو سره سم د ورکړې د سيستم د پاليسی طرحه او جوړول | | ۲۰۱۷ | د ۲۰۱۷ لومړی نيمايي | د ادراینو آمريت او د بانکي عمليات آمريت |
| د بانکي نظام د چکونو معياري کول | | ۲۰۱۷ | د ۲۰۱۸ نيمايي | د ادراینو آمريت او د مالي چارو د څارنې لوی آمريت |
| د چکونو د تصفيې د سيستم الکترونيکي کول ( Automatic Clearing House) | | ۲۰۱۷ | د ۲۰۱۸ نيمايي | د ادراینو آمريت، د معلوماتي تکنالوژی آمريت او د مالي تينګښت د پروژې دفتر |
| د RTGS سيستم فعالول او د افغانستان بانک، سوداګريزو بانکونو او د ماليې وزارت له CBS سيستم سره د هغه نښلول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ نيمايي | د ادراینو آمريت، د معلوماتي تکنالوژی آمريت، د مالي و محاسبې آمريت او د مالي تينګښت د پروژې دفتر |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| له ACSS سیستم سره د مالیې وزارت نښلول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۷ | د ادراينو آمريت او د معلوماتي تکنالوژۍ آمريت |
| د نوي سيستمونو له شرايطو سره سم د ادارينيزي پاليسيو او کړنلارو نوی کول او تعديلول | | ۲۰۱۷ | د ۲۰۱۸ نيمايي | د ادراينو آمريت، د حقوقي مشاوريت دفتر او د مالي ټينګښت د پروژې دفتر |
| د ATS او د APS اداري ( National Switch) سيستم نښلول | | ۲۰۱۷ | د ۲۰۱۸ نيمايي | د معلوماتي تکنالوژۍ آمريت، د ادراينو آمريت او د مالي ټينګښت د پروژې دفتر |
| د بانکونو ترمنځ د ادراينو د سيستم په کاروني سره د سوداګريزو بانکونو له لارې د دولت د عوايدو د ترلاسه کولو او لېږدولو په موخه د زمينې برابرول | | ۲۰۱۷ | د ۲۰۱۷ پای | د معلوماتي تکنالوژۍ آمريت او د ادراينو آمريت |
| د بيه لرونکو پاڼو د ثبت، صادرولو، ليلام او تصفيې لپاره د مرکزي سيستم جوړول( Central Securities Depository) | | ۲۰۱۷ | د ۲۰۱۸ نيمايي | د بازار عمليات آمريت، د معلوماتي تکنالوژۍ آمريت، د ادراينو آمريت، د مالي او محاسبې آمريت او د مالي ټينګښت د پروژې دفتر |
| د اسعارو د ليلام د سيستم ( Currency Auction System ) او د نړيوالو زيرمو د مديريت لوړول او معياري کول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۹ | د بازار عمليات آمريت، د معلوماتي تکنالوژۍ آمريت او د مالي ټينګښت د پروژې دفتر |

• د افغانستان بانک د قانون له ۸۷ او ۸۸ مادې سره سم د ورکړې د سيستم د پاليسۍ طرحه او جوړول: د ورکړې د سيستمونو او د هغه د مجريانو د ورکړې، تصفيې او تسويې په اړه د افغانستان بانک د قانون ۸۷ ماده او ۹ څپرکی داسې صراحت لري: " د افغانستان بانک اړ دی چې د ورکړې سالم او اغېزناک سيستمونه تأسيس کړي، ويې ساتي او پراختيا ورکړي، د

افغانستان بانک د ورکړې پرسیستمونو او د هغو پر مجریانو باندې د ثبت، تنظیم او نظارت کولو مسئول دی". د افغانستان بانک د قانون ۸۸ ماده چې د ورکړې د سیستم سیاست په اړه ده، داسې صراحت لري: "د افغانستان بانک د هېواد د خلکو د ګټو تأمینولو په موخه په ډېرو ښو نړیوالو معیارونو سره د مالي سیستم د ټیکاو تأمینولو لپاره د ورکړې د سیستم سیاست طرح کوي، نیسي او اعلانوي او د هغه له تطبیق څخه څارنه کوي چې د هغه لومړنی هدف د ورکړې د سیستم د خوندیتوب او اغیزمنتوب ټینګښت او د ورکړې په سیستم کې د احتمالي خطرونو او زیانونو مخنیوی او کنټرولول دي؛ همدا ډول د عامه ګټو نور اړخونه په ځانګړي توګه په بازار کې د ورکړې د خدمتونو سیستم لپاره د سیالی پراختیا او د ورکړې د سیستم د کاروونکو خوندیتوب هم پیاوړی او تأمینوي. د افغانستان بانک اړ دی څو د ورکړې سیستم د خوندیتوب او اغېزمنتوب د ودې او پیاوړتیا په موخه د مرکزي بانکونو د ورکړې د سیستم له مجریانو او نورو داخلي او بهرنیو چارواکو سره همکاري وکړي".

- د بانکي نظام د چکونو معیاري کول:

- هغه جواز لرونکي بانکونه چې په افغانستان کې فعالیت لري، خپل چکونه په یوه ځانګړي جوړښت سره ډیزاین او چاپوي چې د دې چکونو ځانګړتیاوې د ډبل والي، اوږدوالی، سوروالی، کوډ، امنیتي نښو او ځینو نورو ځانګړتیاوو له پلوه عیار شوي نه دي چې د ACH پروژې د عملي کیدو پر مهال دا ډول چکونه د MICR ماشین لخوا لوستل او طی مراحل کیږي نه.

- دا چې د ATS پروژه تر کار لاندې ده او یوه برخه یې ACH جوړوي چې د نورو معاملو ترڅنګ، چکونه هم باید د سیستم له لارې ولوستل او وپېژندل شي او راتلونکي پروسس ته چمتو شي نو اړتیا ده چې چکونه لومړی معیاري شي څو د MICR سیستم د منلو وړ وګرځي.

- د چکونو د تصفیې د سیستم الکترونیکي کول (Automatic Clearing House):

- د تصفیې د اتومات سیستم (Automated Clearing House) عملي کیدل تر لاس لاندې دي او دا برخه د ATS په پروژه کې شامله ده چې په نږدې راتلونکي کې به د دې سیستم لومړنی چارې، ډیزاین او آزمایښت پیل او تر ټاکلي نیټې پورې به عملي او تطبیق شي.

- د چکونو معیاري کول چې مخکې په ۲ فعالیت کې ترې یادونه شوې، پیل شوی او د یادونې وړ ده چې د ATS پروژه چې اوسمهال د Functional Specification Design (FSD) په

پړاو کې ده او يادې پانې ګټوونکي کمپنۍ ته ولېږل شي څو له Sign off پړاوه وروسته نهايي لاسليک، (RTGS-ACH) اداينيز سيستمونه ډيزاين او د ازمايښت له پړاوه وروسته عيار او عملي شي.

• د (RTGS ) سيستم فعالول او د افغانستان بانک، سوداګريزو بانکونو او د ماليې وزارت له CBS سيستم سره د هغه نښلول:

- (Real Time Gross Settlement) هغه الکترونيکي سيستم دی چې د بانکونو ترمنځ او وروسته د بانکونو د مشتريانو حساب ته د لويو مبلغونو د تسويې او کريډټ کولو په موخه په چټکه، خوندي او بې له احتمالي خطرونو څخه کارول کيږي. د (RTGS) په سيستم کې بانکونه د لويو مبالغو د ورکړو دستور په مرکزي بانک کې د (RTGS )سيستم ته په الکترونيکي ډول ليږدوي او (RTGS) سيستم بيا پرته له ځنډه د معامله کوونکي بانک تصفيوي حساب دبټ او د اخيستونکي بانک تصفيوي حساب کريډټ کوي.

- دا سيستم له مرکزي بانك سره د بانکونو د تسويې د حساب يو درلودونکی سيستم دی چې د بانکونو ترمنځ د چارو د تسويې په موخه په کې د پيسو ليږد را ليږد ترسره کيږي. د RTGS سيستم به د ACSS سيستم ځای ونيسي، ځکه چې يو معياري سيستم نه دی او د ادراينو په برخه کې د بانکي سکتور اړتياوې پوره کولای نه شي او يوازې د بانکونو د ستونزو د حلولو لپاره ډيزاين شوی دی، له همدې کبله مرکزي بانک د RTGS عملي کول يو اړينه او حتمي اړتيا ګڼي څو د ادراينو په ډګر کې د بانکي سکتور اړتياوې بشپړې شي. د دې سيستم موخه په الکترونيکي ډول او له نړيوالو معيارونو سره سم د بانکدارۍ جوړول او پراختيا ده څو مشتريان د نغدو پيسو له مبادلې څخه لرې وساتي او د عصري بانکدارۍ په لورې يې وهڅوي.

- د چټکه ناخالصه تسويې سيستم (RTGS) د پولي سياستونو په غوره تطبيق، د مالي منابعو او د نقدينګۍ په مديريت کې د بانکي نظام د توانايي په زياتولو، د بانکونو ترمنځ د مبادلې د چټکتيا په زياتولو، د احتمالي خطرونو په کمولو کې د پام وړ رول لري.

• لــــه (ACSS ) سيستم سره د ماليې وزارت نښلول:

- د ماليې وزارت او د افغانستان بانک په مرکزي بانک کې خپلو حسابونو ته د سوداګريزو بانکونو له لارې په غير نغدي بڼه د عوايدو او ګمرکي محصولاتو د راټولولو د طريقې په اړه هوکړه کړې څو د دولت ټولې ادايني د افغانستان د بانکونو ترمنځ د ادراينو سيستم له

لاري ترسره شي چې سوداګریزو بانکونو د دې سیستم غړیتوب ترلاسه کړی دی او کولای شي چې د ملي سوداګرو او نورو ورکوونکي ادارې د دې سیستم له لارې خپلو حسابونو ته ولېږدوي څو له یوې خوا د فزیکي پیسو له کاروني څخه مخنیوی وشي او له بلې خوا له الکترونیکي ورکړو څخه ملاتړ وشي.

- د نویو سیستمونو له شرایطو سره سم د ادارې پالیسیو او کړنلارو نوی کول او تعدیلول: د ATS پروژه د Functional Specification Design (FSD) په پړاو کې ده چې یادې پاڼې ګټوونکي کمپنۍ ته لېږل شوي څو د sign off له نهایي لاسلیک وروسته د ادارې سیستمونه (RTGS-ACH) ډیزاین او د آزمایښت له پړاوه وروسته عیار او عملي شي. ورپسې به د سیستمونو له مخې پالیسي نوي او تعدیلي شي او همدا ډول د ادارې کاري کړنلارې به د نوي سیستمونو له شرایطو سره سم د CMA کمپنۍ او د ادارې د تخنیکي سلاکار او د مرکزي بانک د اړوندو شعبو په مرسته په بشپړه توګه نوي شي.
- د ATS او د APS اداري ( National Switch) سیستم نبلول: د پاز ماشینونو له لارې په اتومات ډول د افغانستان بانک د مشتریانو د معاملو اتوماتولو او د ښو او چټکو خدمتونو لپاره د بانکدارۍ د نورو اسانتیاوو په موخه د دې سیستم نبلول.
- د بانکونو ترمنځ د ادارې د سیستم په کاروني سره د سوداګریزو بانکونو له لارې د دولت د عوایدو د ترلاسه کولو او لېږد لپاره د زمینې برابرول: د دې لپاره چې د دوو سیستمونو (د افغانستان بانک او مالیې وزارت) ترمنځ د دولت د عوایدو ترلاسه کول په اتومات ډول ترسره شي، د ادارې آمریت په پام کې لري چې دا دوه سیستمونه یو بل سره ونبلوي څو د معاملو په ترسره کولو کې لا اسانتیا او چټکتیا رامنځ ته شي.
- د بیه لرونکو پاڼو د ثبت، صادرولو، لیلام او تصفیې د مرکزي سیستم جوړول (Central Securities Depository): د بیه لرونکو پاڼو د ثبت، صادرولو، لیلام او تصفیې د مرکزي سیستم په جوړولو کار پیل شوی او په لومړني پړاو کې دی. له بلې خوا د یاد سیستم کاري ځانګړتیاوې د (CMA) کمپنۍ لخوا د بشپړېدو په حال کې دی او Functional Specific Document لـــــــــه بشپړېدو سره سم د هغه په نورو پړاوونو کار پیلیږي.

- د اسعارو د لیلام د سیستم ( Currency Auction System) لوړول او معیاري کول او د نړیوالو زیرمو مدیریت: د افغانستان بانک تصمیم لري چې د اسعارو د لیلام سیستم معیاري کړي او د ښو اجرااتو لپاره د هغه د سیستم لوړول عملي کوي.

## IX. پنځم ستراتيژيک اصل: د اداري اغېزناکی زياتوالی او ساتل او د اصلي کړنو له دوام څخه د ډاډ ترلاسه کول

### الف – د پنځم اصل تعريف

د اداري اغېزناکی د زياتولو او ساتلو او د اصلي کړنو له دوام څخه د ډاډ د ترلاسه کولو موخه عبارت ده له: د افغانستان بانک د اداري اغېزناکی د زياتولو او ساتلو او د اصلي کړنو له دوام څخه د ډاډ د ترلاسه کولو په موخه مالي، عملياتي او د داخلي تفتيش سيستم پياوړی کوي او د افغانستان بانک د پانګونو مديريت لا ښه کوي.

### ب – د پنځم اصل موخې

۱ – د احتمالي خطرونو پر وړاندې د افغانستان بانک د مالي او عملياتي سيستم ساتل او پياوړی کول؛

۲– د افغانستان بانک د پانګونې د مديريت ښه والی؛

۳– د اداري او عملياتي کړنو د ښه والي په موخه د داخلي تفتيش د سيستم پياوړي کول؛

### ج– د پنځم اصل اړوندې کړنې

هره پورتنې موخه يو يا څو کړنې رانغاړي. له دې کړنې څخه موخه هغه کړنې او اجراات دي چې له لارې يې د ستراتيژيک اصل اړوندو موخو ته لاسرسی اسانه کيږي. دا کړنې لاندې موارد رانغاړي:

**۱. د احتمالي خطرونو پر وړاندې د افغانستان بانک د مالي او عملياتي سيستم ساتل او پياوړي کول**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کيږي:

| د فعاليت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پيل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډيپارټمنټ/ډيپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|
| د مناسبه او معياري پاليسيو او کړنلارو په شمول د خطرونو د اداري د داخلي جوړښتونو طرحه، تدوين او تنظيمول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۷ | د خطرونو د اداري آمريت ، د بشري منابع آمريت او د مالي ټينګښت د پروژې دفتر |
| د افغانستان بانک د معياري اډانې (Risk Management Framework) او د خطرونو د اداره کولو د مقررې جوړول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | د خطرونو د اداري آمريت، د حقوقي مشاوريت دفتر او د مالي ټينګښت د پروژې دفتر |
| د بيړنيو حالتونو د مديريت لپاره د اختصاصي پلان (Contingency Plan) جوړول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | د خطرونو د اداري آمريت |
| د مهمو کړنو د دوامداره ساتلو لپاره د هر اړخيز ميکانيزم (System Wide Business Continuity Plan) جوړول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۷ | د خطرونو د اداري آمريت او ټولې مرستندويه شعبې |
| د خطرونو کميټې (Risk Management Committee) جوړول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۷ | د خطرونو د اداري آمريت |

- د مناسبه او معیاري پالیسیو او کړنلارو په شمول د خطرونو د اداري د داخلي جوړښتونو طرحه او تنظیمول: د خطرونو د اداري آمریت له جوړیدو (۱۳۸۷) څخه د ۱۳۹۱ تر چنګاښ میاشت پوري د سوداګریزو بانکونو خطرونه ارزول او د هغه راپور یې د افغانستان بانک د ریاست مقام ته وړاندي کاوه. د ۱۳۹۱ کال په چنګاښ میاشت کې د افغانستان بانک عالي شورا د خطرونو د اداري د آمریت د دندو لایحه د سوداګریزو بانکونو له خطرونو څخه د افغانستان بانک خطرونو ته تعدیل کړه. له همدي کبله د خطرونو د اداري آمریت په پام کې لري چې په منظمه او هر اړخیزه توګه د خپلو کړنو د اجراء کولو لپاره یوه پالیسي او کاري کړنلاره طرحه او جوړه کړي. همدا ډول د دې آمریت پر داخلي تشکیل (جوړښت) باندې کار روان دی او د ۲۰۱۷ کال تر نیمایي پوري به د افغانستان بانک عالي شورا ته د تصویب لپاره وړاندي شي.
- د افغانستان بانک د معیاري اړانې (Risk Management Framework) او د خطرونو د اداري د مقرري جوړول: ټول بانکونه او مالي اداري د خطرونو د اداري د یو معیاري اړانې لرونکي دي. نو له همدي امله د افغانستان بانک د خطرونو د اداري آمریت په پام کې لري چې د خطرونو د اداره کولو او کنټرول لپاره یو معیاري اړانه جوړه کړي. د دې معیاري اړانې د جوړیدو پروسه د ۲۰۱۷ کال په نیمایي کې پیل او د ۲۰۱۸ کال په نیمایي کې بشپړه شي.
- د بیړنیو حالتونو د مدیریت لپاره د اختصاصي پلان (Contingency Plan) جوړول: بیړني حالتونه له هغه حالتونو څخه عبارت دي چې په کې د افغانستان بانک کاري کړنې له ستونزې سره مخ شي او د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی دې حالتونو سره د مبارزې لپاره یو دوېم پلان یا بدیل جوړوي او د اړتیا په صورت کې یې پلي کوي. د خطرونو د اداري آمریت پلان لري چې د افغانستان بانک د ټولو شعبو په همکارۍ د بیړنیو حالتونو د مدیریت لپاره یو ځانګړی پلان جوړ کړي. د دې پلان د چمتو کولو کار د ۲۰۱۷ کال په نیمایي کې پیل او د ۲۰۱۸ کال په نیمایي کې پای ته رسیږي.
- د مهمو کړنو د دوامداره ساتلو لپاره د هر اړخیز میکانیزم ( System Wide Business Continuity Plan) جوړول: د خطرونو د اداري آمریت د افغانستان بانک د ټولو

شعبو په همکاری سره یو پراخ میکانیزم جوړوي چې په مرسته یې د افغانستان بانک مهمې کړنې دوامداره ساتل کیږي. د دې پروګرام کار د ۲۰۱۷ کال په لومړیو کې پیل او د همدې کال تر پایه پورې به بشپړ شي.

- د خطرونو د مدیریت کمیټې (Risk Management Committee) جوړول: د خطرونو د اداري آمریت په پام کې لري چې د نړیواله نورمونو او معیارونو سره سم د افغانستان بانک په اډانه کې د خطرونو د اداره کولو یوه کمیټه جوړه کړي. دا کمیټه د دې آمریت ټول راپورونه او کارونه ارزوي او د خطرونو په مدیریت او کنټرول کې د افغانستان بانک له عالي شورا سره همکاري کوي. د دې کمیټې د جوړولو کار د ۲۰۱۷ کال په لومړي میاشت کې پیل او د همدې کال تر پایه پورې به پای ته ورسیږي.

**۲. د افغانستان بانک د پانګونو د مدیریت پیاوړتیا**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

| د فعالیت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پیل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډیپارټمنټ/ډیپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|
| د پانګونې د لارښود بیاکتنه او د عالي شورا لخوا د هغه تصویبول | | ۲۰۱۷ | د ۲۰۱۷ نیمايي | د بازار عملیات آمریت او د حقوقي مشاوریت دفتر |

- د پانګونې د لارښود بیاکتنه او د عالي شورا لخوا د هغه تصویبول: د پانګې اچونې پالیسي مخکې جوړه او د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا تصویب شوې ده او د پانګونې لارښود تر کار لاندې دی او همدا ډول په دې اړه د پیسو له نړیوال صندوق سره خبرې دوام لري او په نږدې راتلونکي کې به دا لارښود نهایي او د کارونې وړ وګرځي.

**۳. د اداري او عملیاتي کړنو د ښه والي لپاره د داخلي تفتیش د سیستم پیاوړتیا**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

| د فعالیت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پیل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډیپارټمنټ/ډیپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|
| د بهرني خپلواک څېرونکي د ټاکنې د پالیسی تعدیلول او تصویبول | | ۲۰۱۷ | د ۲۰۱۷ لومړی نیمایي | د ټولو ناظر اداره، د مالي او محاسبې آمریت او د حقوقي مشاوریت دفتر |
| د عالي شورا د آډیټ کمیټې د نصاب بشپړیدل | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۷ | د ټولو ناظر اداره |
| د ټولو ناظر د اداري د کاري پروسو اتوماتول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | د ټولو ناظر اداره او د مالي ټینګښت د پروژې دفتر |

- د بهرني خپلواک څېرونکي د ټاکنې د پالیسی تعدیلول او تصویبول: د پالیسی د بداینې لپاره د شته پالیسی د بیاکتنې په موخه د ګډې غونډې جوړول او په اړتیا وړ برخو کې (که چیرې لازمه وګڼل شي) د تعدیلاتو راوستل او د هغه تصویبول.
- د عالي شورا د آډیټ کمیټې د نصاب بشپړیدل: کله چې د عالي شورا نور غړي مقرر شي نو د داخلي تفتیش د کمیټې یو بل غړی به له همدې ډلې د ټولو له هوکړې او د عالي شورا له منظورۍ وروسته د آډیټ کمیټې غړی کیږي او د یو بل غړي په زیاتیدو سره د آډیټ کمیټې نصاب بشپړیږي.
- د ټولو ناظر د اداري د کاري پروسو اتوماتول: د ۲۰۱۷ کال د فبرورۍ د میاشتې تر پایه پورې د مالي ټینګښت د پروژې له لارې د (RBIA) خطر پر بنسټ د څېړنې په برخه کې د ټولو ناظر اداري د پیاوړتیا او ملاتړ لپاره د مشورتي شرکت یا تخنیکي سلاکار ګومارل چې لاندې دندې به مخ ته بیایي:

– د ټولو د ناظر اداري د ټولو کړنو د زیانونو پېژندنه؛

– د ټولو ناظر د اداري، د اداري او اوسني جوړښت د اغېزناکۍ ارزول او د راپور ورکوني د جوړښت په ګډون د هغه د ښه والي په موخه د سپارښتنو وړاندې کول؛

- د اړوندو مقررو، لارښودنو او پالیسیو نوي کول او تعدیلول او د (RBIA) پر بنسټ د نویو لارښودنو، مقررو او پالیسیو پراختیا؛
- د ټولو ناظر د ادارې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول او د (CIA) پروګرام د بشپړولو په برخه کې د دوی ملاتړ؛
- د داخلي تفتیش د عصري کولو او د داخلي خطرونو د مدیریت د اغیزناکې موخو ته د رسیدو لپاره د داخلي تفتیش د کړنو د اتوماتولو په موخه د RFP مسودې د جوړولو په برخه کې د ټولو ناظر د ادارې ملاتړ؛
- د ۲۰۱۸ کال په لومړیو کې د مالي ټینګښت د پروژې له لارې د ټولو ناظر د ادارې د پام وړ پوستکالي د تدارکاتي پړاوونو پیلول.
- د ۲۰۱۸ کال په دوېمه ربعه کې د یاد پوستکالي د تطبیقولو لپاره د ازمایښتي پړاوونو پیلول.

## X. شپږم ستراتیژیک اصل: د فزیکي بیخبنسټونو پراختیا او د معلوماتي او ارتباطي تکنالوژۍ د سیستمونو لوړول او د امنیت ټینګښت

### الف – د شپږم اصل تعریف

د فزیکي بیخبنسټونو له پراختیا، د امنیت ټینګښت او د معلوماتي او ارتباطي تکنالوژۍ د سیستمونو له لوړولو څخه موخه عبارت ده له: د افغانستان بانک د مناسب کاري چاپېریال د رامنځته کولو او د معلوماتي او ارتباطي تکنالوژۍ (ICT) د سیستمونو د لا اغېزناکۍ او خوندیتوب په موخه فزیکي بیخبنسټونه او معلوماتي تکنالوژۍ تقویه او لوړوي.

### ب – د شپږم اصل موخې

۱- د مناسب او وړ چاپېریال چې د بانک د کاري او اداري اړتیاوو ځواب ویونکی وي، تأمینول؛

۲- د بانک د معلوماتو د خوندي ساتلو په موخه د (ICT) امنیت ټینګول او د داخلي او بهرنیو ګواښونو مخه نیول؛ او

۳- د اغېزناکۍ د ښه والي په موخه د معلوماتي تکنالوژۍ د بېخبنسټونو (سختکالو او پوستکالو) ښه والی؛

### ج ـ د شپږم اصل اړوندي کړنې

هره پورتنۍ موخه یو یا څو کړنې رانغاړي. له کړنې څخه موخه هغه کړنې او اجراات دي چې له لارې يې د ستراتیژیک اصل اړوندو موخو ته لاسرسی اسانه کېږي. دا کړنې لاندې موارد رانغاړي.

**۱. د مناسب او وړ چاپېریال چې د بانک د کاري او اداري اړتیاوو ځواب ویونکی وي، تأمینول**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کېږي:

| د فعالیت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پیل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډیپارټمنټ/ډیپارټمنتونه |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان بانک د نوي اداري ودانۍ د جوړولو د پروسې تر لاس لاندې نیول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۲۰ | د خدمتونو آمریت، د تدارکاتو آمریت |

- **د افغانستان بانک د اداري نوې ودانۍ د جوړولو د پروسې تر لاسه لاندې نیول:** د یوې اداري د کارکوونکو لپاره د ځای او مناسب کاري چاپېریال برابرول د هغوی د کاري اغېزناکۍ په لوړولو کې د پام وړ رول لوبوي. له همدې کبله د افغانستان بانک په پام کې لري څو د دې بانک د نوې اداري ودانۍ د جوړیدو پروسه تر لاس لاندې ونیسي.

**۲. د بانک د معلوماتو د خوندي ساتلو په موخه د ICT امنیت ټینګول او د داخلي او بهرنیو ګواښونو مخنیوی**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

| د فعالیت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پیل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډيپارټمنټ/ډيپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|
| د معلوماتي تکنالوژۍ د شته پالیسیو او لایحو تعدیلول او اصلاح کول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۹ | د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت او د حقوقي مشاوریت دفتر |
| د مرکز د سرورونو د ټولو Event Logs مرکزي کول، د هېواد دننه او بهر کې د معلوماتو backup کول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۷ د نیمايي | د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت او د تدارکاتو آمریت |
| د ښه امنیت لپاره د بانک په ټولو زونونو کې د Server Room نصبول | | د ۲۰۱۷ پیل | د ۲۰۱۷ پای | د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت او د تدارکاتو آمریت |
| د اړیکو د خوندیتوب لپاره د مرکزي دفتر او د نمایندګیو ترمنځ د VPN فعالول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۷ | د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت او د مالي ټینګښت د پروژې دفتر |
| د لا خوندیتوب لپاره په عصري سیستم باندې د بانک د رسمي بریښنالیک بدلول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۷ | د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت او د تدارکاتو آمریت |
| د ټولو سیستمونو اومعلوماتي تکنالوژۍ د بیخبنسټونو امنیتي ارزونه | | ۲۰۱۷ | ۲۰۲۰ | د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت، د تدارکاتو آمریت او د مالي ټینګښت د پروژې دفتر |

- د معلوماتي تکنالوژۍ د شته پالیسیو او لایحو تعدیل او اصلاح: د معلوماتي تکنالوژۍ لوی آمریت په روان کال کې د (Change Management, BCP Business Continuity Plan, Information Security Policy ) تر سرلیکونو لاندې دوه پالیسۍ او یو پلان ترتیب کړې دي. د دې ترڅنګ په معیاري توګه د معلوماتي تکنالوژۍ د عمومي پالیسۍ په تعدیل باندې کار روان دی.
- د مرکز د سرورونو د ټول Event Logs مرکزي کول او د هېواد دننه او بهر د معلوماتو Back Up کول: د Event logs مرکزي کول بشپړ شوي او مرکزي سیستم ته د Event logs لیږدول تر کار لاندې دی.

- د ښه امنيت لپاره د بانک په ټولو زونونو کې د Server Room نصبول: د خدمتونو د لا ښه وړاندې کولو لپاره د افغانستان بانک په ټولو نمايندګيو او زونونو کې سرور روم لګول کيږي څو دا آمريت وکړای شي چې په لا خونديتوب سره ښه خدمتونه وړاندې کړي.
- د اړيکو د لا خونديتوب لپاره د مرکزي دفتر او د نمايندګيو ترمنځ د VPN فعالول: د لا خونديتوب او امنيت لپاره په ټولو نمايندګيو کې VPN فعالول څو د مرکز او نمايندګيو ترمنځ اړيکې په خوندي توګه ټينګې شي.
- د لا خونديتوب لپاره په عصري سيستم باندې د بانک د رسمي بريښناليک بدلول: له هغه ځايه چې بريښناليک د کارکوونکو د اړيکو لپاره له مهمو وسايلو څخه شمېرل کېږي، د هغه د خونديتوب او امنيت لپاره بايد زياته هڅه وشي. له همدې کبله هغه کمپنۍ چې د افغانستان بانک د بريښناليک خدمتونه وړاندې کوي ښه تکنالوژيکي امنيت لري، خو دا آمريت هڅه کوي چې د اعتبار وړ نړيوالې کمپنۍ چې د لا غوره امنيتي خدمتونو وړاندې کوونکې وي، ولټوي څو له احتمالي خطرونو څخه مخنيوی وشي.
- د ټولو سيستمونو، معلوماتي تکنالوژۍ بيخبنسټونو امنيتي ارزونه: د مرکزي بانک په نمايندګيو او مرکز کې د معياري کولو لپاره د سيستمونو څخه امنيتي ارزونه دوام لري.

**۳. د ګټورتيا د زياتولو لپاره د معلوماتي تکنالوژۍ د بيخبنسټونو(سختکالو او پوستکالو) پياوړي کول**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کيږي:

| د فعاليت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پيل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډيپارټمنټ/ډيپارټمنتونه |
|---|---|---|---|---|
| د بانک د ټولو دفترونو ترمنځ د Unified Communication او په مرکز کې د Video Conference فعالول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۷ | د معلوماتي تکنالوژۍ آمريت، د تدارکاتو آمريت او د مالي ټينګښت د پروژې دفتر |
| له CBS سيستم سره د Swift سيستم نښلول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۷ د نيمايي | د معلوماتي تکنالوژۍ آمريت، د بانکي عمليات آمريت، د ادايينو آمريت او د محاسبې او مالي آمريت |
| د Data Warehouse, Enterprise Resource Planning او د نوي CBS ورپېژندل او پلي کول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۲۰ | د معلوماتي تکنالوژۍ آمريت، د مالي او محاسبې آمريت، د تدارکاتو آمريت او د مالي ټينګښت د پروژې دفتر |

- د بانک د ټولو دفترونو ترمنځ د Unified Communication او په مرکز کې د Video Conference فعالول: د Unified Communication سیستم د زونونو د مرکزي دفترونو او د ټولو نمایندګیو ترمنځ د تلیفوني اړیکو د اسانتیا لپاره پیل شوی دی او د لیرې لارې د غونډو لپاره د ویډیو کنفرانس سیستم په تدارکاتي پړاو کې دی.
- له CBS سیستم سره د Swift سیستم نښلول: له CBS سیستم سره د Swift سیستم د نښلولو عمده موخه دا ده:

له CBS سیستم یا د مرکزي بانکدارۍ سیستم او IFOREX موډیول سره د سویفټ سیستم په نښلولو سره نړیواله صادره معلومات د CBS په سیستم کې درجیږي.

چې د بانکي عملیات آمریت لخوا له تائیدۍ وروسته په اتومات ډول د سویفټ په سیستم کې څرګندیږي.

- نړیوالې وارده معاملې چې د افغانستان بانک د معامله لرونکو بانکونو لخوا د سویفټ له لارې لیږل کیږي په اتومات ډول د بانکدارۍ سیستم ته لیږدول کیږي او د ادراینو د برخې له تائیدۍ وروسته غوښتل شوی انتقالي مبلغ په اتومات ډول د مشتري حساب کې جمع کیږی او همدا ډول د CBS سیستم کې په IFOREX موډیول کارول، نړیوالې معاملې د منول حالت پرځای په اتومات ډول تطبیقوي.

- د Data Warehouse, Enterprise Resource Planning او د نوي CBS وړیږندل او پلي کول: د نوي سي بي اس سیستم، ډیټا وایر هاوس او د آی آر پي سیستم جوړول چې وکولای شي له نورو سیستمونو سره په سمه او خوندي توګه وصل شي او ډیرې چارې اتومات ترسره کړي. د دې ترڅنګ د بیلابیلو برخو دوه نوي سیستمونه چې منول دي، په وړیږندلو سره اتومات حالت ته بدلون مومي او لازیاتې اسانتیاوې رامنځ ته کوي.

## XI. اووم ستراتیژیک اصل: د اغیزناکی د زیاتولو او د کارکوونکو د ودې لپاره د زمینې د برابرولو په موخه د بشري منابع د مدیریت د سیستم ښه والی

### الف – د اووم اصل تعریف

د اغیزناکی د زیاتولو او د کارکوونکو د پیاوړتیا لپاره د زمینې د برابرولو په موخه د بشري منابع د مدیریت د سیستم له ښه والي څخه موخه دا ده چې د افغانستان بانک د اغیزناکی د زیاتیدو او د کارکوونکو د پیاوړتیا او ودې لپاره د زمینې د برابرولو په موخه د نویو او شته پالیسیو او لایحو د طرحې او تعدیلولو، کارکوونکو ته د روزنیزو فرصتونو د برابرولو او هڅوونکو پروګرامونو د جوړولو له لارې د بشري منابع د مدیریت سیستم پیاوړی کوي.

### ب- د اووم اصل موخې

۱ – د پالیسیو طرح کول او د کاري پروسو جوړول؛

۲- د ظرفیت جوړول، لوړول او د کارکوونکو پیاوړي کول؛

۳- له کارکوونکو سره د اړیکو ښه کول/ د افغانستان بانک د کارکوونکو روغتیا او خوندیتوب؛

### ج – د اووم اصل اړوندې کړنې

هره پورتنی موخه یو یا څو کړنې رانغاړي. له دي کړنې څخه موخه هغه کړنې او اجراات دي چې په مرسته یې د ستراتیژیک اصل اړوندو موخو ته لاسرسی اسانه کیږي. دا کړنې لاندې موارد رانغاړي.

### ۱. د پالیسیو طرحه کول او د کاري پروسو جوړول

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

| د فعالیت عنوان | د اجراأتو اندازه | د پیل نېټه | د پای نېټه | مسئول دیپارټمنټ/دیپارټمنتونه |
|---|---|---|---|---|
| د کارکوونکو د تشکیلاتي، معاشونو او ظرفیتي جوړښتونو اصلاح او نوي کول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۲۰ | د بشري منابع آمریت |
| د بشري منابع آمریت د کاري پروسو الکترونیکي کول او په مرکز کې د الکترونیکي حاضرۍ لګول | | ۲۰۱۷ لومړی ربعه | د ۲۰۱۷ وروستی ربعه | د بشري منابع آمریت، د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت او د مالي ټینګښت د پروژې دفتر |
| د کارکوونکو د ځای ناستي په اړه پلان جوړونه (Succession Plan ) | | د ۲۰۱۷ لومړی ربعه | د ۲۰۱۷ وروستی ربعه | د بشري منابع آمریت |

- د کارکوونکو د تشکیلاتي، معاشونو او ظرفیتي جوړښتونو اصلاح او نوي کول: دا کړنې د لاندې دندو په اړه کې عملي کیږي:
  - د تشکیلاتي جوړښت ریفورم؛
  - د وړتیا (ظرفیت) او د کار اهل ته د دندې د سپارلو له پلوه د ډیپارټمنټونو ریفورم
  - د معاشونو په برخه کې ریفورم
  - د کاري پروسو ریفورم
- د بشري منابع آمریت د کاري پروسو الکترونیکي کول او په مرکز کې د الکترونیکي حاضرۍ لګول: دا کړنې لاندې دندې رانغاړي:
  - د (ګمارنې، تقاعد، سوانح، حاضرۍ، امتیازونو، روزنو، د کړنو د ارزونې) په ګډون د بشري منابع د کاري پروسو د بریښنایي کولو مرحله یي تطبیق
  - د الکترونیکي حاضرۍ د سیستم لګول او فعالول
- د کارکوونکو د ځای ناستي په اړه پلان جوړونه (Succession Plan)
  - د کارکوونکو د ځای ناستي پالیسۍ (Succession Plan) ترتیبول
  - د روزنیز مرکز سره په همغږۍ کې د اړوندو روزنیزو پروګرامونو د پلان ترتیبول

**۲. د کارکوونکو ظرفیت جوړونه، ارتقاء او وده**

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

| د فعالیت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پیل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډیپارټمنټ/ډیپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|
| په بیلابیلو بڼو د روزنیزو پروګرامونو پیاوړتیا او پراختیا (په آنلاین بڼه، کارکوونکو ته د تحصیلي زمینو برابرول) او د تخصصي پروګرامونو پراختیا په تېره بیا حرفه یي مدیریت (Professional Leadership) | | ۲۰۱۷ | ۲۰۲۰ | د بشري منابع آمریت او د مالي ټینګښت د پروژې دفتر |
| له نورو مرکزي بانکونو او د داخلي او بهرنې روزنیزو مرکزونو سره د اړیکو ټینګول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۲۰ | د بشري منابع آمریت |

- په بيلابيلو بڼو د روزنيزو پروګرامونو پياوړتيا او پراختيا (په آنلاين بڼه، د کارکوونکو لپاره د تحصيلي زمينو برابرول) او د تخصصي پروګرامونو پراختيا په تېره بيا حرفه يي مديريت (Professional Leadership):
  - د ويب له لارې د روزنيزو پروګرامونو جوړول (هر ځای کې چې يې، ولولـه؛ پروګرام):
    * اړتيا: په هر وخت او هر ځای کې روزنيزو پروګرامونو ته د لاسرسی اسانتيا
    * وخت: د ۲۰۱۷ کال د جنوری له ۲۱ څخه د ۲۰۲۰ کال د ډيسمبر تر ۲۱ پورې
    * د تمې وړ پايله: د کارکوونکو د معياري وړتياوو د پام وړ لوړول؛
  - د هېواد دننه پوهنتونونو او انستيټوټونو سره د اړيکې ټينګول او د هېواد بهر د لوړو زده کړو د دوام لپاره له ليوالو کارکوونکو سره همکاري
    * اړتيا: د کارکوونکو د مسلکي پوهې د کچې د لوړولو لپاره د تحصيلي فرصتونو رامنځ ته کول؛
    * وخت: د ۲۰۱۷ کال د جنوری له لومړي نېټې څخه د ۲۰۲۰ کال د ډيسمبر تر پايه پورې؛
    * د تمې وړ پايله: په ملي او نړيواله کچه د معياري لوړو زده کړو د فرصتونو برابرول او په کار کې د پرمختګ لپاره د کارکوونکو د وړتياوو لوړول؛
  - د حرفه يي رهبری د پروګرامونو په مرسته پراختيا او وده:
    * اړتيا: د رهبری په کچه کارکوونکو ته د حرفه يي پروګرامونو جوړول او د اړوندو دندو په اړانه کې د راتلونکي رهبری د ځای ناستي ټاکل.
    * وخت: د ۲۰۱۷ کال د فبرورۍ له لومړۍ نيټې څخه د ۲۰۲۰ کال تر پايه پورې؛
    * د تمې وړ پايله: د مديريتي او رهبري وړتياوو لوړول، د رهبری په کچه ځای ناستي ته د کارکوونکو چمتو کول؛
- د نورو مرکزي بانکونو او داخلي او بهرنيو روزنيزو مرکزونو سره د اړيکو ټينګول:
  - د نورو مرکزي بانکونو او کورنيو او بهرنيو روزنيزو انسټيټوټونو سره د اړيکې ټينګول.
    * اړتيا: د مرکزي بانکونو او د نړيوالو روزنيزو مرکزونو له لارې د تخنيکي او مسلکي روزنيزو فرصتونو رامنځ ته کول
    * وخت: د ۲۰۱۷ کال د فبرورۍ لومړي نېټې څخه د ۲۰۲۰ کال د ډيسمبر تر ۳۱ پورې.
    * د تمې وړ پايله: د کارکوونکو د پرمختګ لپاره د نړيواله معياري روزنيزو فرصتونو برابرول، د افغانستان بانک او د نړۍ د

مرکزي بانکونو ترمنځ د همکارۍ او همغږۍ رامنځ ته کول او له راستنیدو وروسته نورو کارکوونکو سره د روزنیزو زده کړو شریکول.

- د هېواد دننه له روزنیزو مرکزونو سره د اړیکو ټینګول.

* اړتیا: د کورني روزنیزو مرکزونو له لارې د افغانستان بانک د کارکوونکو لپاره د تخنیکي او مسلکي روزنیزو فرصتونو برابرول.

- وخت: د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ له لومړۍ نیټې څخه د ۲۰۲۰ کال تر پایه پورې.
- د تمې وړ پایله: د مالي او تخنیکي همکاریو د جلبولو او د لګښتونو د راکمولو لپاره د هوکړې لیکونو لاسلیک کول.

## ۳. له کارکوونکو سره د اړیکو ښه والی/ د افغانستان بانک د کارکوونکو روغتیا او خوندیتوب

د دې موخې اړوندې کړنې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

| د فعالیت عنوان | د اجرااتو اندازه | د پیل نېټه | د پای نېټه | مسئول ډیپارټمنټ/ډیپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|
| د کارکوونکو د روغتیا لپاره د بیمې د میکانیزم جوړول | | د ۲۰۱۷ لومړۍ ربعه | د ۲۰۱۷ وروستۍ ربعه | د بشري منابع آمریت |
| د کارکوونکو لپاره د مناسبه ورزشي فرصتونو برابرول | | ۲۰۱۷ | ۲۰۲۰ | د بشري منابع آمریت او د تدارکاتو آمریت |
| د کارکوونکو لپاره د هڅوونکي پروګرامونو په لاره اچول (غوره کارکوونکو ته د ډالیو ورکول) | | ۲۰۱۷ | ۲۰۲۰ | د بشري منابع آمریت |

- د کارکوونکو د روغتیا لپاره د بیمې د میکانیزم جوړول:
  - د روغتیایي بیمې د طرحې او خدمتونو په اړه د پوهاوي د کچې د لوړولو لپاره د ورکشاپونو جوړول
  - د (نظر سنجۍ) سروې په لاره اچول او په اړه یې عامل پلاوي او د افغانستان بانک عالي شورا غونډې ته د راپور لیږل څو د کارکوونکو د روغتیایي بیمې په اړه وروستي تصمیمونه ونیول شي
  - د تدارکاتو له قانون سره سم د کارکوونکو د روغتیایي بیمې د تطبیق لپاره د تدارکاتي بهیر اجراء کول
- د کارکوونکو لپاره د مناسبه ورزشي

فرصتونو جوړول:

- د کارکوونکو د سالمه سرګرمی او د ورزشي فرصتونو د برابرولو لپاره د کارکوونکو د روزنې د مرکز په محوطه کې د اندام د ښکلا کلب جوړول او تقویه کول.
- د تمرینونو او ورزشي سیالیو لپاره د بانک بهر ورزشي لوبغالو څخه په ګټې اخیستنې سره د افغانستان بانک د فوټبال د ډلې پیاوړي کول.
- د ورزش لپاره د وړ او تکړه وګړو ټاکل او روزل.
- د تمریناتو اجراء کول، د وړ ورزشکارانو هڅول.
- د افغانستان بانک د کریکټ ټیم د جوړولو د شرایطو څېړل.
- د کارکوونکو لپاره د هڅوونکي پروګرامونو په لاره اچول (د غوره کارکوونکو لپاره د ډالیو ورکول): دا فعالیت د کارکوونکو د کلني ارزونې له مخې د غوره کارکوونکو پېژندلو او د (ستاینلیک، د مننې لیک، بخششي معاشونو او داسې نورو) په ورکولو سره تطبیق کیږي.
- د کارکوونکو د کلني ډالیو د ورکولو


لپاره د پروګرامونو جوړول

- د میاشتې د غوره کارکوونکي د پروګرامونو تنظیمول
- د کارکوونکو د هڅولو لپاره د بیلابیلو غونډو جوړول


## XII. د ملپاړو لړليک

د افغانستان بانك شعبو او ادارو د ټاکل شویو موخو د ترلاسه کولو او د بانک په دوېم څلور کلن ستراتيژيک پلان کې د درج شویو کړنو د تطبيقولو لپاره خپلې کړنې د کاري پلانونو په اړانه کې تنظيم کړي دي. لاندې د هر ډيپارټمنټ د عمل پلان ضميمه شوی دی:


### لومړی ملپاړه: د پولي سياست آمريت کاري پلان




## دوېمه ملپاڼه: د مالي چارو د څارنې آمريت کاري پلان





## درېمه ملپاڼه: د بازار عمليات آمريت کاري پلان




## څلورمه ملپاته: د خطرونو د اداري د مدیریت کاري پلان





## پنځمه ملپاته: د اداینو آمریت کاري پلان




## شپږمه ملپاڼه: د بشري منابع آمریت کاري پلان





## اوومه ملپاڼه: د ټولو ناظر د اداري کاري پلان



## اتمه ملپاڼه: د حقوقي مشاوریت د دفتر کاري پلان





## نهمه ملپاڼه: د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت کاري پلان




## لسمه ملپاڼه: د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت کاري پلان





## یوولسمه ملپاڼه: د فنتراکا دفتر کاري پلان




## دولسمه ملپاټه: د افغان امانتونو د بيمې د اداري کاري پلان




## دیارلسمه ملپاټه: د اسنادو او اړيکو آمريت کاري پلان



## خوارلسمه ملپاته: د مالي خدمتونو د پراختیا آمریت کاري پلان



**پنځلسمه ملپانه: د افغانستان بانک د لومړي ستراتیژیک پلان د لاسته راوړنو او اجرااتو ارزونه**

د افغانستان بانک لومړنی پنځه کلن ستراتیژیک پلان (۱۳۸۸_۱۳۹۲) په ۱۳۸۸ کال کې تدوین؛ بشپړ او تطبیق شو. دې پلان ۵ بنسټیز اصول لرل چې هر اصل یې اړوندې موخې او کړنې رانغښتې. د دې پلان اصول لاندې په لنډه توګه وړاندې کیږي.

۱. د پولي سیاست د اغیزې پیاوړتیا؛
۲. د مالي مؤسسو پراختیا؛
۳. د ظرفیتونو د لوړونې پراختیا؛
۴. اغیزناکه معلومات؛
۵. د غوره او ښې اداري دودول؛

هر اصل بېلابېلې موخې او کړنې رانغاړي چې د تطبیق مسؤلیت یې د افغانستان بانک د مختلفو شعبو په غاړه ده.

د لومړي ستراتیژیک پلان د پلان شویو کړنو د اجرااتو د ارزونې په موخه، دا کړنې یادو شعبو ته تکثیر او پر بنسټ یې مسؤلې شعبې هر یو په جلا ډول د دې کړنو د تطبیق د څرنګوالي په اړه چې د دې شعبو د کړنو د پرمختګ د کچې سلنه، ستونزې او ننګونې رانغاړي، معلومات وړاندې کړي.

په لومړي ستراتیژیک پلان کې د پلان شویو کړنو د تطبیق په برخه کې د هرې شعبې اجراات لاندې په لنډه توګه تر څېړنې او ارزونې لاندې نیول کیږي.

**۱. په لومړي ستراتیژیک پلان کې د پولي سیاست آمریت د پلان شویو کړنو ارزونه:**

| فعالیت | د اجرااتو اندازه | د پرمختګ کچه (٪) | ننګونې/ستونزې | کتنې | مسئول ډیپارټمنټ /ډیپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|---|
| د اقتصادي پدیدو د محاسبې د کوچني موډل ترتیبول | د موډل د ازمایښت لپاره د طرحې جوړول | ۱۰۰٪ | د معتبره او په خپل وخت د شمېرو نه شتون | موډل طرحه او ازمایښت شوی خو په خپل وخت د شمېرو د نه شتون له امله ښې پایلې تر لاسه شوې نه دي | د پولي سیاست آمریت |
| د سیالیت د وړاندوینې لپاره د مناسب موډل ترتیبول | د سیالیت د وړاند وینې موډل | ۱۰۰٪ | له مالي او بهرني سکتور څخه د کره او په خپل وخت شمېرو نه شتونه | موډل جوړ شوی خو د لیږد په میکانیزم (Transmission Mechanist) کې د محدودیت له امله د پولي سیاست په تطبیق کې په لازمه توګه نه کارول کیږي. | د پولي سیاست آمریت او د بازار عملیات آمریت |
| د موډل لپاره د ژورو بنسټیزو پارامترونو اټکلول | د ژورو بنسټیزه پارامترونو اټکلول | ۰٪ | د اړتیا وړ متخصص او د شمېرو د معلوماتو نه شتون | | د پولي سیاست آمریت |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| په ربعواره توګه د سکټوري شمېرو راټولول او د مهمو ارتباطي اړيکو اټکلول: د پيسو تقاضا، بانګه اچونه، د صادراتو او وارداتو تقاضا | د معلوماتو راټولول او د سروې ګانو ترسره کول او د جوړښتي انډول اټکلول | ۰٪ | په دې برخه کې د اړتيا وړ متخصصينو او د شمېرو د معلوماتو نه شتون | | د پولي سياست آمريت |
| د احصائيې، د کمپيوټري موډل جوړوني او د اقتصادي پديدو د سنجش په برخه کې د پروګرامونو په لاره اچول | د روزل شويو کارکوونکو شمېر | ۵۰٪ | په پرسونل او کارکوونکو کې بدلون | | د پولي سياست آمريت |
| عامه خلکو او د بانکوالۍ سکټور ته د ثانوي بازار د معاملو په اړه د مقرراتو ابلاغول | په ثانوي بازار کې د ګډون کوونکو شمېر | ۱۰۰٪ | | | د پولي سياست آمريت او د اسنادو او اړيکو لوی آمريت |
| د پولي سياست د غير مستقيمو ارزونو له لارې د پولي سياست پلي کول | د يوې ورځې د پور په اسانتيا کې د معاملو کچه، الزامي زېرمې او په دې برخه کې لازمه اقدامات | ۱۰۰٪ | | | د پولي سياست آمريت او د بازار عمليات آمريت |
| د بيه لرونکو پاڼو د بيا پېرېدلو د تړونونو هڅونه او د هغه برعکس | د بيا پېرېدلو د معاملو شمېر | ۹۰٪ | | | د پولي سياست آمريت او د بازار عمليات آمريت او د اسنادو او اړيکو آمريت |
| د ثانوي بازارونو د معاملو او بيا پېرېدلو په اړه د ربعواره تحليلي راپوروټو خپرول | په وخت د خپاره شويو راپوروټو شمېر | ۱۰۰٪ | | | د پولي سياست آمريت |
| د مهمو او عمده خپرونو (کلنۍ او ربعواره اقتصادي او احصائيوي راپوروټو، د انفلاسيون راپور، د بانکوالۍ د سکټور د ارزونې راپور) په وخت سره چمتو کول | د يادو راپوروټو شمېر | ۱۰۰٪ | | | د پولي سياست آمريت |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د ګمارنې، اسمي مزد، د شرکتونو پور، د کورنۍ پور، جايدادونو او د ودانيزو کارونو د بيې د شاخصونو او د سوداګرۍ د اعتبار په اړه د معلوماتو او شمېرو د راټولولو په موخه د سروې ګانو په لاره اچول | | ۰٪ | د سروې ګانو د ترسره کولو په موخه د مالي امکاناتو او کافي کارکوونکو نه شتون | | د پولي سياست آمريت |
| د اقتصادي پاليسيو د مسائلو په اړه د خلکو د پوهاوی په موخه د " اقتصادي پاليسيو د لړۍ" د خپرونو وېشل | د خپرونو شمېر | ۰٪ | | | د پولي سياست آمريت |
| د څېړنو د کيفيت ښه والي لپاره د اقتصادي او احصائيې د شمېرو د سنجونې په مسائلو کې د روزنيزو پروګرامونو جوړول | د روزل شويو کارکوونکو شمېر | ۴۰٪ | د کارکوونکو د روزنې لپاره د اقتصاد سنجونې د متخصص نه شتون | يو بهرني سلاکار ته چې په دې برخه کې بشپړ تخصص ولري، بنسټيزه اړتيا ليدل کيږي | د پولي سياست آمريت |

**د ارزونې پايله:**

په لومړي ستراتيژيک پلان کې د پولي سياست آمريت د ۱۳ بنسټيزو کړنو د تطبيق او عملي کولو مسئوليت په غاړه لري چې د دې آمريت د هر فعاليت په تطبيقولو کې د پرمختګ کچه مختلفه ده چې په اوسط ډول شاوخوا ۶۰ سلنه سنجش شوې ده.

**ستونزې او ننګونې**

الف ـ د تخنيکي امکاناتو لکه د اقتصاد سنجونې په برخه کې د ځانګړي پوستکالي(سافټ وير) نه شتون

ب ـ د څېنو اقتصادي سکتورونو په اړه د کره او په وخت شمېرو نه شتون

ج ـ د کارکوونکو د روزنې په موخه د اقتصاد سنجونې د متخصص نه شتون

د ـ د سروې ګانو د ترسره کولو لپاره د کافي کارکوونکو نه شتون او په کارکوونکو کې بدلون

ه ـ د څېنو کړنو په ځانګړې توګه سروېګانو د ترسره کولو په موخه د مالي امکاناتو نه شتون

**۲. په لومړي ستراتيژيک پلان کې د مالي چارو د څارنې آمريت د پلان شويو کړنو ارزونه:**

| فعاليت | د اجرااتو اندازه | د پرمختګ کچه (٪) | ننګونې/ستونزې | کتنې | مسئول ډيپارټمنټ /ډيپارټمنتونه |
|---|---|---|---|---|---|
| د اسلامي بانکوالۍ په اړه د تنظيماتي پاليسۍ چمتو کول | د تنظيماتي پاليسۍ وړاندې کول | ۹۰٪ | د وړ کارکوونکو کموالی، د لازمي منابع او مناسب کاري چاپيريال نه شتون | که چېرې د فعاليت؛ موخه د اسلامي بانکوالۍ لپاره د مقرراتو، لاربښودنو، پارامترونو او محصولاتو تدوينول وي، د ۱۳۹۴ ـ ۱۳۹۵ کلونو په اوږدو کې چې شمېر يې ۴۶ موردو ته رسيده، چمتو شوي دي. | د مالي چارو د څارنې آمريت |

**د ارزونې پايله:**

په لومړي ستراتيژيک پلان کې د مالي چارو د څارنې لوی آمريت يوازې د يو بنسټيز فعاليت د تطبيق او عملي کولو مسئول دی چې په ياد فعاليت کې د پرمختګ کچه شاوخوا ۹۰ سلنه سنجش شوې ده. د دې د آمريت د راپور پر بنسټ، که چېرې د اسلامي بانکوالۍ په برخه کې د تنظيماتي پاليسۍ موخه اسلامي بانکوالۍ لپاره د مقرراتو، لاربښودنو، پارامترونو او محصولاتو تدوين وي دا فعاليت د ۱۳۹۴ـ ۱۳۹۵ کلونو په اوږدو کې تطبيق شوی دی.

**ستونزې او ننګونې**

الف ـ د وړ او متخصصو کارکوونکو کمښت

ب ـ په کافي توګه د اړتيا وړ مالي منابعو نه شتون

ج ـ د مناسب کاري چاپيريال نه شتون چې په هغه کې کارکوونکي وکړای شي خپلې دندې په سمه توګه ترسره کړي

### ۳. په لومړي ستراتیژیک پلان کې د بازار عملیات آمریت د پلان شویو کړنو ارزونه:

| فعالیت | د اجرااتو اندازه | د پرمختګ کچه (٪) | ننګونې/ستونزې | کتنې | مسئول ډیپارټمنټ /ډیپارټمنتونه |
|---|---|---|---|---|---|
| د ثانوي سوداګرۍ (معاملو)، د بیا پیرېدلو د تړونونو او د هغه برعکس د دودیدو له لارې په پانګه ایزه پور پاڼو (اسنادو) کې د پانګونې لوړول | په ثانوي بازار، د بیا پیرېدلو په تړونونو او د هغه په برعکس کې د سوداګرۍ کچه | ۹۰٪ | له هغه ځایه چې د افغانستان بانک د بیه لرونکو پاڼو لپاره ثانوي بازار د لومړي ځل لپاره وپیژندل شو. دا بازار یو اندازه زیاتې پوهاوي ته د قانوني او عملیاتي اړانې له پلوه اړتیا لري. | د ثانوي بازار د جوړیدو لپاره قانوني اړانه ترتیب شوې ده. عالي شورا په پانګه ایزه پاڼو کې د سوداګرۍ مقررات تائید کړي دي. له پیله څخه تر اوسه پورې په ثانوي بازار کې شاوخوا ۹ معاملې ترسره شوې دي، خو د repos او reverse معاملې نه دي ترسره شوې. د دې لامل چې ولې د دې ډول معاملو شمېر زیات نه دی، دا دی چې بانکونو د خپل Outstanding Securities پانګه اچونه نه ده کړې. | د بازار عملیات او د اسناد او اړیکو آمریتونه |
| د امانتونو د مرکزي سیستم جوړول | د امانتونو د مرکزي سیستم د خدمتونو کارول | ۸۰٪ | د معیاري بیه لرونکو پاڼو د امانتونو د یو مرکزي سیستم نه شتون چې په هغه کې خدمتونه په اتوماتیک ډول ترسره شي | د افغانستان بانک د ثانوي بازار له پیژندنې راپدېخوا د نړیواله پانګه ایزو پاڼو د معاملو لپاره د یو مرکزي امانت اینبودونکي په توګه عمل کوي. د پانګه ایزو معاملو د تسویې او ثبت چارې د بازار عملیات په مدیریت کې ترسره کیږي. | د بازار عملیات، د مالي خطرونو او د مالي چارو د څارنې آمریتونه |
| د بیه لرونکو اسنادو د شاخصونو تنظیمول | په بازار کې د بیه لرونکو پاڼو د سیالیت زیاتول | ۱۰۰٪ | ننګونې کمې وې | د نقدینه ګۍ د زیاتولو په موخه پنځه ډوله نوي پانګه ایزې پاڼې له ۷ ورځنې، ۲۸ ورځنې، ۹۱ ورځنې، ۱۸۲ ورځنۍ او ۳۶۴ ورځنۍ سررسیدونو سره جوړې شوې دي. همدا ډول Outstanding Stock له ۹ میلیارده څخه ۳۹ میلیارده افغانۍ ته زیات شوی دی | د بازار عملیات، د مالي خطرونو او د مالي چارو د څارنې آمریتونه |

**د ارزونې پایله:**

په لومړي ستراتیژیک پلان کې د بازار عملیات لوی آمریت د ۳ بنسټیزو کړنو د تطبیق او عملي کولو مسئولیت په غاړه درلوده چې د دې آمریت د هر فعالیت په تطبیقولو کې د پرمختګ کچه مختلفه ده چې په اوسط ډول شاوخوا ۹۰ سلنه سنجش شوې ده.

**ستونزې او ننګونې**

الف ـ د ثانوي بازار نه پرمختیا او د دې ډول بازار په اړه د پوهاوی د کچې ټیټوالی

ب ـ د بیه لرونکو پاڼو د امانتونو د مرکزي سیستم نه شتون (Central Securities Depository)

**۴. په لومړي ستراتیژیک پلان کې د ادارينو آمریت د پلان شویو کړنو ارزونه:**

| فعالیت | د اجرااتو اندازه | د پرمختګ کچه (٪) | ننګونې/ستونزې | کتنې | مسئول ډیپارټمنټ /ډیپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|---|
| د کوچنیو حسابونو د تصفیې د یو داسې سیستم جوړول چې تمرکز يې د پیسو په بریښنایي لیږد وي | د پیسو د بریښنایي لیږد سیستم (جزيي) | ۱۰۰ سلنه د سیستم نښلول | فعال سیستم، فعالیت ته چمتو دی | د بانکونو د تصفیوي حسابونو د هغو کوچنیو معاملو ترسره کول چې د افغانستان بانک سره يې پرانیستلي دي | د ادارينوآمریت |
| د انفرادي پیسو د هم مهاله تسویې د سیستم جوړول | د انفرادي پیسو د هم مهاله تسویې د معاملې وخت | ۲۰٪ | داسې عمده ستونزې نه تر سترګو کیږي چې په پروژه کې د کار د ترسره کولو خنډ وګرځي، | د دې سیستم موخه د ۲۰۱۸ کال تر نیمايي پورې په الکترونیکي توګه او په نړیواله معیارونو سره د عصري بانکوالی رامنځ ته کول او پراختیا ده | د ادارينوآمریت |
| د ادارينو د سیستم په اړه په هرو دريو میاشتو کې د معلوماتو راټولول، څېړل او خپرول. | د سوداګریزو بانکونو د ادارينزه معاملو د ترسره کولو په اړه د معلوماتو راټولول | په دوامداره توګه ۱۰۰٪ | شتون نه لري | دوامداره راپور ورکونه | د ادارينوآمریت، د اسناد او اړیکو آمریت |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د هېواد په مرکزونو کې د چکونو د تسویې لپاره د الکترونيکي سیستم جوړول | په اتومات ډول د چکونو تصفیه | ۲۰٪ | عمده ستونزه شتون نه لري | د ۲۰۱۸ کال په نیمایي کې سیستم فعالیږي | د ادایـنـوآمریت |
| د مالیې وزارت د الکترونیکي معاملو د تصفیې د اجراء کولو لپاره د پروژې تطبیقول | د دولتـي معاشونو او ورکړو د اجراء کولو لپاره د سیستم نبئلول | ۱۰۰٪ | کومه جدي ستونزه نه تر سترګو کیږي | د سوداګریزو بانکونو د نږیواله ادایـنو سیستم له لارې د مالیې وزارت د معاملو له عادي بودجې څخه د معاشونو او دولتي ورکړو اجراء کول نهایي پړاو ته رسیدلي او د ۲۰۱۷ تر پای پورې به په پرمختیایي اولګښتي بودجې کې جریان ولري. | د ادایـنـوآمریت |

**د ارزونې پایله:**

په لومړي ستراتیژیک پلان کې د اداینو آمریت د ۵ بنسټیزو کړنو د تطبیق او عملي کولو مسئولیت درلوده چې د دې آمریت د هر فعالیت په تطبیقولو کې د پرمختګ کچه مختلفه ده چې په اوسط ډول شاوخوا ۶۸ سلنه سنجش شوې ده.

**ستونزې او ننګونې**

دې آمریت هیڅ ډول ستونزه او ننګونه یاده کړې نه دی.

**۵. په لومړي ستراتیژیک پلان کې د اسنادو او اړیکو آمریت د پلان شویو کړنو ارزونه**

| فعالیت | د اجرااتو اندازه | د پرمختګ کچه (٪) | ننګونې/ستونزې | کتنې | مسئول ډیپارټمنټ /ډیپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|---|
| د پولي وضعیت په اړه د خلکو د پوهاوي لپاره د ربعوارو مطبوعاتي کنفرانسونو جوړول | د هغو شریکانو شمېر چې په دې برخه کې یې پوهاوی ترلاسه کړی | ۲۵٪ | په پام کې ؤ چې هر کال څلور خله ترسره شي، خو د اړونده دفتر لخوا د معلوماتو د نه سپارلو پر بنسټ د اسنادو او اړیکو آمریت د حمایوي دفتر په توګه ونشو کولای چې دا کار په دوامداره توګه ترسره کړي. | | د اسنادو او اړیکو آمریت |
| د عامه پوهاوي او تبلیغاتو په اړه د سیمینارونو او ورکشاپونو په لاره اچول | د هغو شریکانو شمېر چې پوهاوی یې ترلاسه کړی دی | ۲۵٪ | د کابل بانک په قضیه کې د مشر تابه پلاوي د بوختیا له کبله یوازې یو مورد ترسره شوی دی | | د اسناد او اړیکو آمریت |
| د عامه پوهاوي د پروګرامونو په لاره اچول | د نویو طرحو په اړه تبلیغاتي پروګرامونه او معلوماتي رسالې | ۱۰٪ | په دې اړه د اړوندو آمریتونو لخوا هیڅ ډول رسمي غوښتنلیک وړاندې شوی نه دی، خو دې آمریت نوښتونه او نوې طرحې د مشرتابه پلاوي لخوا منظور کړې دي او د بانک د مجلې او د افغانستان بانک د نورو خپرونو له لارې یې خپرې کړې دي. | | د اسناد او اړیکو آمریت |
| مهمو ذینفع مراجعو لپاره د پیسو او پانګې د بازارونو د جوړیدو په اړه د تبلیغاتي او پوهاوي د پروګرامونو تنظیم او په لاره اچول | ذینفع مراجعې په سمه توګه خبرې شوې دي | ٪۰ | په دې اړه د اسناد او اړیکو آمریت، د بازار عملیات آمریت لخوا هیڅ نه دي ترلاسه کړې چې د هغه په رڼا کې یې د عامه پوهاوي پروګرامونه په لاره اچولي وای. | | د اسناد او اړیکو آمریت |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د یو لوړ کیفیته داخلي او بهرنی ویب پاڼې درلودل | په ویب پاڼه کې د نویو معلوماتو کچه | ۱۰۰٪ | د ویب پاڼې د بډاینې په برخه کې د اړوندو شعبو د همکارۍ ټیټه کچه یوه ستونزه ګڼل کیږي | داخلي او بهرنی ویب پاڼې جوړې شوي دي | د اسناد او اړیکو آمریت |
| په کور دننه او نړیواله کچه له سترو پالیسي جوړونکو سره د اړیکو په موخه د منظمو ټولنو جوړول | د مطبوعاتي کنفرانسونو، مطبوعاتي غونډو، ورکشاپونو او سمینارونو شمېر | ۱۰٪ | د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي له استاذانو سره د بحث او د نظر د تبادلې لپاره دوه غونډې جوړې شوي دي | | د اسناد او اړیکو آمریت |
| د رسمي راپورونو ( د پیسو د پرسوب راپورونه، درې میاشتنی خبرپاڼې، کلني راپورونه، د پولي سیاست د کمیټې راپور او نورو راپورونو) د خپرولو لپار د جنتری جوړول | د هغه ضرب الاجلونو شمېر چې رعایت شوي دي | ۱۰۰٪ | | | د اسناد او اړیکو آمریت او د ریاست د مقام دفتر |

**د ارزونې پایله:**

په لومړي ستراتیژیک پلان کې د اسنادو او اړیکو آمریت په ټولیزه توګه د ۷ بنسټیزو فعالیتونو د تطبیق او عملي کولو مسئولیت په غاړه درلوده چې د دې آمریت د هر فعالیت په تطبیقولو کې د پرمختګ کچه مختلفه وه چې په اوسط ډول شاوخو ۳۸.۵ سلنه سنجش شوې ده.

**ستونزې او ننګونې**

الف ـ د ځینو کړنو په ترسره کولو کې د اړوندو شعبو تر منځ د لازمې همغږۍ نه شتون

ب ـ د کابل بانک د کړکیچ په موضوع کې د بوختیا له امله د عامل پلاوي نا کافي همکاري

ج ـ د بانک د شعبو لخوا د معلوماتو او اطلاعاتو په شریکولو کې ځنډ

**۶. په لومړي ستراتیژیک پلان کې د ریاست د مقام دفتر د پلان شویو کړنو ارزونه:**

| فعالیت | د اجراآتو اندازه | د پرمختګ کچه (٪) | ننګونې/ستونزې | کتنې | مسئول دیپارټمنټ /دیپارټمنټونه |
|---|---|---|---|---|---|
| د کاري ټیمونو د جوړولو، د واک او مسئولیت د سپارلو او د څانګړو او خپلواکه کمیټو د تأسیسولو په برخو کې د ارشد او متوسطه کچو د اداري کارکوونکو روزنه | د روزنیزو پروګرامونو شمېر | ۰٪ | د اړوندو روزنیزو پروګرامونو نه شتون | د روزنیزو پروګرامونو جوړولو ته اړتیا | د ریاست د مقام دفتر او د بشري منابع آمریت |
| په منظمه توګه د بېلابېلو کچو کارکوونکو د تیرو کړنو ارزونه | د کړنو ارزونه لږ تر لږه په کال کې دوه ځلې او د کارکوونکو شمېر | ۰٪ | | په کلني ډول د ارزونې په فورم کې ترسره کیږي | د ریاست د مقام دفتر |
| د یو داسې ستراتیژیک پلان چمتو کول چې له مخې یې کلني کاري پلانونه او د بانک بودجه وټاکل شي او د بانک تولیزه بریالیتوب او په دې بریالیتوب کې د هر کارکوونکي د ونډې اندازه د ستراتیژیک پلان له مخې محاسبه شي. | د عالي شورا لخوا د ستراتیژیکو پلانونو ترتیبول او منظورول<br>د عالي شورا لخوا د هرې اداري لپاره کلنی کاري پلان ترتیب او منظور شوی<br>د اجراآتو ارزونه ترسره شوي | ۵۰٪ | | د اړتیا په صورت کې اغیزناکه همکاري | د ریاست د مقام دفتر |
| د ستراتیژیک پلان د تطبیقولو په برخه کې د کلني پرمختګ ارزونه | د ستراتیژیک پلان د ترتیبولو په غونډو کې ګډون | ۰٪ | | د غوښتنلیک په صورت کې اجراآت ترسره کیږي | د ریاست د مقام دفتر |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د افغانستان بانک د اصلي ارزښتونو او په بانك کې د نیک چلند د معیارونو ترتیبول او خپرول | د ارزښتونو د لارښودنې د کتاب خپرول په بشپړه توګه د ربښتینوالۍ او د اخلاقي اصولو ۱۰۰ سلنه په پام کې نیول د اصلي ارزښتونو د مکافاتو سیستم د بنسټیزو ارزښتونو د دودولو په موخه د پوسترونو، ټې شرټونو او قلمونو وېشل | ۰٪ | | په ورځنیو چارو کې اصلي ارزښتونه او نورو اخلاقي معیارونو مراعت او د تاکید او تبلیغ لاندې نیول کیږي. | د ریاست د مقام دفتر |
| د عالي شورا د ماموریت کتنه او خپرول | د عالي شورا د ماموریت سندونه | ۵۰٪ | | د حقوقي مشاوریت د دفتر په همغږۍ او همکارۍ سره د عالي شورا د غونډې د جوړیدو په برخه کې همکاري | د ریاست د مقام دفتر او حقوقي مشاورویت |
| د عالي شورا د اجرااتو د سنجش په موخه کلنۍ ارزونه | د عالي شورا کلنۍ ارزونه | ۸۰٪ | | د عالي شورا د اجرااتو څیړنه او سنجش د بېلابېلو شعبو په همکارۍ ترسره کیږي | د ریاست د مقام دفتر او حقوقي مشاورویت |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| عالي شورا بايد ګډه ستراتيژۍ، مهم عملياتي پلانونو، د خطرونو پاليسي، کلنۍ بودجه او د سوداګرۍ پلان وارزوي، تصويب يې کړي او په اړه يې لارښوونې وکړي | د عالي شورا د غونډې راپور | ۰٪ | | د غوښتنليک په صورت کې اجراات ترسره کيږي | د رياست د مقام دفتر او حقوقي مشاورويت |
| عالي شورا بايد د بانک مهم کارکوونکي وټاکي، د هغوي څارنه وکړي او د اړتيا سره سم يې بدل کړي او د کارکوونکو د ځايناستي د پلان د ترتيبولو څارنه وکړي. | د عالي شورا د غونډو راپورونه د عالي شورا د معاشونو پلان د مهمو کارکوونکو د ځايناستي د پلان ترتيبول | ۵۰٪ | | | د رياست د مقام دفتر او حقوقي مشاورويت |
| عالي شورا بايد د چارواکو او د عالي شورا د غړو، د بهرنيو سلاکارانو او د خدمتونو د نورو وړاندې کوونکو ترمنځ د ګټو د باالقوه تضاد او همدا ډول د بانک له شتمنۍ او د اړوندو شريکانو له معاملو څخه د ناسمې ګټې اخيستنې د څارنې مسئوليت پر غاړه لري | د عالي شورا د غونډو راپورونه، له عالي شورا سره د دې شورا د غړو د شتمنيو ثبتول او ټولو کارکوونکو ته بخششي يا بونس ورکول | ۱۰۰٪ | | د متابعت او تطبيق وړ دی | د رياست د مقام دفتر او حقوقي مشاورويت |
| د ټولنې زيانمنو او بې وزله خلکو لکه؛ يتيمانو، مجاهدينو، کونډو، رغتونونو او ښوونځيو سره د مناسبو پروګرامونو د جوړولو له لارې د ګډ ټولنيز مسئوليت د ترسره کولو اورد مهاله ژمنتيا ښودل | د ملاتړ درلودونکو پروګرامونو شمېر | ۰٪ | | په کاري پلان کې کوم پروګرام نه شته | د رياست د مقام دفتر |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د بانک د ګډ ټولنیز مسئولیت لپاره د پالیسی او د عملیاتي پلان تنظیمول | د بانک د مشر تابه پلاوي لخوا د ګډ ټولنیز مسئولیت له صندوق څخه د بلاعوضو او مستقیمو مرستو ورکړه | ۰٪ | | په تیرو دوو کلونو کې ترسره شوې نه ده | د ریاست د مقام دفتر |
| د بانک په ګډو ټولنیزو پروګرامونو کې د بانک د کارکوونکو او لوړ پوړو چارواکو له فعاله ګډون څخه ډاډ ترلاسه کول | د هغو کارکوونکو شمېر چې په مستقیما یا غیر مستقیمه توګه په دې پروګرامونو کې برخه لري | ۸۰٪ | | د بانک په ډېری ګډو ټولنیزو پروګرامونو کې ګډون شوی دی | د ریاست د مقام دفتر |

**د ارزونې پایله:**

په لومړي ستراتیژیک پلان کې د ریاست د مقام دفتر د ۱۳ بنسټیزو کړنو د تطبیق او عملي کولو مسئول دی چې د دې آمریت د هر فعالیت په تطبیقولو کې د پرمختګ کچه مختلفه ده چې په اوسط ډول شاوخوا ۳۱.۵ سلنه محاسبه شوې ده.

**ستونزې او ننګونې**

الف ـ د اړوندو شعبو لخوا د ځینو کړنو د عملي کولو لپاره د غوښتنلیک نه شتون

**۷. په لومړي ستراتيژيک پلان کې حقوقي مشاوريت د دفتر د پلان شويو کړنو ارزونه:**

| فعاليت | د اجرااتو اندازه | د پرمختګ کچه (٪) | ننګونې/ستونزې | کتنې | مسئول ډيپارټمنټ |
|---|---|---|---|---|---|
| په ثانوي بازارونو کې د معاملو لپاره د مقرراتو وضع کول | د آزاد بازار د کړنو کچه | ۱۰۰٪ | | ياده مقرره په ۲۰۰۸ کال کې ترتيب او نافذ شوې ده. | حقوقي مشاوريت |
| د ادايـنـو د سيستمونو د قوانينو په ځانګړې توګه د پيسو الکترونيکي ليږد، د انټرنټ له لارې د سوداګرۍ، شهود او براتونو د قانون جوړول او سمون | د قوانينو او مقررو د مسودو وړاندې کول | ۷۰٪ | | د پيسو د بريښنايي ليږد مقرره د افغانستان بانک د عالي شورا د ۳۰ ګڼې ۱۳۹۴/۸/۱۰ نېټې تصويب پر بنسټ نافذ او د اجراء وړ ده. د برات د سند په اړه د معاملې وړ اسنادو په قانون کې يادونه شوې اوصراحت لري. د شهود او برات قانون به په راتلونکي کې طرح شي. | حقوقي مشاوريت |
| د مالي سکتور د قوانينو او لوايحو د تصويب او نوي کولو اسانتيا | د کوچنيو پورونو د مؤسسو قانون، د اسلامي بانکدارۍ قانون او د مالي مؤسسو قانون | ۱۰۰٪ | | د مالي مؤسسو او کوچنيو پورونو مقرره د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا تصويب او نافذ شوې ده | حقوقي مشاوريت |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د کوچنیو پورونو د مؤسسو، د اسلامي بانکوالی او مالي مؤسسو لپاره د نویو مقررو او لارښودنو تصویبول او په رسمي جریده کې د هغه خپرول | په رسمي جریده کې ثبت شوي مقررات | ۱۰۰٪ | | د امانتونو او کوچنیو پورونو د مؤسسو جواز ورکوني، تنظیم او څارنه د تیرو کلونو په اوږد کې ترتیب او نافذ شوې ده د اسلامي بانکداری مقررات او پالیسی ترتیب شوي دي. د افغانستان بانک مقررات د بانک د عالي شورا مصوبه ده او په رسمي جریده کې نه خپریږي. | حقوقي مشاوریت |
| د تقنیني اسنادو د تسوید په برخه کې د افغانستان بانک د ظرفیت لوړول | د تقنیني اسنادو د تسوید د کورس بشپړول | ۵۰٪ | | د افغانستان بانک د بشري منابع ( روزنیز مرکز) لخوا په دې برخه کې جدي اقدام شوی نه دی، د افغانستان بانک لخوا د تقنیني اسنادو د تسوید په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د قوانینو د تسوید شاوخوا ۵۰ سلنه کورسونه چمتو شوي دي خو بشپړ نه دي چې د زیاتو کورسونو جوړولو ته اړتیا لیدل کیږي. | حقوقي مشاوریت |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د تضمین او د پور د اجراء کولو په موخه د اغیزناکې اډانې جوړول | د تضمین او کریډیټ د ثبت د یو مرکزي سیستم جوړول | ۱۰۰٪ | | پلان د تیرو کلونو په اوږدو کې په بشپړه توګه تطبیق او د افغانستان بانک په تشکیل کې د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت جوړ شوی چې د اعتبارونو د ثبت د یو مرکزي سیستم درلودونکی دی. | حقوقي مشاوریت |
| د دولت په خزانه کې د صدور او معاملو لپاره د مقررو او لارښودونو چمتو کول | د پالیسي اډانه | ۰٪ | | تطبیق شوې نه ده | حقوقي مشاوریت، د مالي خطرونو آمریت |
| د اسلامي بانکوالی سیستم لپاره د پالیسي د اډانې او عملیاتي لارښودنو جوړول | پالیسي جوړه او تطبیق شوې ده | ۱۰۰٪ | | پلان په بشپړه توګه تطبیق شوی دی. د اسلامي بانکوالی پالیسي او لارښودنې ترتیب شوي دي. | حقوقي مشاوریت، د مالي خطرونو اداره او د مالي چارو څارنه |
| د صکوکو لپاره د پالیسي یا لارښود جوړول | پالیسي جوړه او تطبیق شوې ده | ۱۰۰٪ | | د صکوکو پالیسي ترتیب شوې ده | حقوقي مشاوریت، د مالي خطرونو آمریت او د مالي چارو څارنې آمریت |
| د موبایل له لارې بانکوالی (د نمایندګی پرته بانکوالی) لپاره د لارښود یا پالیسي جوړول | پالیسي جوړه او تطبیق شوې ده | ۱۰۰٪ | | اړونده پالیسي ترتیب شوې ده | حقوقي مشاوریت، د مالي خطرونو آمریت او د مالي چارو څارنې آمریت |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د افغانستان بانک د کارکوونکو د وضعیت د اړوندو لوایحو او مقررو نوي کول | د نوي شویو مقرراتو منظوري او تطبیقول | ۱۰۰٪ | | اړونده لوایح او مقرري ترتیب او تطبیق شوي دي | حقوقي مشاوریت |
| د بانک د کمیټو، د هغوي د دندو د لایحو، غړیتوب او پالسیي خېړنه | کاري کمیټې | ۰٪ | | هیڅ یو کمیټه تر اوسه پورې د دندو لایحه او پالیسي نه لري. | حقوقي مشاوریت او د بشري منابع آمریت |

**د ارزوني پایله:**

په لومړي ستراتیژیک پلان کې د حقوقي مشاوریت دفتر د ۱۲ بنسټیزو فعالیتونو د تطبیق او عملي کولو مسئولیت په غاړه درلوده چې د دې آمریت د هر فعالیت په تطبیقولو کې د پرمختګ کچه مختلفه ده چې په اوسط ډول شاوخوا ۷۶.۶ سلنه سنجش شوې ده.

**ستونزې او ننګوني**

الف ـ د افغانستان بانک لخوا د کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د تقنیني اسنادو د تسوید په برخه کې د قوانینو د تسوید د کورسونو کموالی.

ب ـ د افغانستان بانک کمیټو لپاره د دندو د لایحو نه شتون

**په لومړي ستراتیژیک پلان کې د درج شویو کړنو د پرمختګ د کچې لنډیز**

| شعبې | د هرې شعبې د کړنو ټولیز شمېر | د هرې شعبې د کړنو د پرمختګ اوسط |
|---|---|---|
| د اسنادو او اړیکو آمریت | ۷ | ۳۸.۵٪ |
| د ریاست د مقام دفتر | ۱۳ | ۳۱.۵ ٪ |
| د بازار عملیات آمریت | ۳ | ۹۰ ٪ |
| د ادراینو آمریت | ۵ | ۶۸٪ |
| د حقوقي مشاوریت دفتر | ۱۲ | ۷۶.۶٪ |
| د مالي چارو د څارنې آمریت | ۱ | ۹۰ ٪ |
| د پولي سیاست آمریت | ۱۳ | ۶۰ ٪ |
| *ټولیزه کړنې/ ټولیزه پرمختګ* | ۵۴ | ۶۴.۹٪ |

**د افغانستان بانک د لومړي ستراتیژیک پلان په پلي کولو کې د بېلابېلو شعبو د عمده ستونزو او ننګونو مټریکس**

| شعبې | د ځینو کړنو په ترسره کولو کې د شعبو ترمنځ د لازمي همغږۍ نه شتون | د اړوندو شعبو لخوا د ځینو کړنو د عملي کولو لپاره د غوښتنلیک نه ورلاندې کول | د کړنو د ترسره کولو لپاره د کافي مالي منابع نه شتون او د متخصص بشري ځواک کموالی | د کړنو په ترسره کولو کې د اړتیا وړ روزنو کموالی | د مناست کاري چاپیریال او دفتري امکاناتو، تجهیزاتو او کمپیوټري پروګرامونو نه شتون | د ځینو اقتصادي سکتورونو په اړه د کره او په وخت د شمېرو نه شتون |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د اسنادو او اړیکو آمریت | ۱ | ۱ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| د ریاست د مقام دفتر | ۰ | ۱ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| د بازار عملیات آمریت | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| د ادراینو آمریت | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| د حقوقي مشاوریت دفتر | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۰ | ۰ |
| د مالي چارو د څارنې آمریت | ۰ | ۰ | ۱ | ۱ | ۱ | ۰ |
| د پولي سیاست آمریت | ۱ | ۰ | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ |
| **ټولیزه موارد*** | **۲** | **۲** | **۲** | **۳** | **۲** | **۱** |

*د هغو مواردو شمېر چې د شعبو لخوا د ستونزو یا ننګونو په توګه یاد شوي دي.

د اسنادو او اړیکو لوی آمریت







د اسنادو او اړیکو لوی آمریت

www.facebook.com/AFGCentralbank
Da Afghanistan Bank-Google+
twitter.com/AFGCentralbank
info@dab.gov.af
Da Afghanistan Bank-Youtube
0093 0202104146